شیخ تقی الدین النبهانی

# تفکیر

د امت خپروني

کابل افغانستان

# د حزب التحریر له خپرونو څخه

لومړی عربي چاپ

۱۳۹۳هجري قمري د صفر ۸- ۱۹۷۳میلادي د مارچ۱۲

لومړی پښتو چاپ

۱۴۳۸ هجري قمري – ۲۰۱٦ میلادي

د امت خپرونې
کابل – افغانستان

info@ht-afghanistan.org
www.ht-afghanistan.org

# تر مطالعې وړاندې

دا کتاب چې ستاسو په لاسونو کې دی، له اصلي نسخې څخه، چې په عربي ژبه ده، ژباړل شوی دی. له دې امله چې کتاب ژباړلی شوی، ښايي د مولف د خبرو په رسولو کې ستونزې وي، نو هیله ده چې کمۍ او نیمګړتیاوې یې په پام کې ونه نیسۍ، د متن د کره والي او سمون لپاره اصلي نسخې ته مراجعه کولی شۍ.

# فهرست مطالب


عقل، فکر او عقلي بهير . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . ٤

د تفکير عقلي طريقه . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . ٢١

د تفکير ساينسي طريقه . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . ٢٥

د تفکير منطقي طريقه . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . ٤٢

د تفکير موضوعات . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . ٥١

لومړی. هستی - کائنات، انسان او ژوند . . . . . . . . . . . . . . . . ٦٠

دويم. معيشت. . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . ٦٦

درييم. حقايق . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . ٧٣

څلورم. موخې، اسلوبونه او وسايل . . . . . . . . . . . . . . . . . . . ٨١

سطحي، ژور او مستنير تفکير . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . ٩٣

په تفکير کې جديت . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . ١٠٠

تفکير په بدلون کې . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . ١٠٦

د تفکير سبکونه. . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . ١١٠

ادبي تفکير. . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . ١١١

عقلي تفکير . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . ١١٧

تشريعي تفکير . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . ١٢٧

سياسي تفکير . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . ١٣٣

وروستی وينا . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . ١٥٠

# عقل، فکر او عقلي بهير

له شک پرته چې انسان په مخلوقاتو کې تر ټولو غوره دی، حتی انسان د پرېښتو په پرتله هم زيات ارزښت او فضيلت لري. د انسان دا ارزښت او امتياز دده د عقل پر بنسټ ولاړ دی. ځکه همدا عقل دی چې د ده شان لوړوي او دی يې اشرف المخلوقات کړی. نو لازمه ده چې د عقل واقيعت وپېژندل شي او او پوه شو چې تفکير او د تفکير طريقه څه ده؟ ځکه هغه څه چې د انسان واقعي ارزښت وربانديې ولاړ دی؛ ثمر منځته راوړي چې ژوند او د انسان د ژوندي کېدو سبب کېږي، حتی ټول کاينات، د ټولو مخلوقاتو په ګډون، بې روحه شيزونه، نبات او حيوان ژوندی کوي.
علوم، فنون، ادبيات، فلسفه، فقه، لغت، پېژندنه ټول د عقل له پايلو او اغېزو او د تفکير له پايلې څخه ګټل کېږي. نو اړينه ده چې د انسان، ژوند او کايناتو د ښه درک لپاره وپوهېږو چې عقل څه دی؟ او په پايله کې، د تفکير واقعيت او د تفکير طريقه هم وپېژندل شي.
انسان په اوسني عصر کې عجيب پرمختګ کړی او دا کار د دې سبب شوی چې انسان زيات د عقل په اغېزو، پايلو او لاسته راوړنو بوخت شي، نه د هغه په واقعيت او همدا بهير د عقل د واقعيت له درک، تفکير او د تفکير له طريقې څخه د انسان د لرېوالي لامل شوی.
په تېر کې هڅې شوې دي چې د عقل واقعيت درک شي، د مسلمانانو له علماوو څخه نيولې تر غير مسلمانو پوهانو او حتی تر اوسني عصره پورې؛ خو هغوی د عقل د واقعيت له درک څخه عاجز پاتې شول. همدارنګه د تفکير د طريقې د څرګندونې لپاره هڅې وشوې، دا هڅې د تفکير د طريقې د ځينو اغېزو په حاصلولو بريالۍ شوې(په ځانګړې توګه د ساينسي لاسته راوړنو په باب)؛ خو بيا هم د تفکير د بهير له درک څخه عاجزې شوې. هغوی په ورته وخت کې د يو شمېر نورو د لاروړکۍ لامل شوې چې د ساينسي پرمختګونو په تعجب او ژور اغېز منلو يې د هغوی پيروي وکړه. په يوناني

عصر کې او هغه ډلې چې تر دوی وروسته صحنې ته راغلې، هڅه يې وکړه چې تفکير وپېژني؛ خو هغوی د تفکير پر ځای منطق ته ورسېدل او د هغه پر اساس يې ټاکلي افکار رامنځته کړل. پر دې سربېره د معرفت په حاصلولو کې د دوی دا کړنه د انحراف لامل شوه. په دې ترتيب منطق د دې پر ځای چې د دوی د ليدلوري مطابق د معرفت لپاره گټور او مرستندوی واقع شي؛ معرفت ته يې زيان ورساوه. ځينې خلک د تفکير د درک کولو په هڅه کې فلسفې ته ورسېدل او يا هغه څه چې «د حکمت محبت» بلل کېده او د ماورا طبيعي (له طبيعته ور هاخوا) په چاپېر له ژور تفکر څخه عبارت وو. پر دې اساس هغوی نوي بحثونه او جالبې پايلې لاسته راوړې، خو په پای کې له واقيعت او رښتيا څخه د دوی د لرې کېدو لامل شو. پايله داسې شوه چې عقل له حقيقت او واقيعت څخه لرې شو او خلک دا ډول د تفکير د درک له اصلي مسير څخه ووتل.
سمه ده چې په دې ډول کړنلاره به تفکير او د تفکير په طريقه کې تحقيق ونومول شي. ځکه دا کړنلاره د داسې پوهې او څېړنو سبب شوه چې د انسان په گټه وې، خو د تفکير له واقعيت سره يې اړيکه نه ده درلوده او نه هم پر خپل اصلي مسير وې. نو د فلسفې پر بنسټ دا کړنلاره د تفکير پر واقيعت يو څېړنيزه کړنلاره نه گڼل کېږي، بلکې داسې څېړنې دي چې د تفکير د پايلو او ثمرو پر محور څرخي. په ورته وخت کې يادې څېړنې د تفکير له اساليبو گڼل کېږي، نه د تفکير په واقيعت کې. نو دا سمه ده که وويل شي چې د تفکير د سمې طريقې د تر لاسه کولو لپاره زياتې څېړنې شوې دي، خو دا څېړنې د تفکير د پايلو او ثمرو په دايره کې محدودې پاتې شوې او د تفکير له واقيعت سره يې هېڅ اړيکه نه ده لرلې.
د دوی اصلي دليل چې تر اوسه يې د تفکير واقيعت او د تفکير طريقه درک کړې نه ده، دا دی چې څېړنکو تل هڅه کړې چې د عقل تر کره پېژندنې وړاندې پر تفکير څېړنه وکړي. حال دا چې په يقيني او جازمي توگه د عقل واقيعت له درک پرته شونې نه ده چې انسان تفکير او د تفکير طريقه په حقيقي او واقعي بڼه وپېژني؛ ځکه چې تفکير خپله د عقل يوه ثمره ده. علوم، فنون او د ثقافت نور ښاخونه د تفکير ثمره ده. نو اړينه ده چې په لومړي قدم کې د عقل واقيعت په قطعي او جازمه بڼه درک شي، وروسته

شونې ده چې د تفکیر او د تفکیر د مسقیمې طریقې واقعیت وپېژندل شي. د همدې بهیر په رڼا کې انسان سمه پوهه او قضاوت تر لاسه کوي او پوهېږي چې قضاوت یې د علم پر اساس ولاړ دی که نه؟ یا په بله وینا د همدې کړنلارې په درک د دې توپیر کولی شو چې کیمیا علم دی، خو ارواپوهنه او ټولنپوهنه علم نه دی. همدارنګه انسان دا پرېکړه کولی شي چې معارف په ثقافت کې شامل دي که نه؟ نو پر دې اساس ټوله موضوع، چې بحث ورباندې څرخي هغه د عقل د واقعیت قطعي او جازمه پېژندنه ده او د هغه په روښانتیا کې د تفکیر واقعیت او د تفکیر طریقه شونې کېږي، چې بالاخره انسان د تفکیر سم اسلوب یا اسالیب کارولی شي.
اصلي موضوع همدا ده، نو اړینه ده چې د علم او کلتور (ثقافت) لاسته راوړل باید د تفکیر د واقعیت، د تفکیر د طریقې او د تفکیر د اسلوب د درک مستقیمه لاسته راوړنه او پایله وي. د تفکیر د واقعیت درک، د عقل د واقعیت له درک پرته له آره شونی نه دی. نو پر دې اساس اړینه ده چې عقل د تفکیر تر پوهېدا وړاندې په قاطع او جازمه بڼه درک شي.
هغه کسان چې د عقل په پوهاوي کې یې هڅې کړې دي، ډېر دي. په تېرو وختونو کې د یونان له فیلسوفانو نیولې تر مسلمانو علماوو او غربي مفکرینو او یا د اوسني عصر پوهانو پورې، ټولو په دې اړه نظر ورکړی؛ خو له کمونستو مفکرینو پرته هېڅ یو یې د یادولو وړ نه دی. د عقل په اړه د دوی تعریف د ملاحظې وړ دی او رښتیا چې تر دې کچې یې واقعیت لاس ته راوړی چې سترګې پټول ورڅخه ناممکن دي. خو دوی په خپله هڅه کې لویه تېروتنه وکړه او هغه دا چې د کایناتو خالق یې ونه مانه. که دا تېروتنه یې نه وی کړې یعنې د ژوند، کایناتو او انسان په ماورا کې یې د خالق موجودیت نه ردولی، له شک پرته چې د عقل سم تعریف او د هغه واقعي، قطعي او جازم درک یې کولی شو. هغوی د واقعیت بحث او فکر له دې ځایه پیل کړ چې ایا فکر تر واقیعت وړاندې موجود و، که واقعیت تر فکر وړاندې؟ ځکه فکر د واقعیت مستقیمه پایله ګڼل کېږي، دوی په دې چاره کې اختلاف وکړ. ځینو وویل چې فکر تر واقیعت وړاندې موجود و او یو شمېر نورو وویل واقعیت تر فکر وړاندې موجود و. وروستی نظر یې

داسې وړاندې کړ چې واقعیت تر فکر وړاندې موجود و او د همدې نظر پر اساس یې د موضوع په اړه خپل لیدلوری داسې بیان کړ: فکر پر دماغ د شي د واقعیت عکس العمل دی. یا پر دماغ د پېښې انعکاس ته فکر وايي. له عقل څخه د دوی تعریف دا دی چې عقل له دریو توکو څخه جوړ شوی: واقعیت، دماغ او پر دماغ د انعکاس بهیر. د عقل په اړه دا د دوی نظر دی چې د سمې مطالعې، جدي هڅو ښکارندوی او حق ته نږدې دی. خو که د خالق پر نه وجود یې ټینګار نه کولی او د کایناتو په ازلیتوب یې عقیده نه لرلی، له شک پرته د عقل واقعیت به یې له تېروتنو پرته درک کړی وای. ځکه دا سمه ده چې د هر فکر لپاره یو واقعیت شته او هر معرفت یا علم چې واقعیت ونه لري، تر خیال او فلسفې زیات څه نه دي. نو واقعیت د فکر بنسټ جوړوي او فکر د واقعیت تولید او یا پر واقعیت قضاوت دی. په دې ترتیب واقعیت د تفکیر او فکر بنسټ دی. د واقعیت له موجودیت پرته به له آره تفکیر او فکر وجود ونه لري. تر دې ورهاخوا پر واقعیت حکم او قضاوت په هر څه کې چې وي، له دماغ سره اړیکه نیسي، دماغ د انسان بنسټ او د هغه مرکزیت تشکیلوي. نو هېڅ فکر به د دماغ له موجودیت پرته وجود ونه لري او دماغ خپله یو واقعیت دی. د دماغ او واقعیت موجودیت د فکر او تفکیر دوه اساسي شرطونه دي. په دې بنه د عقل یا تفکیر او یا هم فکر د موجودیت لپاره باید واقعیت او دماغ موجود وي. کمونستو مفکرینو د هغه دوه توکونه تر لاسه کړل. په بله وینا هغوی کشف کړه چې د عقل د موجودیت لپاره، د واقعیت او دماغ شتوالی، له اساسي شرایطو څخه دی او له هغوی پرته فکر نه تولیدېږي. نو د دوی هڅې جدي او سمې وې. هغوی تر دې ځایه سم مسیر تعقیب کړی چې سم تفکیر ته یې لارښوونه کوله. خو کله یې چې د هغو دواړو ترمنځ اړیکه پر دماغ د انعکاس پر اساس وکړه، مسیر یې کوږ شو. په دې ترتیب هغوی ناسمې پایلې ته ورسېدل او عقل یې ناسم درک کړ. د دوی تېروتنه په دې کې وه چې د خالق موجودیت یې رد کړ، هغه خالق چې کاینات یې له عدم (نشت) څخه منځته راوړل. که هغوی اعتراف کړی وی چې پوهه او معلومات د فکر د تولید لامل کېږي، بې شکه چې ځان یې د یو واقعیت په مقابل کې لیده او هغه دا چې لومړني انسان ته د شي د واقعیت تر موجودیت وړاندې

فکر له کومه ځايه راغی؟ او بايد د ده د واقعيت څخه غير د يو چا له لوري راغلی وي. په همدې ترتيب لومړي انسان ته معلومات له کومې سرچينې رسېدلي دي؟ بايد دا فکر يا معلومات غير له ده او غير د ده له واقعيت څخه راغلي وي. نو پر دې اساس د ځمکې پر مخ لومړی انسان او واقعيت د داسې چا په واسطه را منځته شوي چې دغه انسان ته يې د لومړي ځل لپاره معرفت ښنلی دی. دا د هغه څه خلاف دي چې هغوی معلومات قطعي يا معرفت بولي او نړۍ او واقعيت ازلي گڼي. نو پر دې اساس هغوی عقل پر دماغ د عقل د واقعيت انعکاس تعريف کړ، چې فکر توليدوي او تفکير پر هغه ولاړ دی. د دې لپاره چې د معلوماتو (معرفت) د موجوديت اړتيا يې ښکاره کړې وي؛ هغوی د جالبو حکايتو او فرضيو په بيان پيل وکړ. هغه داسې چې ويې ويل لومړني انسان پرله پسې واقعيت تجربه کړ او په دې ترتيب پوهه (معرفت) يې تر لاسه کړ. پر واقعيت تجربې له لومړني انسان سره د معلوماتو په توگه پاتې شوې او د وخت په تېرېدو د يادو تجربو په تکرار سره فکر رامنځته شوی دی. هغوی ټينگار وکړ چې پر دماغ د واقعيت انعکاس عقل او فکر دی، چې تفکير هم تشکيلوي. هغوی درک نه کړه، هغه څه چې انعکاس بولي، انعکاس نه بلکې د موجود واقعيت په اړه احساس دی. د تفکير بهير (عمليه التفکير) پر دماغ د واقعيت د انعکاس په پايله کې نه رامنځته کېږي او نه هم په دماغ کې د واقعيت انعکاس دی، بلکې په واقعيت کې د ياد واقعيت احساس دی چې دماغ د دغه احساس په مرکزيت کې واقع دی. که احساس موجود نه وای، له شک پرته چې فکر نه توليدېده او نه هم د تفکير بهير رامنځته کېده. د دوی ناکامي د احساس او انعکاس ترمنځ د توپير په درک کې د ډېرو ستونزو لامل شوه او هغوی يې له خپل مسير څخه و ايستل. نو پايله په طبيعي ډول د عقل له ناسم تعريف څخه رامنځته شوه. که څه هم چې د دوی د ستونزو سرچينه د احساس او انعکاس ترمنځ د توپير نشتوالی نه و، ځکه که داسې وای، په يقيني توگه دوی پيدا کوله چې ماده د احساس په وسيله د ادراک وړ ده، نه د انعکاس په وسيله. بلکې د دوی ستونزه د خالق د موجوديت له انکار څخه پيلېږي. دوی د معلوماتو موجوديت تر واقعيت وړاندې درک نه کړ، هغه څه چې د فکر د توليد لپاره يوه لازمي کړنه ده او د تفکير لپاره

له اساسي شرایطو څخه ګڼل کېږي، د دماغ د ودې لپاره یو لازمي شرط دی، تفکیر او د تفکیر طریقه به له هغه پرته وجود ونه لري. غیر له دې مرکب (ولاغ یا خر) هم عقل درلودلی شي، ځکه چې دماغ لري او واقعیت هم د هغه پر دماغ انعکاس کوي او واقعیت احساسوي. خو عقل د انسان یوه ځانګړنه ده او له پخوا څخه ویل شوي چې انسان یو متفکر موجود دی، یعنې یو ناطق حیوان دی، د عقل خاوند دی او د ځمکې پر مخ هېڅ حیوان نشته چې له دغه امتیاز او ځانګړنې څخه برخمن وي.

په هر حال یوازې کمونستان هغه ځوک دي چې د عقل د پوهاوي لپاره یې جدي هڅې کړې دي او په دې لاره کې یې سم مسیر تعقیب کړی. خو د عقل د واقعیت په پوهاوي کې لارورکي شول او له هغه لارې څخه چې د قطعي او جازم علم د لاسته راوړلو لپاره یې پر هغه یون کاوه، منحرف شول. په دې ترتیب وروستنیو نسلونو ته یې لاره هواره کړه چې ورته مسیر د عقل د قطعي او جازم درک لپاره غوره کړي. پر دې سربېره مسلمانان داسې سرچینې لري چې د مخکینیو معلوماتو د موجودیت اړتیا پوره کوي، د همدې تعریف پر اساس چې نه یوازې مسلمانانو ته قانع کوونکي دي، بلکې د داسې بنسټ په توګه ځای نیسي چې د ټولو نړیوالو لپاره د منلو وړ وي.

الله سبحانه وتعالی په خپل کتاب کې فرمایي:

**﴿ وَعَلَّمَ آدَمَ الأَسْمَاء كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى الْمَلاَئِكَةِ فَقَالَ أَنبِئُونِي بِأَسْمَاء هَؤُلاء إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ قَالُواْ سُبْحَانَكَ لاَ عِلْمَ لَنَا إِلاَّ مَا عَلَّمْتَنَا إِنَّكَ أَنتَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ قَالَ يَا آدَمُ أَنبِئْهُم بِأَسْمَآئِهِمْ فَلَمَّا أَنبَأَهُمْ بِأَسْمَآئِهِمْ قَالَ أَلَمْ أَقُل لَّكُمْ إِنِّي أَعْلَمُ غَيْبَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَأَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ وَمَا كُنتُمْ تَكْتُمُونَ ﴾** (بقره، ۳۱-۳۳)

*«له هغه وروسته الله سبحانه وتعالی آدم علیه السلام ته د ټولو شیانو نومونه وښودل او بیا یې پرښتو ته وړاندې کړل او ویې فرمایل: که ستاسې دا ګمان سم وي چې که د کوم خلیفه په ټاکنه کې به نظم وران شي، نو د دې شیانو نومونه (خواص او اسرار) یې وښیئ. هغوی عرض وکړ چې له نیمګړتیا خو یوازې ستاسو ذات پاك دی، موږ خو صرف دومره علم لرو ، چې تا موږ ته راکړی دی، په حقیقت کې په هر څه پوهېدونکی*

***او د هر څه علم لرونکی له تاسو پرته بل څوك نشته. الله سبحانه وتعالی آدم علیه السلام ته وفرمایل: ته دوی ددغو څیزونو له نومونو (خواصو او اسرارو) خبر کړه او کله یې چې دوی ته د ټولو شیانو نومونه وښودل، نو الله تعالی وفرمایل: ما تاسو ته نه وو ویلي، چې زه د ځمکې او اسمانونو په هغو ټولو حقیقتونو پوهېږم چې له تاسې نه پټ دي او په ټولو هغو څیزونو چې تاسې یې په ښکاره کوئ پوهیږم او څه چې تاسو یې پټوئ، پر هغه هم پوهیږم.»***

پورتنی ایت په ښه توګه دا واضح کوي چې مخکني معلومات د هر ډول پوهې یا معلوماتو (معرفت) د ترلاسه کولو لپاره لازمي دي او الله سبحانه وتعالی د همدې موخې لپاره د څیزونو نومونه او مانا ادم علیه السلام ته د لومړني انسان په توګه ور زده کړل او کله یې چې هغه ورته کېښودل، ادم علیه السلام ټول وپېژندل. نو لومړني انسان خپل معلومات د الله سبحانه وتعالی له لوري تر لاسه کړي دي او پر همدې اساس یې څیزونه وپېژندل او له دې پرته د څیزونو له پېژندنې څخه عاجز و. نو د کمونستانو د لارورکی اصلي لامل د لومړني انسان د موجودیت نشتوالی او یا د مخکنیو معلوماتو الزامي والی دی چې د دوی تېروتنه د عقل په تعریف کې ښکاریږي. نو د فکر او تفکیر د بهیر لپاره د هغه شي په اړه مخکني معلومات چې د دماغ په مقابل کې درېدلي دي، یو الزامي امر ګڼل کېږي. له هغه ځایه چې زموږ موخه ټول وګړي دي، نو غوره ده چې موجود او محسوس شی و ارزول شي؛ هغه هم په داسې بڼه چې د فکر د تولید لپاره هرو مرو د هغه په اړه مخکني معلومات موجود وي. ځکه په دماغ او واقعیت کې د مخکنیو معلوماتو د موجودیت په صورت کې عقل فعالیت، تفکیر او د فکر تولید کولی شي.

دا سمه نه ده چې د کمونستانو د مسیر د بطلان دلیل یوازې د احساس او انعکاس ترمنځ د توپیر په نشتوالي کې محدود شي. د دې موضوع اثبات ساده دی او دا دلیل د دوی د انحراف اصلي عامل نه ګڼل کېږي. په دې معنی چې یوازې د دوی د انحراف دلیل د مخکنیو معلوماتو موضوع ده او د واقعیت په اړه پوښتنه ده چې د فکر په تولید

پای ته رسېږي. د ایت له درک څخه وروسته څرګنده شوه، څه شی چې په دماغ کې پېښېږي، د موجود واقعیت احساس دی نه انعکاس. د څیزونو د ارزیابۍ او موجود واقعیت په پایله کې څرګنده شوه چې د اړوند واقعیت په هکله د عقل لپاره مخکني معلومات ډېر مهم دي او د ادراک د موجودیت لپاره له لازمي مسایلو څخه ګڼل کېږي. له دې معلوماتو پرته عقل یا فهم ناشونی دی او اصلاً د تفکیر موجودیت تر پوښتنې لاندې راځي. نو د عقل کره تعریف واضح شو او حقیقي مفهوم یې په قطعي او جازمه توګه شفافیت تر لاسه کړ.

هغه څه چې د عقلي بهیر (عملیه العقلیه) په جریان کې پېښېږي، احساس دی نه انعکاس. ځکه چې هېڅ ډول انعکاس د مادې (محسوسو شیانو) او دماغ ترمنځ موجود نه دی، نه دماغ پر ماده انعکاس کوي او نه ماده پر دماغ. اصلاً انعکاس د انعکاس ورکوونکي خاصیت موجودیت مني، چې څیزونو ته لکه هنداره او نور سم انعکاس ورکړي. دا ظرفیت نه په دماغ او نه په محسوسو شیانو کې موجود دی. نو د مادې او دماغ ترمنځ هېڅ ډول انعکاس نشته او ماده پر دماغ انعکاس نه کوي او نه هم هغه انتقالوي. په حقیقت کې هغه څه چې دماغ ته انتقالیږي، هغه احساس دی چې د حواسو په وسیله درک شوی او دماغ ته انتقالېږي. یا په بله وینا، ماده د حواسو په وسیله درک کېږي، دا احساس دماغ ته انتقالېږي او د یو ځانګړي حکم او قضاوت لامل کېږي. نو دماغ ته د حواسو انتقال انعکاس نه دی، بلکې یوازې او یوازې د واقعیت احساس او ماده ده او بس. په دې ځای کې د سترګو او نورو حواسو ترمنځ هېڅ توپیر نشته. یعنې حس د لمس، بویولو، څښلو او اورېدلو په وسیله رامنځته کېږي، لکه لیدل. نو هغه څه چې له واقعیت څخه دماغ ته انتقالېږي، انعکاس نه دی، بلکې احساس دی. انسان څیزونه او واقعیتونه د خپلو پنځه ګونو حواسو په وسیله درک کوي او دا کړنه انعکاس ته اړتیا نه لري.

دا واقعیت په حس کېدونکو څیزونو کې لکه لمر کې ښکاره دی، خو په غیر مادي څیزونو کې د معنوي او روحي حس تر څنګ د هغه د چاپېریال حس هم شته. نو د منحطې ټولنې په اړه باید د انحطاط احساس رامنځته شي، ترڅو حکم وشي چې یاده

ټولنه منحطه شوې ده او دا یوه مادي مسئله ده. همدارنګه څه شی چې د انسان حیثیت او عزت ته زیان رسوي، باید احساس شي چې عزت یا حیثیت ته یې زیان رسولی او یا عزت او ابرو ته زیان رسوونکي څیزونه باید احساس شي. دا واقعیت اړین دی چې په قضیه قضاوت وشي. دا هم یوه معنوي موضوع وه. سربېره پر دې هغه څه چې د الله سبحانه وتعالی د غضب لامل کېږي، هرومرو باید احساس شي او یا هغه عمل چې د الله سبحانه وتعالی د نارضایتۍ لامل کېږي، باید درک شي. په بله وینا د الله سبحانه وتعالی د قهر او رضایت عوامل باید احساس شي او دا یوه روحي مساله ده. د احساس له موجودیت پرته، اصلاً په دې ځای کې عقلي بهیر نه رامنځته کېږي. که څه هم چې د مادي څیزونو د چاپېریال په طبیعي بڼه رامنځته کېږي او لامل کېږي چې د دې ادارک کچه د هماغه شي د واقعیت د درک پر اساس توپیر هم ولري. نو پر دې اساس هغوی وویل چې عقلي حس (الاحساس الفکری) د تفکیر خورا پیاوړی ډول دی. خو د غیر مادي څیزونو په اړه باید وویل شي چې احساس تر هغه لاسته نه راځي، چې د تصور یا حس له لارې درک نشي. په غیر مادي چارو کې حس تر هغه لاسته نه راځي، چې د هغه په وجود پوهه ولري او یا یې د تقلید له لارې پوهه لاسته راشي. په هر حال، هغه موضوع چې په هغې کې احساس لاسته راځي او انعکاس لاسته نه راځي، کېدای شي نوموړی امر له بدیهیاتو څخه وي.

نو څه شی چې رامنځته کېږي احساس دی، نه انعکاس، په ځانګړي ډول د مادي څیزونو په اړه، دا اصل پر مادي مسایلو نسبت معنوي مسایلو ته زیات د پلي کېدو وړ دی. دلیل یې هم دا دی چې مادي څیزونه ټولو ته د لمس او حس وړ دي او په اړه یې هیڅ اختلاف نشته؛ خو اختلاف ممکن د واقعیت د تعریف پر دلیل ښکاره شي. لکه څنګه چې دوی د انعکاس تیوري وړاندې کړه، خو موږ نسبت واقعیت ته احساس یا حس تعریف یا وړاندې کړ. په دې ترتیب څرګندېږي چې د کمونستانو د بطلان ستر دلیل د شي د واقعیت په اړه مخکني معلومات دي او همدا مساله وه چې له حقې لارې د کمونستو مفکرینو د ګرځېدو لامل شوه، ځکه چې د مخکنیو معلوماتو موجودیت د عقل او عقلي بهیر له اساساتو څخه ګڼل کېږي.

د مخکنیو معلوماتو د بحث نچوړ دا دی: احساس په مطلقه توګه فکر نشي تولیدولی، ځکه څه شی چې واقع کېږي هغه د واقعیت احساس دی. که څه هم دا احساس متفاوت، ډول ډول او تکراري هم واقع شي، بیا هم یوازې احساس دی او هېڅ ډول فکر نشي رامنځته کولی. د فکر د رامنځته کېدو لپاره د مخکنیو معلوماتو شتون اړین او حتمي دی. د بېلګې په توګه که د سریاني ژبې کتاب د اوسني عصر انسان ته ورکړل شي، په داسې حال کې چې د دې کتاب په اړه هېڅ معلومات نه لري، که په میلیونو ځله دا کتاب ووینې او ویې ګوري، هېڅ شی ورته پکې د درک وړ نه دي، ترڅو چې د یادې ژبې په اړه معلومات ونه لري. داسمه نه ده چې وویل شي دا واقعیت یوازې په ژبو د پلي کېدو وړ دی او بس. ځکه ژبه داسې څیز دی چې انسان هغه اختراع کړې ده، مخکني معلومات ورته حتمي دي، ځکه اصل عقلي یا فکري بهیر دی او دا عملیه په واقعیت کې د دماغ یوه عملیه ده چې د یو قضاوت، درک او مانا او یا هم د حقیقت د پوهاوي لامل کېږي. نو پر دې اساس عقلي بهیر په ټولو څیزونو کې یو شان دی. په دې ترتیب چې د یو څیز په اړه تفکر د یو نطر او لیدلوري سره برابر دی. د یوې کلمې په مانا پوهیدل د یو واقعیت په مانا له پوهېدو سره برابر دی. هر یو یې عقلي بهیر ته اړتیا لري او په هر شي او واقعیت کې له اختلاف پرته یو ډول دی. د ژبې او یا د حس کېدو وړ یو مادي څیز واقعیت د ګونګتوب د رفع کېدو لپاره په مستقیمه توګه د واقعیت موضوع تر بحث لاندې نیسو. یو ماشوم په نظر کې ونیسئ چې احساس لري، خو مخکني معلومات نه لري، که د طلا، مسو او ډبرې ټوټه د هغه مخ ته کېږدو او هغه یې واقعیت حس کړي؛ بیا هم نشي درک کولی چې څه شی یې مخ ته اېښې دي. له دې توپیر پرته چې د هغه احساس څومره متفاوت دی او یا په کومه کچه تکرار شوی. خو که د یادو څیزونو په اړه معلومات ورکړل شي؛ له شک پرته چې واقعیت درک کوي او پوهېږي. که دا ماشوم شل کلنۍ ته ورسېږي او ذهن ته یې هېڅ معلومات نه وي رسېدلي؛ نو بېشکه چې د هغه وخت په څېر دی چې زېږدلی و. څنګه چې څیزونه د هغو له درک پرته احساسوي، که څه هم چې دماغ یې اوس لوی شوی هم دی. دلیل یې دا دی چې یوازې له دماغ څخه څه شی نه جوړېږي؛ بلکې دا مخکني معلومات

دي چې له دماغ او د احساس شوي شيز له واقعيت څخه فکر توليدېږي. همدارنګه هغه څلور کلن ماشوم وارزوئ چې هېڅکله يې د سپي او فيل د شيدو په اړه څه نه دي اوريدلي. که د سپي او فيل شيدي او يا يې انځورونه په مخ کې کېښودل شي او ترې وغوښتل شي چې د دې حيواناتو نومونه واخله؛ دا کار به ونشي کړی؛ ځکه په ده کې هېڅ ډول عقلي بهير نه رامنځته کېږي. که موږ د دغو حيواناتو نومونه د هغوی د واقعيت له ليدنې پرته ماشوم ته ورزده کړي وي او وغواړو چې د هماغه نومونو څخه په ګټې اخيستنې د دې حيواناتو توپير وکړي؛ بيا هم دا کار نشي کولی. خو که د يادو حيواناتو نومونه د هغوی د واقعيت په پام کې نيولو سره ماشوم ته وښيو؛ په دې حالت کې دا نومونه د حيواناتو له واقعيت سره تړلي دي او اړيکه پيدا کوي او هر يو يې له نامه څخه په ګټې اخيستنې توپيروي. يا په بله وينا، ماشوم يوازې په همدې حالت کې (د حيواناتو د نومونو زده کول د دقيق واقعيت يا انځورونو پر اساس) شيدې له سپي او سپی له فيل څخه توپيرولی شي. که هر څو هڅه وشي چې سپی او شيدې هغه ته وښودل شي، خو بيا هم ماشوم شيدو ته شيدې او سپي ته سپی وايي. نو پر دې اساس عقلي بهير احساس او يا يوازې واقعيت نه دی؛ بلکې د حس شوي واقعيت په اړه مخکني معلومات دي او د شي د واقعيت په اړه دا معلومات د پوهې پر اساس منځته راځي. نو د واقعيت په اړه يا له واقعيت سره اړوند مخکني معلومات، د عقلي بهير يوه عمده او اساسي برخه ده او له شک پرته د هغو يو اساسي شرط ګڼل کېږي. يا په بله وينا، مخکني معلومات د تعقل يو اساسي شرط دی.

دا وو، د عقلي ادارک په اړه، خو شعوري ادراک هغه څه دی چې له غرايزو او عضوي اړتياوو څخه منځ ته راځي. دا هغه څه دي چې په حيوان او انسان کې رامنځته کېږي. په دې ترتيب انسان په تکرار سره پوهېږي چې مڼه د خوړلو وړ ده، خو ډبره نه ده. همدارنګه يو حيوان لکه خر په تکرار پوهېږي چې اوربشې د خوړلو وړ دي او خاورې نه خوړل کېږي. دا توپير نه فکر دی او نه هم ادارک، بلکې د غرايزو او عضوي اړتياوو د فعاليت پايله ده، چې په انسان او حيوان کې موجوده ده. نو پر دې اساس د فکر د توليد لپاره د شي د واقعيت په اړه معلومات لازمي دي، ترڅو د حس په وسيله احساس

شي او دماغ ته ولېږدول شي.

هغه څه چې ډېر وګړي د مخکنيو معلوماتو په اړه په شک کې اچوي، دا دي چې هغوی ګومان کوي چې مخکني معلومات د تجربې او يا له نورو څخه د زدوه کړې له لارې تر لاسه کېږي. دا ډول وګړي په دې باور دي چې تجربه معلومات توليدوي او عقلي بهير تجربو په کار اچولی دی. دا ګونګتوب (ابهام) د انساني او حيواني دماغ ترمنځ د توپير په وسيله رفع کېږي، داسې چې دا توپير د اړيکې د استعداد له مخې وليدل شي او همدارنګه له هغه ليدلوري چې له غرايزو او عضوي اړتياوو سره تړاو پيدا کوي او څه شی چې د ځيزونو په اړه له قضاوت سره اړيکه لري. د حيوان دماغ د معلوماتو د ربط استعداد يا وړتيا نه لري، بلکې د احساس په وسيله د معلوماتو د استرجاع (بېرته ګرځېدو) وړتيا لري، په ځانګړې توګه کله چې يو څه ډېر تکرار شي. د حيواناتو طبيعي استرجاع يوازې او يوازې د دوی په غرايزو او عضوي اړتياوو پورې تړاو لري. نو که خره ته د خوړو ورکولو پر مهال يو ډول زنګ هم ووهل شي، د وخت په تېرېدو به داسې شي چې د زنګ په غږ به د خره په بدن کې ځانګړي کمياوي مواد ترشح کېږي چې حيوان به د هغه له مخې خوړو ته انتظار وي. يا هغه غويی چې په نباتاتو کې څري، په طبيعي توګه زهري او غير زهري نباتات توپيروي او زهري نباتات نه خوري. دا او دې ته ورته ځانګړتياوې ټول غريزوي توپير دی. خو هغه حرکتونه چې خلک يې له حيواناتوويني او هغه له غريزو او عضوي اړتياوو څخه سرچينه نه اخلي، بېشکه دا حرکتونه د نورو د تصوير او تقليد له مطلق برداشت څخه کېږي، نه د پوهاوي يا عقلي بهير له مخې. ځکه د حيواناتو دماغ د معلوماتو د ربط استعداد نه لري، بلکې د احساساتو او غريزوي توپير د استرجاع وړتيا لري. نو څه شی چې له غريزو سره ارتباط ونيسي، نه هېرېږي او هغه څه چې حيوان احساسوي، دا احساس ياد ته راوړي، په ځانګړې توګه که دا احساس تکرار شي. خو هغه څه چې له غريزو سره اړيکه نيسي، حيوان يې په طبيعي ډول تر سره کوي، يوه خبره ده چې احساس وکړي او يا احساس ياد ته راوړي. خو هغه څه چې له غريزو سره ارتباط نه لري، حيوان هغه په طبيعي ډول نشي تر سره کولی، که هر څو احساس هم وکړي او يا دا احساس ياد ته راوړي او يا

هم تکرار شي، بلکې هغه له نورو څخه په مطلق تصویر یا تقلید سرته رسوي.

خو په انسان کې دا مساله په بشپړه توګه بل رنګ ده. داسې چې د انسان دماغ نه یوازې دا چې د احساس یادونه کوي، بلکې د معلوماتو د ربط وړتیا هم لري. مثلاً که چېرې یو څوک په بغداد کې ووینی او لس کاله وروسته یې بیا په دمشق کې ووینی، په دې دوو ښارونو کې یې یوازې موجودیت احساسوی؛ خو که په اړه هېڅ معلومات ونه لری، خپل دماغ ته د څه شي ربط نه شی ورکولی. خو که په بغداد کې د لیدو پر مهال د هغه په اړه معلومات هم لاسته راوړی؛ په دمشق کې یې د لیدنې پر مهال د ده په اړه دغو معلوماتو ته ارتباط ورکولی شی. په حیوان کې د دې مسالې واقعیت په بشپړ ډول برعکس دی، ځکه حیوان یوازې د دغه شخص د موجودیت احساس د غریزې او شعوري درک پر اساس یاد ته راوړي. خو له اره د هغه د لیدو په موخه نه پوهېږي. حیوان په دې ترتیب یوازې استرجاع او د احساس تکرار کوي؛ خو یو بل ته د دې معلوماتو په ربط کې هېڅ وړتیا نه لري، حتی که د تکرار او تصور په وسیله زده کړه هم ورکړل شي. حال دا چې انسان احساس یاد ته راوړي او همدارنګه په ورته وخت کې په دې برخه کې معلوماتو ته هم ربط ورکولی شي. ځکه د انسان دماغ د معلوماتو د ربط او د احساس د استرجاع یا را ګرځېدنې ظرفیت لري. برعکس حیوان چې یوازې د احساس د استرجاع وړتیا او استعداد لري؛ خو هېڅکله د معلوماتو د ربط وړتیا او استعداد څخه برخمن نه دی.

له بل لوري، د دوو نورو ټکو توپیر هم باید وشي؛ رجع (ګرځېدنه) د غریزو او عضوي اړتیاوو پر اساس او رجع په چارو د قضاوت پر اساس. ځکه انسان د غریزو او عضوي اړتیاوو د رجعې پر اساس یعنې د احساس پر تکرار کولی شي د احساس استرجاع وکړي او وروسته د ربط د وړتیا څخه په ګټه اخیستنې، د درک شوي واقعیت پر چاپېر موجود احساس او یاد ته راغلو احساسونو ته ارتباط ورکړي او له هغه څخه ټاکلې پایله حاصل کړي. په ورته وخت کې انسان کولی شي احساس له معلوماتو سره راجع کړي چې حتی په غریزو او عضوي اړتیاوو کې هم درک شوي وي. خو هېڅکله نشي کولی چې یوازې احساس ته ربط ورکړي او د چارو قضاوت تر لاسه کړي. همدا ټکی

دی چې ډېر وګړي د احساس د استرجاع بهیر او د معلوماتو د بهیر ترمنځ پر توپیر نه پوهېږي او د ابهام او اغماض لامل کېږي. په انسانانو کې د اکتشاف (موندنې) بهیر د غریزو او عضوي اړتیاوو پر اساس د رجع په وسیله کېدی شي. خو په ټولو څیزونو کې د معلوماتو د ربط بهیر له مخکنیو معلوماتو پرته چې په څیزونو د قضاوت لامل کېږي؛ نشي رامنځته کېدی. نو پر دې اساس د ربط په بهیر کې د مخکنیو معلوماتو موجودیت له کلیدي عناصرو څخه دی او د ځمکې پر مخ پر نورو مخلوقاتو د انسان یوازینی امتیاز همدا د ربط استعداد ګڼل کېږي. د بېلګې په توګه، انسان پوهېږي چې لرګی د اوبو پر سر د لامبو وړتیا لري. د لرګي د همدې ځانګړتیا له مخې کښتۍ جوړېدای شي. په همدې ترتیب بیزو هم پوهېږي چې څه ډول په یوه څانګه یا بله وسیله یوه کېله د ونې له سره د نورو کېلو له منځه لاس ته راوړي. دا خبر؛ د غریزو او عضوي اړتیاوو د رجعې پایله ګڼل کېږي. که هر څو دا پېښه تکرار شي او معلومات هم ورسره یو ځای شي، په حقیقت کې بیا هم د استرجاع (احساس) بهیر دی، نه د معلوماتو د ربط بهیر. نو دا بهیر چې په پورتنۍ بېلګه کې پېښېږي، هېڅکله عقلي نه دی او نه هم کومه مفکوره ښیي. ځکه څه شی چې عقلي بهیر او مفکوره ښیي، د هغه له درک وروسته د چارو قضاوت دی او له مخکنیو معلوماتو سره له ربط پرته قضاوت هېڅکله شونی نه دی. نو پر دې اساس لازمه ده چې د هر ډول ربط لپاره مخکني معلومات موجود وي، ترڅو تفکر وشي او عقلي بهیر په کار واچول شي.

ډېرو خلکو په تېر کې په دې موضوع څېړنه کړې ده چې د ځمکې پر مخ لومړنی انسان څنګه وتوانېده چې د تجربو او کتنو په وسیله په خپل ځان کې فکري او عقلي بهیر رامنځته کړي او ویې روزي. موخه یې هم دا وه چې پر دماغ د مادي انعکاس او د څیزونو مجرد احساس چې د دوی په وینا د فکري او عقلي بهیر لامل شوی؛ ثابت شي. یا په بله وینا د تعقل او تفکر د پیل څرنګوالی د دوی د تیوري پر اساس ثابت شي. د یادو څیزونو په پام کې نیولو سره څرګنده شوه، هغه څه چې دوی یې ادعا کوي، یوازې او یوازې د احساس استرجاع ده، نه د معلوماتو ربط او له بل لوري هغه یوازې وړتیا او د غریزو او عضوي اړتیاوو رجع ده چې د هغه له فهم وروسته د چارو

په قضاوت هېڅ کار نه لري. د هغوی د رد لپاره همدا تکی بس دی. سربېره پر دې، پورتنی موضوع یوازې د خیال، فرض، گومان، او احتمالاتو پر اساس د ځمکې پر مخ له لومړني انسان څخه لاسته نشي راتلی، بلکې موضوع د انسان په نفس پورې تړاو لري. نو د لومړني انسان هغه هم په خیالي او غیبي بڼه او له اوسني انسان سره د پرتلې د معیار نیولو پر ځای؛ غوره ده چې اوسنی انسان معیار ونیول شي او حاضر په غایب قیاس شي. نه دا چې غایب (گونگ واقعیت) له حاضر (ښکاره واقعیت) سره پرتله شي. حاضر انسان د حس، کتنې او پرتلې وړ دی. یعنې هغه څه چې د حاضر انسان له واقعیت څخه درک شول، له غایب انسان سره پرتله کېږي او قیاس کېږي.
هر هغه څه چې د دماغ او حواسو له لیدلوري په حاضر او اوسني انسان پلي کېږي؛ د لومړني انسان په شمول پر ټولو انسانانو یو شان دي. نو دا تېروتنه ده چې د استدلال مسیر شاته وگرځي، بلکې برعکس لازمه ده چې د استدلال مسیر پر مخ یون وکړي او هغه څه مطالعه کړو چې موږ یې وینو او هره ورځ یې احساسوو. دا واقعیت باید په لاندې مواردو کې په عقلي توگه درک شي: په داسې مسایلو کې لکه غریزې او عضوي اړتیاوې، د چارو قضاوت او د واقعیتونو درک او پوهاوی. په دې ترتیب د دې امکان میسر کېدای شي د احساس استرجاع او هغه څه چې په هغه پورې تړاو لري، ربط ورکړل شي او د هغو دواړو ترمنځ توپیر کړه او په ژوره توگه درک کړو. نو د مخکنیو معلوماتو اهمیت د ربط لپاره د یو اساسي توک حیثیت لري او په دې ترتیب د عقلي بهیر په جریان کې له حیاتي ټکو څخه گڼل کېږي. دا مساله په بشپړه توگه د احساساتو له استرجاع سره توپیر لري، ځکه د احساساتو په استرجاع کې له عقل، فکر او یا تفکیر نه هېڅ ډول گټه نه اخیستل کېږي. یو ماشوم چې د خپل چاپېریال د شیزونو په اړوند هېڅ معلومات نه لري، خو بیا هم معلومات لاس ته راوړلی شي، دا خورا غوره بېلگه ده چې د عقل مانا واضح کوي.
له دې امله عقل یوازې د انسان په وجود کې پیدا شوی او عقلي بهیر هم یوازې د انسان په وسیله واقع کېدی شي؛ ځکه غریزې او عضوي اړتیاوې په انسان او حیوان کې موجود دي او حتی د احساس استرجاع هم په هغو دوو (انسان او حیوان) کې یو

شان ده، خو دا استرجاع نه عقل دی او نه ادراک، نه فکر دی او نه هم تفکیر. بلکې یوازې غریزوي توپیر او تشخیص دی او بس. دا په داسې حال کې ده چې عقل د دماغ موجودیت حتمي کوي، هغه دماغ چې د معلوماتو د ربط وړتیا ولري. دا هغه څه دي چې یوازې په انسان کې شته. نو پر دې اساس عقلي بهیر یوازې د ربط د استعداد په موجودیت کې جریان پیدا کوي چې واقعیت ته له معلوماتو سره تړاو ورکوي.

نو عقلي بهیر په اوسني او لومړني انسان کې یو شان دی او د محسوس شوي واقعیت په چاپېر د مخکنیو معلوماتو موجودیت حتمي کوي. خو مخکني معلومات باید د واقعیت تر درک وړاندې موجود وي ترڅو عقلي بهیر جریان پیدا کړي. یعنې دا چې واقعیت د انسان په مقابل کې کېښودل شي چې درک یې کړي. نو لومړنی انسان باید د هغه شیزونو په اړوند چې ورسره مخامخ شوی مخکني معلومات ولري. دا هماغه څه دي چې الله سبحانه وتعالی یې د ځمکې پر مخ د لومړني انسان یعنې ادم علیه السلام په باب فرمایي:

﴿ وَعَلَّمَ آدَمَ الأَسْمَاء كُلَّهَا ... ﴾ ( بقره، ۳۱ )

***«او د ټولو شیزونو نومونه یې ادم ته ور زده کړل»***

او وروسته یې هغه ته وویل:

﴿ قَالَ يَا آدَمُ أَنبِئْهُم بِأَسْمَآئِهِمْ ... ﴾ ( بقره، ۳۳ )

***«اې آدمه! هغوی د شیزونو د نومونو په هکله خبر کړه.»***

نو مخکني معلومات د عقلي بهیر یوه خورا اساسي او اصلي ستنه ګڼل کېږي.

کمونېستان د عقل د درک په مسیر کې تر یوه ځایه سم مخ ته ولاړل، ځکه هغوی د انسان په بدن کې د عقلي بهیر لپاره دوه اساسي توکونه واضح کړل. لومړی د تعقل لپاره یې د یو شي واقعیت مهم ګاڼه او دویم دا چې د انسان دماغ یې د عقلي بهیر لپاره د یو حتمي او لازمي توک په توګه درک کړ. په بله وینا، کمونېستو مفکرینو د

عقلي بهیر دوه اساسي توکونه په سمه او کره توګه درک کړل. یعنې سم مسیر یې تعقیب کړ. خو د درک شوي واقعیت او د انسان د دماغ ترمنځ د ربط د تشریح په څرنګوالي کې له تېروتنو سره مخ شول. دا ربط یې «انعکاس» وباله په داسې حال کې چې هغه «انعکاس» نه، بلکې د واقعیت «احساس» دی. په ورته وخت کې دوی هغه وخت د عقل د سم تعریف له مسیر څخه بشپړ منحرف شول چې په عقلي بهیر کې یې مخکني معلومات د یو اساسي عنصر په توګه رد کړل. په داسې حال کې چې د مخکنیو معلوماتو له موجودیت پرته، له اره تعقل ممکن نه دی. د عقل د درک لپاره سم مسیر، انسان ته د عقل د واقعیت په پوهاوي کې په ډاډه توګه لارښوونه کوي. د هغه له پوهاوي وروسته څلور توکونه د عقل د اصلي او اساسي رکنونو په توګه څرګندېږي چې په لاندې ډول دي: واقعیت، سالم دماغ، احساس او مخکني معلومات. دا څلور توکونه باید په مناسبه توګه او یو له بل سره ګډ درک شي ترڅو عقلي بهیر منځته راشي. په پایله کې، عقل یا فکر او یا ادراک په حقیقت کې د احساس په وسیله دماغ ته د محسوس واقعیت لېږد دی ترڅو د مخکنیو معلوماتو په روښانتیا کې تعبیر وشي او د واقعیت له درک وروسته، قضاوت هم صادر شي.

دا تعریف یوازینی کره او سم تعریف دی چې له هغه پرته بل هېڅ کره تعریف نشته. دا تعریف ټول انسانان په ټولو زمانو کې رانغاړي او د عقل د واقعیت یوازینی کره تشریح کوونکی دی.

# د تفکير عقلي طريقه

تر دې وروسته چې د عقل مانا په غوڅه او سمه بڼه درک شوه او تعريف يې په اصطلاح او بشپړه مانا واضح شو، اوس اړينه ده چې د تفکير طريقه درک کړو. د تفکير طريقه يعنې هغه لاره چې عقل د هغه په وسيله نتيجه اخلي او يو فکر توليدوي. دا د تفکير طريقه ده او د تفکير طريقه بايد له اسلوب او وسيلې څخه توپير شي. ځکه د تفکير اسلوب يعنې هغه لاره چې د يو شيز د مطالعې لپاره حتمي ده، دا شيز ښايي د لمس وړ وي او يا نه وي؛ خو وسيله يوازې د شيز مطالعه غواړي. بايد په پام کې ونيسو چې اسلوب او وسيله د واقعيتونو په بدلون توپير کوي او هېڅکله ثابت نه وي. خو د تفکير طريقه او يا هغه لاره چې عقل له هغه څخه په ګټې اخيستنې قضاوت کوي، بايد ثابته او د بدلون وړ نه وي او د متفاوتو واقعيتونو پر اساس بدولون او تطور نه کوي. پر دې اساس د تفکير طريقه بايد ثابته وي او په تفکير کې د يو بنسټ په توګه عمل وکړي، که هر څو د تفکير اساليب متفاوت او بدل شوي هم وي.

د تفکير طريقه او يا هماغه لاره چې عقل د هغه په وسيله يو فکر توليدوي او يا پر يو واقعيت قضاوت کوي؛ په واقعيت د عقل خپل تعريف ګڼل کېږي. په بله وينا، هغه څه چې د واقعيت له نظره پر عقل پلي کېږي، د تفکير پر عقلي طريقه هم د پلي کېدو وړ دي. نو د تفکير عقلي طريقه په مستقيمه توګه له عقل سره تړاو لري او د دې طريقې تعريف داسې دی: هغه ټاکلې کړنلاره چې د معلوماتو، پوهې او يا تر مطالعه لاندې د يو واقعيت په باب د پوهاوي د ترلاسه کولو لپاره، ګټه ترې اخيستل کېږي. داسې چې واقعيت د حواسو په وسيله درک شي او سالم دماغ ته لېږدول کېږي، چې د مخکنيو معلوماتو په روښنانتيا کې ياد واقعيت تعبير شي او په اړه يې قضاوت صادر شي. دا درک عقلي درک بلل کېږي. دا طريقه د لمس وړ شيزونو په مطالعه کې لکه په فزيک او همدارنګه په نه لمس کېدونکو شيزونو لکه عقيدې، شريعت، وياندۍ، ادبياتو او فقه کې هم کارول کېږي. د عقلي طريقې فهم په حقيقت کې د عقل د تعريف فهم دی

او د شیزونو د درک لپاره یوازینی د پلي کېدو وړ او دقیقه عملي لاره ده، چې انسان د هغه په واسطه هر شیز چې وغواړي درک یې کړي، کولی شي د عقل په واسطه د عقلي طریقې شرایط بشپړ کړي.

په تفکیر کې د تفکیر عقلي طریقه یوازینی سمه او سالمه طریقه گڼل کېږي. له هغې پرته هره لاره، که هر څو د تفکیر طریقه هم وبلل شي، تېروتنه ده او سمه نه ده. ځکه تفکیر یوازې یوه طریقه لري او هغه عقلي طریقه ده او بس. یا هم داسې ده چې طریقه نشته، خو یوازې یو ډول عقلي طریقه ده، لکه ساینسي طریقه چې په حقیقت کې د تفکیر د عقلي طریقې یو ډول دی، خو په ناقصه بڼه او یا داسې چې د شیزونو د درک لپاره د عقلي طریقې یو اسلوب وي، لکه منطقي طریقه چې په حقیقت کې د عقلي طریقې یو ځانگړی اسلوب گڼل کېږي چې ځینې شیزونه په منطقي بڼه قیاس شي. په دې تعبیر چې منطقي طریقه، طریقه نه ده، بلکې د تفکیر د عقلي طریقې یو اسلوب دی. نو پر دې اساس د تفکیر طریقه یوازې یوه طریقه ده چې هغه عقلي طریقه ده، له هغې پرته د تفکیر لپاره بله طریقه نشته.

باید له یاده ونه باسو چې د تفکیر په عقلي طریقه کې، دوې مسالې یو له بله توپیر شي. لومړی مخکني معلومات او دویم مخکنی قضاوت. ځکه ډېر وخت د تفکیر د عقلي طریقې په وسیله د شیزونو د درک په جریان کې ممکن مخکنی قضاوت د مخکنیو معلوماتو په توگه وکارول شي او یا هم ممکنه ده چې برعکس شي، ځکه هغه څه چې د تفکیر د عقلي طریقې په جریان کې حتمي او الزامي دي، د واقعیت په باب مخکني معلومات دي. دا کړنه باید د واقعیت په باب له مخکني قضاوت سره گډه نشي. د واقعیت د درک لپاره د مخکني قضاوت موجودیت حتمي او الزامي نه دی، حال دا چې د مخکنیو معلوماتو شته والی د تفکیر د عقلي طریقې له اساسي توکونو څخه دی. په دې تعبیر سمه نه ده چې د محسوس واقعیت د درک په مسیر کې، مخکنی قضاوت مداخله وکړي او باید د هر ډول مداخلې او یا د مخکني قضاوت او مخکنیو معلوماتو د گډېدو مخه ونیول شي. د تفکیر په عقلي طریقه کې د مخکني قضاوت کارول سم نه دي، بلکې سمه دا ده چې د محسوس واقعیت د درک لپاره له مخکنیو معلوماتو څخه

ګټه واخیستل شي. په دې دلیل، د محسوس واقعیت د درک لپاره د مخکني قضاوت څخه استفاده ممکن پر مخکنیو معلوماتو برلاسې شي او د واقعیت په پوهاوي کې تېروتنې را پیدا کړي چې په پایله کې د یاد واقعیت د ناسم درک لامل کېږي. نو ډېره مهمه ده چې مخکنی قضاوت له مخکنیو معلوماتو څخه داسې توپیر شي چې یوازې او یوازې مخکني معلومات د محسوس واقعیت د درک لپاره وکارول شي، نه مخکنی قضاوت.

که چېرې د تفکیر عقلي طریقه په سمه او مناسبه بڼه وکارول شي، یعنې واقعیت په سمه او مناسبه بڼه درک شي او د حواسو په واسطه دماغ ته ولېږدول شي او وروسته دماغ هم د مخکنیو معلوماتو په روښانتیا کې هغه درک کړي او قضاوت صادر کړي، سمه او سالمه پایله لاس ته راځي. خو دا پایله چې د تفکیر د عقلي طریقې په وسیله لاسته راغلې، باید د هغه د سموالي او بطلان د درک لپاره وازمویل شي. که د عقلي تفکیر پایله د یو څیز د شتوالي د درک لامل شوې وي، هغه قطعي ده او په هغه کې هیڅ احتمال، تېروتنه او غلطي نشته. ځکه دا ډول درک د تفکیر د عقلي طریقې یعنې حواسو څخه په ګټه اخیستنې؛ حاصل شوی او حواس هېڅکله د یو څیز د شتوالي او نشتوالي په درک کې تېروتنه نه کوي او پایله یې د څیزونو د شتوالي او نشتوالي په باب په بشپړه توګه قطعي، کره او جازمه ده. یعنې هغه قضاوت چې د څیز د شتوالي او نشتوالي په باب د تفکیر د عقلي طریقې په وسیله کېږي، قطعي او الزامي دی. سره له دې که هغه قضاوت چې د تفکیر د عقلي طریقې په واسطه لاس ته راغلی؛ د طبیعت، ماهیت، واقعیت او د څیزونو د صفتونو په اړوند، قطعي نه وي، بلکې ظني وي. دا په داسې حال کې ده چې صادر شوی قضاوت د شتوالي او نشتوالي له حیثه ونه لیدل شي؛ ځکه په داسې مسیر کې د تېروتنې احتمال موجود دی او دلیل یې هم دا دی چې یاد قضاوت د مخکنیو معلوماتو له لارې او له تېرو معلوماتو سره یو ځای د واقعیت د تحلیل او تجزیې له لارې شوی چې له تېروتنو خالي نه دی. د دې په پام کې نیولو سره چې د دا ډول تفکیر د پایلو تېروتنې د اثبات تر مهاله سالمې دي او له اعتباره نه ساقطېږي. نو پر دې اساس هغه افکار چې د تفکیر د عقلي طریقې په پایله

کې د شتوالي او نشتوالي له مخې حاصلېږي؛ لکه عقايد قطعي دي او شک پکې نشته. خو هغه احکام چې د عقلي تفکير په پايله کې د شيزونو د صفاتو او ځانګړتياوو له مخې حاصلېږي؛ لکه شرعي احکام، ظني دي. په بله وينا د شيزونو حکم ښايي داسې يا هسې دی. يعنې حکم؛ سم، د منلو وړ او سالم دی، خو د خطا په احتمال. خو همداسې سالم پاتې کېږي ترڅو چې خطا يې اثبات شي.

# د تفکیر ساینسي طریقه

د تفکیر عقلي طریقه که حتی، په سمه بڼه درک هم نشي، بیا هم یوازینۍ طریقه ده چې د انسان په واقعیت کې موجوده ده. انسان د تفکیر، په چارو، قضاوت، د واقعیت په پوهاوي او د شیزونو د صفتونو لپاره یوازې له همدې طریقې څخه ګټه اخلي. خو غرب یعنې اروپا او امریکا د روسیې په ګډون، له صنعتي انقلاب وروسته تجربي علم د خورا لوړ فکر په توګه ونیوه. د دې تفکر اغېزه له نولسمې میلادي پېړۍ څخه پیل شوه او د نړۍ ټول وګړي پکې شامل شول. حتی تجربي علوم تر دې کچې محترم او سپېڅلي وګڼل شول چې د تفکیر په ساینسي طریقه کې د تحقیق د یوازیني اسلوب په توګه یاد شول. په دې توګه د تفکیر ساینسي طریقه راڅرګنده شوه، دې ډول تفکیر وده وکړه او حتی د تفکیر بنسټ شو. تر هغه ځایه چې کمونست مفکرین هم له دې ډول تفکیره اغېزمن شول او د تجربې لاره یې غوره کړه. په پیل کې دا ډول تفکیر له اروپا څخه امریکا ته ولېږدول شو او پر نړۍ مسلط شو. تر هغه وروسته شوروي اتحاد ته ورسېد او شوروي اتحاد هم دا فکر حاکم کړ. په دې ترتیب د ساینسي تفکیر اغېزې پر ټولې نړۍ برلاسې شوې او داسې شوه چې په ټوله نړۍ کې د اسلامي خاورو په ګډون، د تفکیر ساینسي طریقې ته ځانګړی احترام رامنځ ته شو، چې لازمه ده د دې ډول تفکیر واقعیت په کره او ژوره توګه شرح شي.

د تفکیر ساینسي طریقه یوه ځانګړې لاره ده چې د پوهې او د یو شیز له حقیقت څخه د خبرېدو لپاره چې تر مطالعه لاندې دی؛ ترې کار اخیستل کېږي. دا چاره پر شیزونو د تجربو د طرحې له لارې مطالعه کېږي. په دې معنی چې د تفکیر ساینسي طریقه یوازې په محسوسو او د لمس وړ شیزونو کې محدوده ده او هېڅکله نه لمس کېدونکې شیزونه نه پکې شاملېږي. ځکه دا طریقه په مطلقه توګه په تجربي او ازمايښتي اصولو ولاړه ده. دا طریقه شیزونه له طبیعي شرایطو او حالاتو پرته تر لابراتواري شرایطو او حالاتو لاندې راولي او ازمایي یې. په دې ترتیب یاد بهیر چې په لمس کېدونکو او

محسوسو شیزونو ترسره کېږي؛ یو حقیقت یا لمس کېدونکی لاس ته راځي.
د تفکير دا طريقه د شیزونو د واقعيت په باب د هر ډول مخکنيو معلوماتو موجوديت په پام کې نه نيسي او هغه ته پاملرنه نه کوي. دليل يې دا دی چې د تفکير د ساينسي طريقې مبلغين وايي که وغواړو چې يو شيز تر تجربې او ازميښت لاندې ونيسو، لازمه ده چې هر ډول مخکني معلومات چې له مخکې د شي په اړه تر تجربې لاندې موجود دي، له منځه ولاړ شي. ځکه چې ښايي په ساينسي پايلو کې مداخله وکړي. په دې طريقه کې شیزونه (په بشپړ ډول بې طرفه يعنې د هغوی په اړه مخکني معلوماتو په لرې کېدو) تر تجربې او کتنې لاندې نيول کېږي چې د پرتلې او د پايلو په راټولولو، د شيز په اړه وروستی ساينسي قضاوت اقتباس کېږي. دا قضاوت يا وروستۍ پايله په بشپړه توگه ساينسي گڼل کېږي. خو کله چې نورې ساينسي څېړنې د هغه په پايلو کې تېروتنه وښيي. بايد هېره نه کړو چې محقق/ساينسپوه چې د تفکير له دې طريقې څخه په گټې اخيستنې پايلې لاس ته راوړي، که څه هم چې دا پايله يو اصل يا يو علمي او ساينسي حقيقت هم وبلل شي؛ بيا هم قطعي نه دی او د خطا او تېروتنې احتمال پکې موجود دی. دا احتمال بايد د هر ډول عملي يا ساينسي څېړنو په جريان کې په پام کې ونيول شي. دا ساينسي طريقه ده چې له بحث څخه يې ښرگندېږي چې طريقه سمه ده.
داسې طريقه نشته چې ټوله ناسمه وي او حتی هغه د يوې طريقې په توگه نومول تېروتنه نه ده. ځکه هغه په واقعيت کې په مطالعه، څېړنه او تفکير کې يوه ځانگړې کړنلاره او طريقه کېدای شي، چې تر يوه ځايه ثابته هم ده. خو ناسمه مساله هغه مهال منځته راځي چې هڅه وشي ترڅو ساينسي طريقه د تفکير د بنسټ په توگه ځای ونيسي، ځکه د تفکير لپاره د هغه د بنسټ او معيار په توگه ټاکل په بشپړه توگه ناسم دي. د تفکير ساينسي طريقه داسې شيز نه دی چې د هغه پر اساس د شیزونو حقيقت او واقعيتونه په بشپړه او شامله توگه درک کړو، بلکې هغه په حقيقت کې د تفکير يوه برخه او د مطالعې او څېړنې يو اسلوب دی. په ورته وخت کې د تفکير ساينسي طريقه اساس گرځول، د ډېرو اصولو او حقيقتونو د رد لامل کېږي او موجوديت يې تر پوښتنې لاندې راځي. حال دا چې ياد شیزونه موجود دي او موجوديت يې د حواسو

او واقعيت له لارې په بشپړه توګه د درک وړ دی.
نو د تفکير ساينسي طريقه سمه ده، خو د تفکير اساس نه دی؛ بلکې د تفکير له اسلوبونو څخه يو دايمي اسلوب ګڼل کېږي. ساينسي طريقه پر ټولو چارو د پلي کېدو وړ نه ده، بلکې يوازې پر ځينو چارو چې هماغه د لمس او حس وړ څيزونه دي، د پلي کېدو وړتيا لري ترڅو د تجربو او ازميښتونو له لارې په واقعيت وپوهېږو. د نه لمس کېدونکو څيزونو لپاره د دې طريقې کارونه اغېزمنه نه ده او يوازې د ابهام او لاروړکۍ لامل کېږي.
د تفکير دا طريقه د تفکير لپاره اساس او معيار نه دی. دا چاره له دوو ناحيو څخه د درک وړ ده: لومړی دا چې دا طريقه د مخکنيو معلوماتو له موجوديت پرته له اره شونې نه ده، که څه هم د تجربې او ازمېښت ډول ډېر ابتدايي هم وي. ځکه تفکير – هر ډول چې وي– د مخکنيو معلوماتو له موجوديت پرته شونی نه دی. نو ساينسپوهان د کيميا، فزيک او لابراتوار په ډګر کې يوه ثانيه هم له مخکنيو معلوماتو پرته دوام نشي کولی. خو د ساينسپوهانو ادعا، چې د تفکير ساينسي طريقه مخکني معلومات ردوي؛ سمه نه ده. ځکه په دې ټکي کې د دوی موخه مخکنی قضاوت دی، نه مخکني معلومات. په دې مانا چې ساينسي طريقه له ساينسپوه څخه غواړي چې هر ډول مخکنی قضاوت او د يوه لمس کېدو وړ، تجربې او ازمېښت لاندې څيز په باب فرضي پايله له ځانه لرې کړي. ترڅو وکولی شي چې نوی ازمېښت په بشپړ ډول بې طرفانه تعقيب کړي او د ساينسي پولو په اډانه کې د پرتلې او د لومړنيو پايلو په راټولولو، يوه وروستۍ پايله لاس ته راوړي. که څه هم دا چاره له تجربې، کتنې او پايلې سره معادله ده، خو بيا هم لازمه ده چې مخکني معلومات موجود وي او دا معلومات له تجربې او کتنې پرته له يوې سرچينې نه لاس ته راتلی شي. د بېلګې په توګه دماغ ته د واقعيت لېږد د حواسو له لارې. يعنې هغه معلومات چې د تجربې له تر سره کېدو وړاندې لاس ته راغلي. هغه معلومات دي چې د حواسو او واقعيت له لارې حاصل شوي دي. په بله وينا، هرو مرو له لږ ګومان او شک پرته مخکني معلومات چې تر مطالعه او څېړنه لاندې نيول کېږي؛ له ساينسپوه سره تر ازمېښت وړاندې موجود دي او دا معلومات د تفکير

د عقلي طريقې (واقعيت، حواسو او دماغ) په وسيله درک شوي دي. نو پر دې اساس د تفکير عقلي طريقه اصل دی او ساينسي طريقه داسې څيز دی چې پر هغه ولاړه ده او د عقلي طريقې يو ډول، څانگه او اسلوب گڼل کېږي. نو د تفکير ساينسي طريقه د اساس او معيار په توگه ټاکل؛ تېر وتنه او خطا ده.

دويمه ناحيه دا چې د تفکير ساينسي طريقه د هر څيز موجوديت چې د لمس، کتنې او تجربې وړ نه وي، ردوي. يعنې د طريقې پر بنسټ په ساينسي تفکير کې منطق، تاريخ، فقه، سياست او نور علوم او اصول هېڅ ځای نه لري. ځکه دا په لاس نه لمس کېږي او همداراز د تجربې وړ نه دي. نو د تفکير دا ډول طريقه، د الله سبحانه وتعالی موجديت هم ردوي، په داسې حال کې چې الله تعالی په عقل سره ثابت دی او د تفکير دا ډول د پرښتو، شيطان او نورو نه ليدل کېدونکو مخلوقاتو موجوديت هم ردوي؛ ځکه د ساينسي طريقې پر بنسټ د اثبات وړ نه دي. حال دا چې ډېر مخلوقات په هغه کتاب کې چې په عقل سره ثابت دی، تثبيت شوي. ځکه چې پورتني موارد تر مستقيمې کتنې، ازمېښت او تجربې لاندې نشي راتلی. دا يوه لويه تېروتنه ده او همدا د ساينسي طريقي غلطي ښيي چې ساينسي تفکير د تفکير بنسټ او معيار نه دی، بلکې د مطالعې او څېړنې يو اسلوب دی او بس. ځکه په نړۍ کې ډېر علوم دي چې د ساينسي طريقې پر بنسټ د اثبات وړ نه دي، بلکې يوازې د تفکير د عقلي طريقې په وسيله ثابتېدای شي. د بېلگې په توگه د الله سبحانه وتعالی موجوديت د تفکير د عقلي طريقې په وسيله په قطعي او جازمه بڼه د ثبوت وړ دی. د جنت او دوزخ، پرښتو او شيطان شتوالی د کتاب (قطعی الثبوت) پر بنسټ د ثبوت وړ دی او حتی په مانا کې هم ثابت دی(قطعی الدلاله). يعنې د هغه د لفظ او مانا قطعيت د عقل پر بنسټ ثابتېږي. نو پر دې اساس همدا چاره ښيي چې د تفکير ساينسي طريقه بايد بنسټ او معيار نشي، ځکه په عملي توگه ثابته شوه چې دا طريقه د هغو مواردو موجوديت ردوي چې موجوديت يې په قطعيت او جزم د تثبيت وړ دی.

سربېره پر دې د تفکير په ساينسي طريقه کې بايد د تېروتنې او خطا موجوديت په پام کې ونيول شي، په ځانگړې توگه هغه مهال چې انسان وغواړي چې دا طريقه د تفکير

بنسټ او معیار وګرځوي. په ډېرو ساینسي اصولو کې د تېروتنې او خطا څرګندېدل تجربه شوي. د بېلګې په توګه یو وخت د ساینسي څېړنو په پایله کې وویل شول چې د یوه عنصر کوچنۍ ذره اتوم دی او اتوم هم هغه څیز دی چې د تجزیې وړتیا نه لري. خو د ساینسي طریقې په واسطه دا درک هم غلط راووت او څرګنده شوه چې اتوم له نورو کوچینیو ذرو څخه جوړ شوی. همداراز یو وخت وویل شول چې ماده په فضا کې ځای نه نیسي، خو د تفکیر همدې ساینسي طریقې یو ځل بیا خپله تېروتنه ثابته کړه. یعنې د تفکیر ساینسي طریقه یو څه چې په یو وخت کې اصول، حقایق او ثابت ساینسي قوانین ګڼلي، بل وخت یې د هغه خطا او تېروتنه ثابته کړې. یعنې همغه مسیر چې یو قانون یا اصل یې ساینسي او ثابت نومولی و، غلط او خطا یې هم ثابت کړی. نو پر دې اساس د تفکیر ساینسي طریقه ظني ده او قطعي نه ده. هغه پایلې چې د یوه څیز د واقعیت، صفاتو او څرنګوالي په باب لاس ته راوړي، په ورته وخت کې ظني دي او هېڅ قطعي څیز نه تولیدوي. نو دا تېروتنه ده چې د تفکیر ساینسي طریقه د فکر کولو لپاره بنسټ او معیار وګرځي، بلکې یوازې د مطالعې او څېړنې لپاره د یو اسلوب په توګه او د فکر یو ډول وګڼل شي او یوازې په هغو ځایونو کې د پلي کېدو وړ ده چې تجربې، کتنې او ازمېښت ته اړتیا لري. په بله وینا یاده طریقه یوازې د هغو څیزونو په دایره کې محدوده ده چې په هغو کې د کتنې، تجربې او ازمېښت اړتیا ولیدل شي. له دې پرته په نورو ځایونو کې د دې طریقې کارونه له تېروتنې او غلطۍ پرته زیات څه نه دي.

په ورته وخت کې ممکنه ده د تفکیر ساینسي طریقه د یو فکر د رامنځته کېدو لامل شي، خو ساینسي طریقه په یوازې ځان فکر نشي رامنځته کولی. په ځانګړې توګه هېڅ ډول خپلواک فکر نشي رامنځته کولی، بلکې یوازې له مخکنیو افکارو څخه نور افکار استنباط کوي.

خپلواک افکار هغو افکارو ته وایي چې عقل یې په مستقیمه توګه اخذ کوي. د بېلګې په توګه د الله سبحانه وتعالی د شتوالي درک، له همدې امله هغه مفکوره چې وایي: د ټولنې په باب فکر د وګړي په هکله تر فکر کولو وړاندې دی، یا لرګی اور اخلي، تیل

د اوبو پر سر دربږي او دا چې د وګړي تفکر د ټولنې تر تفکر پیاوړی دی. ټول د عقل په وسیله په مستقیمه توګه درک شوي دي. دا ډول افکار له هغو افکارو سره چې غیر مستقل دي توپیر لري. ځکه غیر مستقل افکار هغه افکار دي چې د ساینسي طریقې پر اساس د تجربو تر څنګ له مخکنیو افکارو څخه استنباط کیږي او عقل هغه په مستقیمه توګه نه درک کوي. په دې مانا چې غیر مستقل افکار د هغو افکارو پایله ده چې عقل مخکې درک کړي او یوازې تعبیر یې نوی دی، نه خپله فکر.
نو په دې پوهېدل چې اوبه له اکسیجن او هایدروجن نه جوړې شوې دي، اتوم د تجزیې وړ دی او ماده فضا اشغالوي؛ دا هغه افکار دي چې د عقل په وسیله په مستقیمه توګه نه دي درک شوي، بلکې د هغو افکارو پر اساس درک شوي چې مخکې د هر واقعیت په اړه په جلا بڼه موجود وو. دا افکار په لومړي قدم کې له مخکنیو افکارو څخه اخیستل شوي او د تجربو او لابراتواري ازمېښتونو د تطبیق په پایله کې دا افکار پاتې شوي. په دې مانا چې ساینسي طریقه هېڅکله خپلواک او نوی فکر نشي ایجادولی، بلکې د لابراتواري تجربو څخه په ګټې اخیستنې د مخکنیو افکارو له ډلې، یوازې پایله لاس ته راوړي. نو بیا هم څرګندېږي چې باید ساینسي طریقه د تفکیر معیار او بنسټ ونه ګرځول شي او لازمه ده چې یوازې د یوه اسلوب او د تجربې او لمس وړ څیزونو د مطالعې او څېړنې د کړنلارې په توګه ورته وکتل شي. خو غرب یعنې اروپا، امریکا او روسیې د هغوی په تعقیب، دا طریقه وستایله. دا چاره په ځانګړې توګه په نولسمه پېړۍ او د شلمې پېړۍ په لومړیو کې پېښه شوه. هغوی د تفکیر ساینسي طریقې د اساس او معیار او د چارو په قضاوت کې د اساسي اصل په ګرځولو، د تفکیر د کره طریقې په درک کې له سم مسیر څخه کاږه شول. هغوی په خپل دې لیدلوري کې په مطلقه بڼه استدلال وکړ چې د لویو تېروتنو او غلطیو لامل شو. د بېلګې په توګه د ساینسي طریقې په اساس ګرځولو کې یې تر دې کچې افراط وکړ چې په غیر ساینسي چارو کې یې هم له دې طریقې څخه ګټه واخیسته. مثلاً په هغو افکارو کې چې په ژوند او ټولنه پورې اړوند کېدل او په هغو افکارو کې چې په ټولنیزو، سیاسي او د خلکو په چارو پورې یې تړاو درلود. هغوی په دې افکارو کې هم د ساینسي طریقې تقلید کاوه او پر

هغو يې پلې کوله. هغوی ساينسي طريقه تر يوه ځايه ټوليزه او نافذه کړه او د تفکير بنسټ يې وګرځوله، چې حتی په پورتنيو چارو يې شمولي قياس وکړ او پايلې يې هم د ساينسي پايلو په څېر ثابتې او قطعي ونومولې.

کمونست مفکرين د تفکير د ساينسي طريقې په تعقيبولو سره له ښکاره تېروتنو سره مخ شول. اساسي دليل يې دا و چې هغوی له نوموړې طريقې څخه په ژور اغېز، د طبيعت، ټولنې او لابراتواري شيزونو ترمنځ هېڅ توپير ونه کړ او په دې ترتيب د تېروتنو او فکري غلطيو په کوهي کې وغورځېدل. که څه هم چې د کمونستانو په هر فکر او مفاهېمو کې د دې ډول تېروتنو زياتې بېلګې پيدا کولی شو، خو دلته يوازې د دوی په دوو اساسي تېروتنو بسنه کوو، ځکه د همدې دوو تېروتنو په بيانولو سره د کمونستو مفکرينو غلطي په ښکاره توګه درک کېږي چې څنګه په تفکر کې د ساينسي طريقې په تعقيبولو، له تېروتنو سره مخ شول. لومړی دا چې چې د طبيعت په اړه يې وويل چې واحده مجموعه ده. د تجزيې وړ نه ده، چې د دايمي بدلون په حالت کې ده. دا دايمي بدلونونه د موجوداتو ترمنځ د متقابل تضاد په وسيله پېښېږي. دايمي بدلونونه او تکامل داسې شيز دی چې هرو مرو په ټولو موجوداتو او طبيعي پېښو کې جريان پيدا کوي.
نو په لومړي ګام کې راشئ چې د متقابل تضاد مفکوره چې د دوی له اساسي مفکورو څخه ده، داسې مطالعه کړو: سمه ده چې د ځمکې پر مخ موجوداتو او مخلوقاتو کې تضاد شته دی، خو بايد درک شي چې د ځمکې پر مخ ټولو موجوداتو کې دا مفکوره نشته. د بېلګې په توګه ژوندي موجودات، چې دوی ادعا کوي متقابل تضاد پکې دی او دليل يې هم داسې ښيي چې يوه حجره (يا سلول، يا د ژونديو موجوداتو د غړو د ننه هماغه د ژوند واحد) له منځه ځي او بله حجره رامنځته کېږي، يعنې د دوو حجرو منځته راتګ او له منځه تلل چې په ورته وخت کې پېښېږي؛ متقابل تضاد يې ګڼي. په داسې حال کې چې په ژونديو موجوداتو کې د ژونديو حجرو منځته راتګ او له منځه تلل، د متقابل تضاد په باب هېڅ ډول فکر نه ښيي. هغه څه چې واقعاً پېښېږي دا دي چې حجره زيږېږي او بله حجره له مړينې سره مخ کېږي او د دې مړينې او هغه زيږېدنې دليل، له چاپېريال سره د هغوی مقاومت او جوړښت دی. يعنې اصل ټکی د ژونديو

حجرو په کمزورتيا او پياوړتيا کې نغښتې دی چې کومه يوه له خپل چاپېريال سره جوړښت کوي او د جوړښت لپاره زيات قوت لري چې په طبيعي توګه دا ډول حجره ژوندۍ پاتې کېږي او په ورته مهال کې مړينه يې په دې چاره کې نغښتې چې کومې يوې له چاپېريال سره جوړښت نه دی کړی او د خپل چاپېريال سره د جوړښت لپاره اړين ځواک نه لري چې په پايله کې د دې حجرې د مړينې لامل کېږي. نو څرګندېږي چې ياده مساله په ژونديو موجوداتو کې هېڅ ډول تضاد نه ښيي. په همدې ترتيب هغوی نورې تېروتنې هم وکړې چې د متقابل تضاد مفکوره يې حتی په غير ژونديو موجوداتو او مادي څيزونو کې چې ژوندۍ حجرې نه لري، پلې کړه. حال دا چې سمه ده غير ژوندي موجودات له ورانۍ، ويجاړۍ او نشت سره مخ کېدای شي، خو هېڅ ډول زيږېدنه او تکامل پکې نه پېښېږي چې ګواکي متقابل تضاد دې وي.

حتی که – بالفرض – ومنو چې متقابل تضاد په غير ژونديو موجوداتو کې هم شته، خو بيا هم دا مساله داسې نه ښيي چې ګواکي د ژوند په پېښو کې هم متقابل تضاد موجود دی. يعنې معاملات، پېر او پلور، شرکت له متقابل تضاد پرته کېږي. ورته مساله په لمانځه، روژې، حج او نورو کې د پلي کېدو وړ ده. يعنې ياد عملونه هم له کوم متقابل تضاد پرته تر سره کېږي. نو هېڅ ډول متقابل تضاد نه پکې پېښېږي. خو هغه څه چې د دې طريقې د انتخابولو لامل شول، هماغه د تفکير لپاره د ساينسي طريقې نيول وو او بس. د دې طريقې ټاکل وو چې هغوی يې له لويو ستونزو سره په ځانګړې توګه د پېښو په مساله کې مخ کړل. په پايله کې همدا تېروتنه وه چې هغوی ګومان وکړ چې متقابل تضاد هرومرو په اروپا کې پېښېږي، په داسې حال کې چې په بشپړه توګه د کپيټالېزم تر ولکې لاندې راغلې وه او هېڅ ډول متقابل تضاد چې کمونستان يې په اروپا کې په انتظار وو، پېښ نه شو. دلته وو چې تېروتنه يې د تفکير او د څيزونو، چارو او پېښو په قضاوت کې د ساينسي طريقې په انتخابولو کې څرګنده شوه.

له بل لوري دوی د ټولنې په باب لاندې نظر ورکړ: ټولنه له جغرافيايي چاپېريال، د نفوس له ودې او د توليد د وسايلو ترمنځ له پيوستون څخه جوړه شوې. فزيکي ژوند د ټولنې جوړښت، افکار، سياسي نظريات او د ټولنې ټولنيز حالات ټاکي. يعنې فزيکي

ژوند د تولید له وسایلو څخه متاثر دی او د تولید وسایل په خپل نوبت په ټولنه اغېزه کوي. د دوی د لیډلوري پر اساس د تولید وسایلو له ترکیب څخه چې نفوس ګټه ترې اخلي، هغه وسایل چې کاروي یې، ټول په مجموعي بڼه په ټولنه کې ځواک جوړوي. په دې ترتیب د ټولنې یو اړخ یې جوړ کړ چې د طبیعت د شیزونو او لوازمو (د تولید ځواک) په اډانه کې د وګړو ترمنځ متقابلې اړیکې دي. د وګړو د اړیکو ترمنځ د اړیکو بل اړخ د تولید په بهیر کې دی او دا نظر بشپړ ناسم دی. ځکه ټولنه له وګړو جوړه ده او وګړي هم د تولید د وسایلو په پام کې نیولو پرته یو له بل سره ځانګړې اړیکې لري. هغه څه چې د وګړو ترمنځ اړیکې تامینوي ګټې دي، نه د تولید وسایل. ګټې هم د هغو افکارو پر اساس چې وګړي یې د خپلو اساسي اړتیاوو د رفع کولو لپاره حمل کوي، تعریفېږي. هغه څه چې په دې بهیر کې د تېروتنې لامل شول، هماغه پر ټولنه او وګړو د لابراتواري لیډلوري قیاس و. ځکه هغوی کتل کېدونکي شیزونه په لابراتوار کې مطالعه کړل. حتی خپله لابراتواري تیوري یې پر وګړو او د خلکو ترمنځ پر حاکمو اړیکو پلې کړه، چې د ابهام، اغماض او د دوی د تېروتنو او ناسمیو د لا زیاتې پېچلتیا لامل شوه. په داسې حال کې چې وګړي او یا ټولنه له هغو شیزونو سره چې په لابراتوار کې مطالعه کېږي په بشپړه توګه توپیر لري. د دوی همدا قیاس و چې د اساسي تېروتنې لامل شو. نو پر دې اساس د کمونستو مفکرینو د تېروتنې دلیل یوازې یو شیز دی او هغه دا چې د ټولنې په تعریف، وګړو، د وګړو ترمنځ اړیکو او پېښو کې یې د تفکیر ساینسي طریقه معیار ونیوه او پایله یې داسې شوه چې د نولسمې پېړۍ په تېرېدو د تفکیر ساینسي طریقه ډېره پراخه شوه او ټولیزه ونومول شوه حتی تر داسې ځایه چې د هر شیز، ذرې او مادې په مطالعه کې باید د تفکیر له ساینسي طریقې څخه کار اخیستل کېده.

غربي مفکرین یعنې اروپایي، امریکایي او وروسته روسي مفکرین، د هغو افکارو چې له عقلي طریقې څخه منځته راغلي وو او هغه افکار چې د ساینسي طریقې محصول وو، ترمنځ توپیر ونه شو کولی او دا موضوع د دې لامل شوه چې دا دوه فکرونه (ساینسي او عقلي) یو له بل سره ګډ شي. یعنې هغوی ساینسي طریقه حتی د انسان په

روش پلې کړه او گواکي د ارواپوهنې، ټولنپوهنې او د ښوونې او روزنې اصولو بنسټ يې کېښود. په واقعيت کې د ارواپوهنې، ټولنپوهنې د ښوونې او روزنې اصولو منځته راتگ د ساينسي طريقې په اخيستنې او په انسان باندې د هغه په پلي کېدو کې د دوی له اساسي تېروتنو څخه و. اروا‌پوهنه يې علم وباله او افکار يې هم ساينسي افکار وگڼل، ځکه چې دا علم په مختلفو شرايطو او مختلفو عمرونو کې د ماشومانو له مشاهدې څخه منځته راغلی. هغوی د خپلو کتنو تکرار پر انسان تجربې وگڼلې. حال دا چې د اروا‌پوهنې افکار، ساينسي افکار نه، بلکې د تفکير د عقلي طريقې د افکارو محصول دي. د ساينسي تجربو طرحه يعنې دا چې ماده تر شرايطو، لاملونو او غير طبيعي حالاتو (د اصلي حالت مخالف) لاندې راغلې او مطالعه کېږي، د همدې تحميل شوو، ارزول شوو او شرايطو وروستۍ پايلې اخيستل کېږي. په بله وينا يادې تجربې يې کټ مټ په کيميا او فزيک کې کارېدونکې تجربې گڼلې. خو هغه مهال چې يو څيز تر مختلفو شرايطو او وختو لاندې مطالعه کېږي، له اره د ساينسي تجربو په دايره کې نه شاملېږي او حتی د تفکير ساينسي طريقه نه گڼل کېږي، بلکې يوازې او يوازې يوه کتنه ده چې تکرار شوې او د کتنو له تکرار څخه ټاکلې پايله اخيستل شوې ده. نو معلومېږي چې هغه عقلي طريقه ده، نه ساينسي او هغه د ساينسي طريقې په توگه نومول بشپړه تېروتنه ده. د دې تېروتنې لامل هم پر انسان د ساينسي طريقې پلي کېدل وو. ځکه ساينسي طريقه يوازې له مادې سره سروکار لري او ماده هم له لابراتواري شرايطو پرته د مطالعې او تجزيې وړ نه ده. د څېړنې دا کړنلاره په مطلق ډول بايد په انسان او ټولنيزو چارو پلې نشي. په واقعيت کې کتنې (مشاهدې) يوازې تر مختلفو شرايطو لاندې يوه څيز ته کتل نه دي، بلکې تر اصلي (طبيعي) شرايطو او حالاتو لاندې د يوه څيز ارزوونه او پرتله يې له هغو شرايطو او حالاتو سره ده چې په لابراتوار کې مساعد شوي. لازمه ده چې پايلې هم ددغو دوو (طبيعي او لابراتواري) حالاتو څخه استنباط شي، نه دا چې له خالصې کتنې څخه پايله واخيستل شي. نو بايد روښانه شي چې ساينسي طريقې له خپلې وجودي اډانې (لابراتوار) څخه بهر پايله نه ده ورکړې، بلکې د تېروتنو او لويو او نه جبرانېدونکو غلطيو د څرگندېدو لامل کېږي او د ناسمې پايلې

اخیستنې لامل کېږي. دا هغه څه دي د غرب مفکرین ورسره مخ شول او لامل شول چې هغوی د ځیزونو په پوهېدنه کې له عقلي طریقې څخه ګټه واخلي. خو - د نړیوالې فضا د اغېزمنېدو په پام کې نیولو سره- هغه ساینسي طریقه، ساینسي افکار او ساینسي علوم وګڼې او د انسان او چاپېریال په درک کې یې له تېروتنې سره مخ شي. لکه څنګه چې پورته هم یاده شوه، په افکارو او څېړنو کې یې د دې تېروتنو بېلګې ډېرې لیدل کېږي. دوی انسان په لابراتوار کې له تر مطالعې لاندې څېزونو سره پرتله کړ او پایلې یې له غلطیو او تېروتنو سره تر لاسه کړې. دلته د دوی د تېروتنو د لا ښه پوهاوي لپاره یوه بېلګه یعنې د دوی مفکوره له غریزو او د هغو له اړخونو سره داسې تر څېړنې لاندې نیسو.

په دې دلیل چې هغوی د انسان د واقعیت لپاره له ساینسي طریقې څخه استفاده کړې، له تېروتنې سره مخ شول. هغوی د انسانانو کړنې وکتلې او هغو ته یې د عمل د ترسره کولو له انګېزې سره ارتباط ورکړ. یعنې هغوی د ساینسي لیدلوري پر بنسټ یوازې هغه متعددې کړنې وکتې چې له انسان څخه کېدې. دې چارې هغوی له سم مسیر څخه کاږه کړل او غلطې پایلې یې تر لاسه کړې. خو که یې د انسان واقعیت د تفکیر د عقلي طریقې پر بنسټ درک کړی وای، ښایي له اوس څخه یې مختلفې پایلې لاس ته راوړې وای، که څه هم دا پایلې ظني هم وای. یعنې د انسان واقعیت یې کره ارزیابي کړی وای او دماغ ته په لېږد یې د هغوی کړنې د مخکنیو معلوماتو په رڼا کې تعبیر کړې وای. خو هغوی د ساینسي مسیر په وهلو، غلطې او ناسمې پایلې لاس ته راوړې. د بېلګې په توګه وېې ویل: چې د انسان غریزې ډېرې دي چې مختلف ډولونه ، لکه د ملکیت غریزه، د وېرې غریزه او د ټولپالنې (جمع ګرایي) غریزې پکې شاملې دي. د دوی تېروتنه په دې کې وه چې د غریزې او غریزې د ښکارندوی (رجع) ترمنځ یې توپیر ونه کړ. ځکه غریزه یا د ژوند د مخ ته بېولو لپاره بنسټیزه انرژي، د هغه له ښکارندوی (مظهر) سره توپیر لري او باید یو له بل څخه یې توپیر وشي. غریزه د انسانانو د شتو او جوهر یوه برخه ده، چې نه شو کولی هغه د انسان له وجود څخه سلب، تغیر او یا هم وځپو. دا غریزه د خپل یوه ښکاروندوی په اډانه کې څرګندېږي. نو غریزه د

انسان د یو وجودي او جوهري توک په توګه له ښکاروندوی (مظهر) سره یې توپیر لري. مظهر د انسان وجودي او جوهري جز نه دی او حتی د غریزو مظهر (یا رجع او یا د غریزې د مړېدو په پایله کې ظاهري بڼه) سلب، درولی او یا هم تغیرولی شو. د بېلګې په توګه، غرور او د پالنې یو ډول د نفس د پایښت د غریزې دوه مظهره ګڼل کېږي. ممکنه ده چې دې دوو مظهرو درملنه وشي، ودرول شي او حتی وځپل شي.
په ورته بڼه، د ښځو په لور شهواني تمایل د نوعې د بقا (پایښت) غریزې یو ډول دی او همداراز د مور په لور تمایل، د نوعې د بقا غریزې یوه رجع ګڼل کېږي. په دې حالت کې د جنسي غریزې جوهر د بدلون، تعدیل، ځپلو او یا د سلب وړتیا نه لري، خو مظهر او رجع یې د درملنې، ځپلو او بدلون وړ دي. د بېلګې په توګه، د نوعې د بقا غریزې ښکارندوی په لاندې ډول خلاصه کولی شو: د ښځو په لور شهواني تمایل، د مور په لوري له شفقت او ترحم څخه ډک تمایل، د خور په لوري د زړه سواندۍ تمایل، د زوی، لور او... په لور له نازولو ډک تمایل. په دې توګه شونې ده چې د ښځو په لور د شهواني تمایل، د مور او خور په لور د مهربانه تمایل په وسیله درملنه وشي. ځکه چې مهرباني، شفقت او ترحم جنسي او شهواني میل کنترولولی شي. لکه د غرور درملنه د نوع پالنې په وسیله. ممکنه ده چې له مور سره مهرباني او شفقت، ښځې ته میل کم کړي او برعکس هم امکان لري. نو پر دې اساس ممکنه ده چې د غریزې یو مظهر په بل بدل او یا معالجه شي. یا یو مظهر د بل په وسیله تنظیم شي. نو د غریزې مظاهر د توقف، سلب او معالجې وړ دي. خو د غریزې جوهر هېڅکله د انسان له بدن څخه نشي سلب کېدي او نه هم د غریزې د ځپلو امکان شته، غریزه د انسان جوهر او داسې برخه ده چې هېڅکله د مظهر په څېر، د انسان له هستۍ څخه جلا نه ده.
خو ارواپوهان د انساني غریزو په پوهاوي کې له تېروتو سره مخ شول او د انساني غریزو حدود او څرنګوالی یې په ناسمه بڼه درک کړ. حال دا چې د انساني غریزو واقعیت داسې دی: انسان درې ټاکلې غریزې لري: د نفس د پایښت غریزه، د نوع غریزه او د تدین غریزه. ځکه انسان تل په خپل پایښت بوخت دی او په همدې دلیل د شیزونو د ملکیت لپاره اقدام کوي. له خطرونو او ګواښونو څخه وېرېږي، شجاعت

ښيي، له همپالنې سره مينه لري او د هغه په څېر کړنې د خپل نفس د ساتنې په موخه تر سره کوي. خو بايد په دې پوه شو چې وېره غريزه نه ده او نه هم ملکيت غريزه ده. نه شجاعت غريزه ده او نه همپالنه او نوع پرستي. بلکې دا ټول د نفس د پايښت د غريزې رجع او مظاهر ګڼل کېږي. د ښځو په لور شهواني تمايل، له شفقت او مهربانۍ ډک تمايل د مور په لور، د هغه چا په لور تمايل چې د ډوبېدو په حال کې دی، له ارمنو سره د مرستې تمايل؛ دا ټول په واقعيت کې غريزې نه دي، بلکې ټول د نوعې د پايښت غريزې ښکارنوی ګڼل کېږي، نه جنسي غريزه. په جنسي غريزه کې انسان او حيوان دواړ شاملېږي. حيوان ته د انسان او انسان ته د حيوان طبيعي تمايل شته دی. خو د يوه سړي شهواني تمايل د يوه حيوان لور ته غير معمول او غير طبيعي دی. ځکه غريزه د طبيعي تمايل څخه عبارت ده نه د غير طبيعي. يعنې د سړي تمايل د بل سړي په لور هم يو غير عادي او غير طبيعي تمايل ګڼل کېږي، چې په حقيقت کې د غريزې انحراف دی. نو اصل مساله د نوعې د بقا غريزه ده، نه جنسي غريزه. د دې غريزې موخه د انسان د نسل دوام دی، نه د حيوان د نسل. په همدې ترتيب د خالق د عبادت په لور تمايل، د اتلانو او لويانو د احترام، تعظيم او تکريم لور ته تمايل او د قدرتمنو خلکو لور ته د احترام تمايل؛ دا ټول د تدين د غريزې مظاهر دي. انسان په فطري ډول د بقا او همېشني ژوند قوي داخلي احساسات لري او په مقابل کې که هر څوک د ده بقا او تلپاتې ژوند ګواښي؛ له همغه ګواښ سره متناسب په عمل لاس پورې کوي. لکه وېره او زړورتيا، بخل او سخا، وګړيز يا ډله ييز عمل. دا ډول اقدامات له جوړ شوي ګواښ څخه د انسان د پاملرنې پر اساس کېږي. همدا احساسات دي چې انسان عمل ته اړ باسي. په واقعيت کې د انسان ټول عملونه د هغه د پايښت همېشني ژوند لپاره د احساس پايله ده. دا انسان حتی د انساني نسل لپاره هم د پايښت او همېشني ژوند غوښتونکی دی. د هر هغه څه پر وړاندې اقدام کوي چې انساني نسل له ګواښ سره مخ کوي. په طبيعي ډول، څه شی چې انساني نسل وګواښي؛ د هغه ګټې او ژوند هم ګواښي. نو له انساني نسل څخه دفاع په واقعيت کې د انسان د وجود او بقا څخه دفاع ده او د نوعې د ګواښ پر اساس په عمل لاس پورې کوي. په همدې اساس ښکلې

ښځې ته کتل، په ده کې شهواني تمايل يو ځای کوي، د مور ليدل په ده کې ترحم يو ځای کوي او د ماشوم ليدل د زړه سوي او شفقت تمايل پکې يو ځای کوي. نو انسان په خپل وجود کې د همدې احساس په جوړېدو، عمل کوي. ځينې وخت دا اقدام د ده د غوښتنې مطابق او ځينې وخت د ده غوښتنې مخالف ترسره کېږي. که انسان د خپل دې احساس په قناعت او اشباع کې ناکام شي او يا ونه توانېږي چې د انساني نسل د بقا لپاره رامنځته شوی احساس اشباع کړي، په دې حالت کې انسان بل حالت ته مخه کوي چې هماغه د انقياد او تسليمېدو حالت دی. دا انقياد – ايجاد شوي احساس له مخې- ښايي الله سبحانه وتعالی ته يا يوه مشر او يا يوه قدرتمن شخص ته وشي. نو پر دې اساس د بقا لپاره وګړييز احساس، د نسل دوام يا طبيعي زيان؛ د غريزو اصلي سرچينه ده او همدا احساس دی چې د عملونو توليدوونکی دی او همدا عملونه دي چې د انسان د وجودي او جوهري غريزو ښکارندونه جوړوي. مظهر عمومي جنبه لري او له دريو څخه په يوه غريزه پورې تړاو لري او غريزې يوازې درې ډوله دي او بس.

په دې تعبير چې انسان په ذاتي او فطري ډول حياتي ځواک لري او دا حياتي ځواک دی چې د اشباع لپاره يې تر فشار لاندې راولي. دا ځواکونه چې دواړه احساس توليدوي، خو د اشباع له نظره دوه مختلف ډولونه دي. د يو ډول ځواک اشباع حتمي ده، په داسې حال کې چې د بل ډول حتمي نه ده. په بله وينا د انسان د حياتي ځواک لومړی ډول چې انسان د هغه اشباع ته مجبوروي، که اشباع نشي، انسان خپل ژوند ته دوام نشي ورکولی او له مړينې او نابودۍ سره مخ کېږي. دا ډول ځواکونه عضوي اړتياوې بلل کېږي، لکه لوږه، تنده، د حاجت رفع کول او د ژوند غوښتنو ته ځواب. دويم ډول يې اشباع ته اړتيا لري، که اشباع نشي، انسان له منځه نه ځي، بلکې يوازې انديښمن، خپه او بې حاله پاتې کېږي. يعنې د دې ځواک نه مړول د انسان د مرګ لامل نه، بلکې د خپګان او انديښنې لامل کېږي. دې ډولونو ته غريزې ويل کېږي چې درې ډوله دي: د نفس د پايښت غريزه، د نوعې غريزه او د تدين غريزه.

دا وه د انساني غريزو او عضوي اړتياوو په اړه سمه او د واقعيت مطابق وينا چې د انسان له سم درک څخه په لاس راغله. که چېرې غربي مفکرينو د انسان واقعيت د

تفکیر د عقلي طریقې په وسیله درک کړی وای، یعنې د انسان واقعیت یې د مخکینو معلوماتو په رڼا کې د حواسو له لارې په سمه بڼه مطالعه او تعبیر کړی وای، په دقیقه توګه سمې پایلې ته رسېدل. خو هغوی هڅه وکړه چې د انسان واقعیت د تفکیر د ساینسي طریقې پر بنسټ درک کړي، یعنې د انسان واقعیت یې داسې مطالعه کړ چې ګواکي ماده (لابراتواري موجود) مطالعه کوي او د انسان تفکیر یې داسې مشاهده کړ چې ګواکي یوازې د انساني کړنو ارزونه ده. هغوی د انسان د واقعیت درک د تفکیر د ساینسي طریقې پر بنسټ لارورکي کړل او لامل شو چې د انسان واقعیت غلط او ناسم درک کړي او علوم لکه ارواپوهنه بنسټ وګرځوي. حتی بیخي له دایرې ووتل او نور علوم لکه ټولنپوهنه او د ښوونې او روزنې اصول یې په لاس راوړل. حال دا چې دا ټول؛ علوم نه دي، بلکې د انساني واقعیت له نظره تېروتنه ده. دا تېروتنه د غربي مفکرینو یعنې اروپا، امریکا او وروسته د شوروي مفکرینو وکړه او لامل شوه چې کمونست مفکرین دا برخې د انسان د مختلفو اړخونو په مطالعه کې منځته راوړي. هغوی په دې ترتیب د تفکیر ساینسي طریقه تر دې کچې ټولیزه کړه چې هر څیز او هرې برخې د دې طریقې له درک پرته د پرمختګ امکان نه درلود. د دې تېروتنې سره هر هغه څوک مخ کېږي چې هڅه کوي د انسان واقعیت د تفکیر د ساینسي طریقې پر اساس درک کړي.

د تفکیر ساینسي طریقه ناسمه نه ده، خو سموالی یې هغه مهال تامینېدلی شي چې په سم مسیر کې وکارول شي. یعنې لازمه او حتمي ده چې دا طریقه په تجربو، څېړنو او ساینسي مطالعو پورې محدوده شي. د ساینسي طریقې تېروتنه هغه مهال را برسېره کېږي چې دا طریقه له ساینسي چارو او مواردو او لابراتواري چارو پرته وکارول شي. د بېلګې په توګه د تفکیر ساینسي طریقه د ژوند، کایناتو او انسان (عقلي عقیدې) د لیدلورې په درک کې په بشپړه توګه ناسمه ده. یا د انسان، ټولنې، کایناتو، تاریخ، فقې او تدریس د درک لپاره د تفکیر د ساینسي طریقې څخه ګټه اخیستنه سمه نه ده. نو دا طریقه باید په ساینسي مواردو کې چې لابراتواري تجربې ته اړ دي، محدوده شي او له پورتنیو مواردو پرته یې کارونه ناسمه ده.

دا تېروتنه یعنې پر ټولو شیزونو او چارو د تفکیر ساینسي طریقې تطبیق هغه مهال را منځته شوه، چې د تفکیر ساینسي طریقه د تفکیر د بنسټ په توګه ونیول شوه. ځکه د تفکیر ساینسي طریقه د تفکیر د بنسټ په توګه نیول، دا لازموي چې د شیزونو د مطالعې لپاره هره بله مفکوره، پر دې طریقه برسېره تاسیس شي. تېروتنه همدلته را منځته کېږي، ځکه د تفکیر د ساینسي طریقې لارویان په دې حال کې باید هکر فکر او مفهوم د هغې پر اساس جوړ کړي، خو ګڼ افکار دي چې ددې طریقې په کارولو سره له تېروتنې سره مخ کېږي. لکه د ژوند نظام، د غریزو واقغیت، د عقل واقعیت، د ښوونې او روزنې واقعیت او نور هم د همدې طریقې پر اساس تشرېح کېږي. له شک پرته چې همدا چاره د سوسیلېزم د مفکرینو د انحراف لامل شوه او د ارواپوهنې، ټولنپوهنې او د ښوونې او روزنې اصولو علوم یې منځته راوړل. سربېره پر دې د تفکیر د بنسټ په توګه د دې طریقې انتخاب، ډېر اصول او حقایق له منځه یووړل او ډېر نور اصول یې د بحث له دایرې وایستل او د ډېرو شیزونو موجودیت یې تر پوښتنې لاندې راووست چې د هغو موجودیت محسوس، مشهود او د انکار وړ نه و.
تر دې ور ها خوا د تفکیر ساینسي طریقه یوه ظني طریقه ده او پایلې یې هېڅکله قطعي نه دي. یعنې په هغه کې د تېروتنې احتمال د دې طریقې له اساسي اصولو څخه دی. نو ساینسي طریقه د تفکیر د اساس په توګه نیول، د تېروتنې له احتمال سره، صحیح نه دي. ځکه دا طریقه ظني پایلې حتی د شیزونو د موجودیت او نه موجودیت په باب حاصلوي. حال دا چې ډېر شیزونه شته چې موجودیت یې باید حتمي په قطعي او جازمه بڼه درک شي. ساینسي طریقه د اساس په توګه ټاکل چې ظني پایلې لېږدوي، د قطعي او جازمو پایلو د تر لاسه کولو لپاره سم نه دي. همدا ټکی بسنه کوي ترڅو یوه ظني طریقه د تفکیر د بنسټ په توګه وانه خیستل شي.
له دې امله تفکیر یوازې دوې طریقې لري: لومړی عقل او دویم ساینس. نو له استدلال او پایلو څخه چې په پورتنیو کرښو کې لاس ته راغلل، په بشپړه توګه څرګنده شوه چې د تفکیر لپاره بله طریقه نشته. ساینسي طریقه یوه غوره او ګټوره طریقه ده، خو یوازې د علم د یوې برخې لپاره، چې هماغه په تجربو، لابراتواري ازمېښتونو او نورو پورې

اړوند څېزونه او چارې دي. دا طريقه د تفکير له عقلي طريقې سره په بشپړه توگه توپير لري. د تفکير عقلي طريقه جامع ده او ټول څېزونه پکې شاملېږي. نو لازمه ده چې عقلي طريقه د تفکير د بنسټ په توگه واخيستل شي. افکار د همدې طريقې پر بنسټ رامنځته کېږي او حتی ساينسي حقيقتونه په جامع بڼه د کتنې، تجربې او پايلې اخيستنې په وسيله، د همدې طريقې پر اساس د درک وړ دي. ساينسي طريقه په واقعيت کې د همدې طريقې پر بنسټ څرگندېږي او ساينسي حقيقتونه د همدې طريقې پر بنسټ لاس ته راځي. پر دې سربېره تاريخي حقيقتونه او د سمو او ناسمو رواياتو ترمنځ توپير د همدې طريقې پر بنسټ ممکن دی، د ژوند، کايناتو او انسان په اړوند ټوليز ليدلوري د همدې طريقې پر اساس منځته راځي. په ورته وخت کې د تفکير د عقلي طريقې پايلې، قطعي او جازمې پايلې د څېزونو د موجوديت او نه موجوديت په باب لاس ته راوړي. خو د څېزونو د صفتونو، ځانگړتياوو او څرنگوالي په باب د تفکير د عقلي طريقې پايلې ظني دي، خو څنگه چې وويل شول، د موجوديت او نه موجوديت په باب يې پايلې قطعي او جازمې دي. نو پر دې اساس لازمه ده چې يوازې همدا طريقه د تفکير د بنسټ په توگه ونيول شي او نور افکار ورباندې تاسيس شي او په هر ټکي کې چې د عقلي طريقې پايلې د ساينسي طريقې له پايلو سره په ټکر کې شوې، لازمه ده چې يوازې د عقلي طريقې پايلې انتخاب شي، ځکه دا طريقه د څېزونو په موجوديت او نه موجوديت کې قطعي ده، خو د ساينسي طريقې پايلې ظني دي.

نو اوسمهال اساسي ستونزه دا ده چې ساينسي طريقه د تفکير د بنسټ په توگه اخيستل شوې او د همدې طريقې پر اساس په څېزونو او چارو پرېکړه کېږي، چې ډېرې تېروتنې او غلطۍ منځته راوړي. نو لازمه ده چې دا تېروتنه سمه شي او عقلي طريقه د تفکير د بنسټ په توگه انتخاب شي او پر چارو د قضاوت لپاره يوازې همدا طريقه وکارول شي او بس.

# د تفکیر منطقي طریقه

د تفکیر منطقي طریقه، جلا طریقه نه ده، بلکې یو اسلوب دی چې د عقلي طریقې پر اساس مخ ته ځي. د تفکیر منطقي لاره دا ده چې یو فکر پر بل فکر جوړېږي او دا فکر د یو بل فکر لپاره د بنسټ په توګه کار کوي. په پایله کې په احساس پای مومي او ټاکلې پایله ترې اخیستل کېږي. د بېلګې په توګه، سپینه تخته له لرګي څخه جوړه شوې، لرګی د سوځېدو وړ دی او په دې ترتیب سپینه تخته د سوځېدو وړتیا لري. همدارازکه حلال شوی پسه لږ ساه هم ولري، تر ذبحه کېدو وروسته حرکات ترې لیدل کېږي. خو پایله دا لاس ته راځي که حلال شوي پسه هېڅ حرکت ونه کړ، په دې مانا دی چې له منځه تللی دی او ساه نوره پکې نشته. په لومړۍ بېلګه کې د لرګي د سوځېدو وړتیا مفکورې ته له دې مفکورې سره تړاو ورکړل شو چې سپینه تخته هم له لرګي څخه جوړه شوې ده. خو په دویمه بېلګه کې د پسې د نه خوځېدو مفکورې د خوځېدو له مفکورې سره د ساه د موجودیت په حالت کې ارتباط حاصل کړ. نو د تفکیر په منطقي لاره کې که مسالې له افکارو سره اړیکه پیدا کوله او د دې افکارو ترمنځ اړیکه په سمه بڼه تامین شوه، پایله به هم په خپل وار سره سمه وي. خو که اصلي مساله ناسمه وي، پایله به هم ناسمه وي. نو د تفکیر په منطقي کړنلاره کې یو اساسي شرط دا دی، هره مسله چې فکر پر هغې منځته راځي، باید د واقعیت په احساس پای ومومي. یعنې د هرې مسلې پای چې ټاکل شوې ده د منطقي کړنلارې پر اساس مطالعه شي، باید د واقعیت یوه ټاکلي احساس ته ورسېږي او دا مساله د تفکیر په منطقي کړنلاره کې د اساسي محور په توګه وپېژندل شي. نو پر دې اساس منطقي کړنلاره د عقلي تفکیر یو ډول دی چې د شیزونو او واقعیتونو په فهم او درک کې له تېروتنو، غلطیو، انحراف څخه خالي نه دی. ټینګار او یادونه یې لازمه ده چې د شیزونو په مطالعه او علمي څېړنو کې په ځانګړې توګه په لومړیو پړاونو کې، باید د تفکیر له دې کړنلارې څخه استفاده ونشي، بلکې د تفکیر له عقلي طریقې څخه باید ګټه واخیستل شي.

دويمه طرحه شوې پوښتنه بايد هېره نه کړو: لومړی دا چې د څيزونو د مطالعې په جريان کې د تفکير د ساينسي طريقې د پام او تمرکز وړ ټکی، د څيزونو او تر مطالعه لاندې توکو په باب د هر ډول مخکني قضاوت او مخکنيو باورونو له منځه تلل دي. يعنې هغوی په دې ترتيب د څيزونو د مطالعې جريان ته د همدې څيزونو په اړوند د مخکني قضاوت او باور په پام کې نيولو پرته دوام ورکړ او هغه د ساينسي طريقې پر بنسټ علمي څېړنې بولي. حال دا چې پورتنۍ مفکوره سمه ده، خو بايد په قاطع توگه واضح شي چې يادې څېړنې هغه علمي څېړنې دي چې د تفکير د عقلي طريقې پر اساس يې جريان پيدا کړی، نه د تفکير د ساينسي طريقې پر اساس. يعنې يوازې مسير او اسلوب يې ساينسي دی، خو اساس او پای يې عقلي دی. مخکنی قضاوت دلته په مطالعه پورې اړوند څيز پورې تړاو پيدا کوي او عقلي طريقه دلته داسې عمل کوي چې واقعيت د حواسو په وسيله دماغ ته لېږدوي. په داسې حال کې چې ساينسي طريقه يوازې په کتنه او تجربه تمرکز لري. همدا موضوع ده چې مهمه کرښه يې رسم کړې او عقلي طريقه له ساينسي څخه توپيروي. په بله وينا انسان د عقلي طريقې پر اساس چې کله د يو څيز موجوديت حس کړ، د هغه څيز په موجوديت باور پيدا کوي، خو انسان د ساينسي طريقې پر اساس يوازې هغه مهال د يو څيز په موجوديت باور پيدا کوي چې لابراتواري تجربه يې ثابت کړي. که د لرگي په بېلگه کې دا موضوع واضح شي، يعنې د مسالې په درک کې بسنه کوي، خو په ساينسي طريقه کې بايد لرگي ته اور ورکړل شي چې انسان يې د سوځېدو په وړتيا باور پيدا کړي. يعنې د تفکير په عقلي طريقه کې د مخکنيو معلوماتو موجوديت يو اړين او لازمي توک دی. په داسې حال کې چې د تفکير په ساينسي طريقه کې چندان اهميت نه لري، که څه هم له مخکنيو معلوماتو پرته هېڅ ډول تفکر امکان نه لری. خو د دې مسايلو لکه مخکنی قضاوت يا مخکني باورونو له طرحې څخه د دوی موخه، په واقعيت کې د روانو ازمېښتونو په باب مخکينۍ پايلې دي، چې انسان مخکينۍ پايلې د اوسنيو ازمېښتونو په اړوند قياس نه کړي. يعنې حتی د مخکني قضاوت او مخکنيو معلوماتو موضوع د ازمېښتونو په باب د مخکينۍ پايلې په بڼه او له هغه پرته په مطلقه توگه له کتنو او تجربو سره په تړاو

مطرح کېږي. يعنې د تفکير د ساينسي طريقې لپاره د تمرکز ټکی يوازې او يوازې تجربه او کتنه ده، نه مخکني معلومات يا مخکنی قضاوت.

همدې ټکي ته په کتو سمه ده چې د يوې ساينسي مسالې يا ساينسي څېړنې په باب هر ډول مخکنی قضاوت، مخکنی باور او يا هم مخکينۍ پايله، د راتلونکو پايلو د سموالي په ساتنه کې، بايد د انسان له ذهنه پاک شي. په بله وينا انسان بايد د مطالعې او څېړنې په جريان کې متوجه وي او ځان ډاډه کړي چې د اوسنۍ موضوع په اړه هېڅ ډول قضاوت او يا مخکينۍ پايلې دخالت نه لري او پايلې يې نه اغېزمنوي. د بېلګې په توګه زه باور لرم چې فرانسه او المان هېڅکله د يو واحد دولت په جوړولو د نظر يووالي ته نشي رسېدلی. کله چې زه وغواړم د فرانسې او المان ترمنځ د يووالي په موضوع بحث وکړم، سمه نه ده چې اوس هم د دې دواړو هېوادونو په باب زما مخکنی باور همداسې يو ډول وي، ځکه چې پايلې يې اغېزمنولی شي او ممکنه ده چې چې په پايلو کې يې مستقيم دخالت درلودلی وي. په همدې ترتيب کله چې زه باور لرم چې نهضت له صنعت، اختراعاتو، ښوونې او روزنې پرته ممکن نه دی، دا به سمه نه وي چې ياد باور د خپلو خلکو د بيدارۍ د بحث پر مهال اوس هم په ذهن کې ولرم. يا سمه نه ده چې زه د اتوم په تجزيه بحث کوم، خو له مخکې باور ولرم چې اتوم نور د تجزيې وړ نه دی. نو انسان ته لازمه ده چې د هر څيز يا هرې موضوع د مطالعې پر مهال، هر ډول مخکنی قضاوت يا مخکينۍ پايلې له منځه يوسي ترڅو سمو او سالمو پايلو ته ورسېږي.

خو دا مساله بايد هېره نه کړو چې هغه څه چې د مخکنيو معلوماتو يا مخکني قضاوت په مسير کې له منځه ځي، بايد ظني وي او قطعي قضاوتونه نه وي. ځکه دا يو ټوليز او عمومي اصل دی چې هر کله يو قطعي امر له يوه ظني امر سره په ټکر کې راغی، قطعي امر ته ترجيح ورکول کېږي، ترڅو جزم پر ظن غالب شي او ظن مسترد شي چې په پايله کې سم يقين او باور حاصلېږي. يعنې که تر مطالعه لاندې موضوع ظني وي او پايلې يې هم ظني وي، ستونزه نشته چې د موضوع په باب مخکني قضاوتونه، پايلې او باورونه له منځه ولاړ نشي؛ خو که تر مطالعه لاندې موضوع يوه قطعي موضوع

وي چې پایلې یې هم قطعي دي، په دې حال کې باید هرو مرو هر ډول قضاوت او د موضوع په اړوند مخکینۍ پایله له پامه وغورځول شي. دا کار ځکه کېږي چې یقین حاصل شي چې د موضوع د مطالعې پایلې او یا تر څېړنه لاندې څیز سم او له تېروتنې لرې دی. په همدې ترتیب که تر مطالعه لاندې مساله ظني وي، سمه نه ده چې په مطالعه کې یې مخکني قضاوتونه چې قطعي دي، په پام کې ونه نیول شي. په دې مساله کې د تفکیر د عقلي او ساینسي طریقې ترمنځ هېڅ توپیر نشته. له شک پرته چې د اوسنۍ موضوع په مطالعه کې د مخکنیو قضاوتونو مداخله، ډېره ورانوونکې ده.
خو هغه څه چې د څیزونو په عیني واقعیت او هدفمنه مطالعه پورې ارتباط پیدا کوي؛ دا دی چې نه یوازې مخکنی قضاوت او مخکینۍ پایلې د څیزونو په مطالعه کې ځای لري، بلکې د پام وړ بحث باید تر مطالعه لاندې پر هماغه واقعیت محدود شي. د بېلګې په توګه کله چې انسان غواړي د زیتون غوړي مطالعه کړي، لومړی دا چې د سمو پایلو د پیدا کولو لپاره باید مخکني قضاوتونه له منځه یوسي او دویم دا چې له بهر څخه باید څه شی د هغه په پایلو کې مداخله ونه کړي. یا کله چې انسان غواړي چې د خلافت صنعتي سیاست مطالعه کړي، سمه نه ده چې څه مفکوره، یو څیز او یا یوه موضوع مداخله پکې وکړي. یا کله چې انسان غواړي د شرعې له احکامو یو حکم استنباط کړي، باید د توقع وړ ګټې، د خلکو غبرګون او یا د هغو منفي اغېزې په پام کې ونه نیسي. نو د انسان دماغ باید پر همغه موضوع پورې محدود وي چې تر مطالعې لاندې ده او د مطالعې په جریان کې باید تر هغه د باندې ولاړ نشي. نو پر دې اساس عیني واقعیت او یا هدفمنه مطالعه یوازې د مخکنیو پایلو او مخکنیو قضاوتونو د دخالت د مخنیوي په مانا نه ده، بلکې د بحث د محدودولو او پر هماغه مساله یا واقعیت پورې د بحث د منحصرولو په مانا هم ده.
په ورته وخت کې د منطقي کړنلارې په باب باید وویل شي چې منطق معمولاً په هغو مسایلو کې کارول کېږي چې د غلطۍ او تېروتنې احتمال ډېر زیاتوي او دا چاره د سیاست او قانون جوړونې لپاره ډېره خطرناکه ده. د منطقي کړنلارې پایله د مختلفو قضیو پر اساس لاس ته راځي او د دې قضایاوو د سمون او بطلان درک ساده کار نه

دی. دا چاره په ډېرو ډګرونو کې د دې لامل کېږي چې اصله موضوع پټه پاتې شي او ناسمې پایلې د منطقي قضایاوو پر اساس لاس ته راشي. سربېره پر دې متضادې پایلې د منطقي کړنلارې پر اساس لاس ته راځي. د بېلګې په توګه قران د الله سبحانه وتعالی وینا ده او د الله سبحانه وتعالی وینا له پخوا څخه موجوده وه، نو قران ابدي دی. ضد پایله یې داسې ده: د الله سبحانه وتعالی وینا په عربي نازله شوې او عربي د بشر زېږنده ده، نو قران مخلوق دی. منطقي کړنلاره کولی شي حتی ګمراه کوونکې پایلې رامنځته کړي. بله بېلګه، مسلمانان وروسته پاتې دي، وروسته پاتې او منحط دي، نو ټول مسلمانان منحط دي. لیدل کېږي چې دتفکیر منطقي کړنلاره کولی شي ډېرې داسې خطرناکې او مضرې پایلې او لاسته راوړنې په لاس راوړي چې له حقیقي او واقعي پرمختګ څخه د امتونو او ملتونو د کږېدو لامل کېږي. نو د تفکیر منطقي کړنلاره یوازې د تفکیر د یو اسلوب او روش حیثیت لري او تر دې زیات څه نه دي. له بل لوري منطقي کړنلاره مناسبه ګټه نه لري او ډېره زیان راوړونکې ده او ممکن د نړۍ ملتونه او امتونه له بدختۍ سره مخ کړي. له دې امله خلک باید په خپل تفکیر کې له منطقي کړنلارې څخه د ګټې اخیستنې مخه ونیسي.

که څه هم د تفکیر منطقي کړنلاره د عقلي طریقې یو اسلوب او روش ګڼل کېږي، خو بیا هم په بشپړ ډول یو پېچلې او مبهمه کړنلاره ده چې د ناسمو پایلو تولیدوونکې ده او په ځینو مواردو کې ممکن متضادې پایلې هم ولري. تر دې ور هاخوا هر چا چې هڅه کړې ترڅو یو څیز د تفکیر د منطقي کړنلارې پر اساس درک کړي، هرو مرو یې لیدلي چې منطقي کړنلاره په مستقیمه توګه د څیزونو محسوس واقعیت ته پاملرنه نه کوي، بلکې په پای کې دا کړنلاره د واقعیت په اړه احساس ته رسېږي. په دې ترتیب ویلی شو چې د تفکیر منطقي کړنلاره د تفکیر درېیمه طریقه بلل کېدی شي. خو له هغه ځایه چې د منطقي کړنلارې پایلې ډېری ناسمې او ضد وي، غوره ده چې له اره له دې کړنلارې ګټه وانه خیستل شي او په بدل کې ډېره غوره ده چې یوازې د تفکیر پر عقلي طریقې تکیه وشي او بس.

په هر حال په بشري تفکیر کې سمه، طبیعي او اساسي طریقه هماغه عقلي طریقه ده

او همدا طریقه د قران او اسلام بحث دی. پر قران ځغلنده نظر ښیي چې دغه سپېڅلي او اسماني کتاب د تفکیر له عقلي طریقې څخه ګټه اخیستې. برابره ده چې دا مساله د احکامو او اعمالو له ایتونو څخه استنباط شي او یا هم افکارو او مفاهیمو له ایتونو څخه. دې ایت ته پاملرنه وکړئ:

﴿ فَلْيَنظُرِ الْإِنسَانُ مِمَّ خُلِقَ ﴾ (الطارق، ۵ )

*«نو انسان باید ځیر شي چې له څه شي څخه پیدا شوی ؟»*

﴿ أَفَلَا يَنظُرُونَ إِلَى الْإِبِلِ كَيْفَ خُلِقَتْ ﴾ (الغاشیه، ۱۷)

*«آیا دوی اوښ ته نه ګوري چې څنګه پیدا شوی؟»*

﴿ وَآيَةٌ لَّهُمُ اللَّيْلُ نَسْلَخُ مِنْهُ النَّهَارَ فَإِذَا هُم مُّظْلِمُونَ ﴾ ( یاسین، ۳۷ )

*«د دوی لپاره بله نښانه شپه ده چې په ورځ پسې راځي، نو پر دوی تیاره خورېږي. »*

﴿ مَا اتَّخَذَ اللَّهُ مِن وَلَدٍ وَمَا كَانَ مَعَهُ مِنْ إِلَهٍ إِذاً لَّذَهَبَ كُلُّ إِلَهٍ بِمَا خَلَقَ وَلَعَلَا بَعْضُهُمْ عَلَى بَعْضٍ سُبْحَانَ اللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴾ ( مؤمنون، ۹۱ )

*« الله هېڅوک اولاد نه دی نیولی او له هغه سره کوم بل خدای نشته، که داسې وای، نو هر خدای به خپل مخلوق را اخیستی او بېل شوی به وای او یو پر بل به یې برلاسي کوله. الله تعالی له هغه څه نه پاک دی چې دوی یې نسبت ورته کوي.»*

﴿ يَا أَيُّهَا النَّاسُ ضُرِبَ مَثَلٌ فَاسْتَمِعُوا لَهُ إِنَّ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ لَن يَخْلُقُوا ذُبَاباً وَلَوِ اجْتَمَعُوا لَهُ وَإِن يَسْلُبْهُمُ الذُّبَابُ شَيْئاً لَّا يَسْتَنقِذُوهُ مِنْهُ ضَعُفَ الطَّالِبُ وَالْمَطْلُوبُ ﴾ (الحج، ۷۳)

*«اې خلکو! یو مثال راوړل کېږي په غور یې واورئ: تاسو چې له الله تعالی پرته کوم*

*معبودان رابولۍ، که هغوی ټول راټول شي يو مچ نشي جوړولی، بلکې که مچ له دوی څخه يو ووړ څيز وتښتوي، نو هغه هم نشي ترې را گرځولی. په واقعيت کې مرسته غوښتونکی او مرسته کوونکی دواړه کمزوري دي.»*

﴿ لَوْ كَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ إِلَّا اللَّهُ لَفَسَدَتَا فَسُبْحَانَ اللَّهِ رَبِّ الْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴾

(انبيا، ۲۲)

*«که له الله تعالی پرته نور خدايان هم وای، نو (د ځمکې او اسمان دواړو نظام) به گډوډ شوی وای. نو د عرش پيداکوونکی خدای پاک دی له هغه څه چې دوی يې نسبت ورته کوي.»*

پورنتي ايتونه د نورو قراني ايتونو په څنگ کې انسان ته حکم کوي چې په محسوس واقعيت کې فکر وکړي او دماغ ته يې ولېږدوي، چې دماغ محسوس واقعيت د مخکنيو معلوماتو په رڼا کې تعبير کړي. په ورته وخت کې قرانکريم د احکامو په بحث کې داسې وايي:

﴿ حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَاتُكُمْ ... ﴾ ( النسأ، ۲۳ )

*«ستاسې ميندې (د نکاح لپاره) پر تاسو حرامې دي...»*

﴿ حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ ... ﴾ (المائده، ۳)

*«مرداره ( د مړه شوي) غوښه پر تاس حرامه ده ...»*

﴿كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ ... ﴾ (بقره، ۲۱۶)

*«جنگ پر تاسو فرض شوی دی، که څه هم ستاسې خوښ نه وي...»*

﴿ ... فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ ... ﴾ (البقره، ۱۸۵)

«... که چېرې یو چا (دا میاشت) په (خپل کور کې) پیدا کړه، نو روژه دې ونیسي...»

﴿... وَشَاوِرْهُمْ فِي الأَمْرِ ... ﴾ (آل عمران، ۱۵۹)

«... او په چارو کې مشوره ورسره وکړه...»

﴿... أَوْفُواْ بِالْعُقُودِ ... ﴾ (المائده، ۱)

«... په خپله ژمنه وفا وکړئ ...»

﴿ بَرَاءةٌ مِّنَ اللّهِ وَرَسُولِهِ إِلَى الَّذِينَ عَاهَدتُّم مِّنَ الْمُشْرِكِينَ ﴾ (توبه، ۱)

«هغو مشرکانو ته د الله او د هغه د پیغمبر له خوا د بېزارۍ اعلان دی، چې تاسو تړون ورسره کړی و.»

﴿... وَأَحَلَّ اللّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا ... ﴾ (البقره، ۲۷۵)

«... الله بیع (مشروع پېر او پلور) حلال او سود یې حرام کړی دی...»

﴿ فَقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللّهِ لاَ تُكَلَّفُ إِلاَّ نَفْسَكَ ... ﴾ (النسأ، ۸۴)

«اې پیغمبره! د الله تعالی په لاره کې وجنګېږه (حتی که یوازې هم وې) ته له خپلو (اعمالو) پرته د هېچا مسول نه یې...»

﴿... حَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى الْقِتَالِ ... ﴾ (الانفال، ۶۵)

«... مومنان جنګ ته وهڅوه...»

﴿... فَانكِحُواْ مَا طَابَ لَكُم مِّنَ النِّسَاء مَثْنَى وَثُلاَثَ وَرُبَاعَ ... ﴾ (النسأ، ۳)

«.. له ښځو سره په خپله خوښه او انتخاب واده وکړئ، له دو، دریو او یا څلورو سره...»

﴿... فَإِنْ أَرْضَعْنَ لَكُمْ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ ... ﴾ (الطلاق، ٦)

*«...او که يې ستاسو ماشوم ته شيدې ورکولې، نو هغو ته به اجوره ورکوئ...»*

يعنی الله سبحانه وتعالی په مستقيمه توګه له مسلمان انسان څخه غواړي چې په دواړو برخو - احکامو او عقايدو- کې په مستقيم ډول تفکر او تعقل وکړي. ځکه ياد ايتونه د محسوسو پېښو لپاره لمس کېدونکي احکام بيانوي. د يادو پورتنيو ايتونو درک د تفکير د عقلي طريقې پر اساس شونی دی، نه د منطقي طريقې پر اساس. حتی په لاندې ايت کې الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿ لَوْ كَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ إِلَّا اللَّهُ لَفَسَدَتَا ... ﴾ (انبيا، ٢٢)

*«که له الله تعالی پرته نور خدايان وای، ربښتيا هم چې ځمکه فاسېدېده...»*

پورتنی ايت منطق نښيي نه مفهوم. ځکه ايت په ښکاره توګه د يوې قضيې پر بلې له مرتب کېدو پرته، په مستقيمه توګه انسان ته خطاب کوي او د هغه له عقل څخه د دوو خدايانو د موجوديت د امکان پوښتنه کوي. دا احتمال هېڅکله د افکارو د منطقي تسلسل پر بنسټ نه دی رامنځ شوی.
نو پر دې اساس يوازينی طريقه چې خلک د هغه پر اساس د څيزونو، پېښو او د چارو قضاوت په اړه تفکر او تعقل وکړي، عقلي طريقه ده، ترڅو قطعي پايلې په هغو مواردو کې چې جزم ته اړتيا لري، وپوښتي او په ورته مهال کې د تفکير د عقلي طريقې څخه په ګټه اخيستنې خلک کولی شي چې سمو او صحيحو ته نږدې پايلو ته ورسېږي. البته په هغو مواردو کې چې پايلې يې ظني وي، عقلي طريقه څنګه چې مخکې بيان شوه، په هغو مواردو کې چې پايلې يې قطعي وي، جازمه او قطعي ده. تفکير يوازينی ارزښت دی چې انسان ته ښښل شوی او هغه يې د ځمکې پر مخ تر بل هر مخلوق څخه لوړ کړی. نو لازمه ده چې د تفکير پر مهال عقلي طريقې ته ځانګړې پاملرنه وشي.

# د تفکیر موضوعات

تفکیر په هر ډګر کې چې وي، که د حقایقو، پېښو او یا هم نصوصو په فهم کې وي؛ په طریقه او نورو عناصرو کې نوي کېدو ته اړتیا لري، چې لازمې پایلې تر لاسه شي. له هغه پرته یې د پایلو په صحت او بطلان کې هېڅ ضمانت نشته. نو پر دې اساس د تفکیر په طریقه کې یوازې تفکر بسنه نه کوي، باید د تفکیر د نفس په باب هم تعقل وشي چې تفکیر د حالاتو، شرایطو، پېښو او ګڼو څیزونو په جریان کې مطالعه شي.
خو تر ټولو وړاندې لیدل کېږي چې ایا د تفکیر لپاره ټاکل شوی مسیر سم دی که نه؟
تفکیر د انسان، ژوند او کایناتو، موخو، وسایلو او نورو مواردو په باب اړین دی او همداراز تفکیر د هغې وینا چې ویل کېږي او هغه چې د متن له مخې لوستل کېږي لکه نصوصو؛ په باب هم فوق العاده حیاتي اهمیت لري.
خو د دې په باب چې په څه شي کې تفکیر سم دی او په څه شي کې ناسم او اشتباه دی، باید وویل شي که څه هم چې د دې موضوع څرنګوالی د عقل له تعریف څخه په ډاګه کېږي؛ خو بیا هم دا چاره خلکو او حتی مفکرینو ته د یوې غټې ستونزې او کړاو د رامنځته کېدو لامل شوې. د تفکیر د عقلي طریقې له تعریف څخه په بشپړه توګه څرګندېږي چې عقل یعنې دماغ ته د حواسو په واسطه د محسوس واقعیت لېږد ترڅو یو قضاوت او یا پایله لاس ته راشي. یعنې که له اره واقعیت موجود نه وي، په حقیقت کې د تفکیر شرایط برابر نه دي او په واقعیت کې تفکیر ناشونی دی. د محسوس واقعیت نشتوالی د تفکر او تعقل وجود تر پوښتنه لاندې راولي. د همدې موضوع درک د بشري تاریخ ډېرو مفکرینو ته اسانه نه دی. د بېلګې په توګه د یوناني فلاسفه وو د بحث په محور کې اصلاً کوم محسوس واقعیت نه و او د دماغ په وېش کې د ښوونې او روزنې د علماوو مطالعې هم داسې مطالعې نه دي چې د محسوس واقعیت پر بنسټ شوې وي. دې ته ورته، د الله سبحانه وتعالی د صفتونو، جنت او دوزخ، فرښتو او نورو په څرنګوالي کې د اسلامي امت مطالعې هم د غیر محسوساتو پر چاپېر څرخېدلې دي. له همدې امله ډېری خلک عادت شوي او په هغو مواردو

کې يې تفکير کړی چې له اره محسوس واقعيت نه لري او مستقيمه پايله يې دا وه چې خلک ونه پوهېدل چې تفکير د څه شي په باب سم او د څه څيز په باب ناسم دی.
د دې سره سره چې تفکير په قطعي مسايلو لکه عقيده کې ځای نه لري، خو که څوک وغواړي چې د عقل تعريف او د عقل دنده په سمه او سالمه توګه درک کړي او هغه د خپل تفکير د بنسټ په توګه وټاکي، بله لار نشته پرته له دې چې د محسوس واقعيت احساس پيل کړي. هر هغه څه چې محسوس واقعيت ونه لري، پر هغه باندې تفکر نشو کولی او يا هغه د تفکير جريان ته نشو داخلولی او هر ډول پروسه چې د هغه د عقلي درک لپاره په کار واچوو، عقلي نه ده او نه هم عقلي نومول کېدای شي. د بېلګې په توګه د «لومړي عقل» يا «دويم انساني تعقل» مفکوره تر تخيلاتو او فرضيو زيات څه نه دي. موضوعات يې تر حس لاندې نه دي داخل شوي او يوازې تخيل او تيوري ده چې د فرضيو له اتصال څخه يې پايله لاس ته راځي. ځکه چې تصور او تخيل تفکير نه دی، بلکې يوازې تخيل دی، حتی که دا ډول تخيلات او فرضيې د رياضياتو په ډګر کې هم وکارول شي، بيا هم تفکير عقلي نه دی. په همدې ترتيب د يونان د فلاسفه وو افکار، عقلي افکار نه دي او نه هم د تفکير عقلي طريقې پايله ګڼل کېږي، بلکې ټول د تخيلاتو او فرضيو يوه مجموعه ده.
هغوی په همدې ترتيب انساني دماغ په مختلفو برخو وېشي چې په هره برخه کې خپله ځانګړې پوهه شامله ده. دا وېش هم له تخيل او فرضيې پرته زيات څه نه دي. سربېره پر دې چې واقعيت محسوس نه دی، بلکې د انساني دماغ د څرنګوالي مخالف هم دی. يعنې د تفکير د عمليې په جريان کې هېڅ ډول د واقعيت انعکاس پر دماغ نه کېږي. نو ياده مفکوره نه يوازې دا چې د دماغ له واقعيت سره په ټکر کې راغله، بلکې يوازې او يوازې تخيل او فرضيه ده او د تفکير د عقلي طريقې هېڅ اغېزه نه پکې ليدل کېږي.
په ورته مهال کې د الله سبحانه وتعالی د قدرت د صفت د کيفيت بيان، د الله سبحانه وتعالی د قادروالي د څرنګوالي اظهار او قدرت د يو اساسي شرط په توګه او حتی د عقلي دلايلو د وړاندې کولو لپاره هڅه، دا ټول داسې افکار نه دي چې له محسوس

واقعیت څخه منځته راغلي وي. هر ډول اظهارت او بیانات چې د الله سبحانه وتعالی د دغو صفتونو د جزیاتو په باب رامنځته کېږي، تفکیر نه دی او د تفکیر د عقلي طریقې حاصل نه دی. د الله سبحانه وتعالی د قدرت واقعیت او کیفیت د انسان تر حواسو لاندې نشي واقع کېدی.

که څه هم په ډاګه شوه چې د تفکیر عقلي بهیر هغه مهال رامنځته کېږي چې محسوس واقعیت په مستقیمه توګه تر انساني حواسو لاندې راشي. خو په کایناتو کې ډېر څیزونه او چارې شته چې د محسوس واقعیت خاوندان دي، خو په مستقیم ډول تر انساني حواسو لاندې نه راځي، خو انسان کولی شي چې د هغه د موجودیت اثر د خپلو حواسو له لارې (په غیر مستقیمه بڼه) دماغ ته ولېږدوي. په دې ډول چارو کې بیا هم د تفکیر عقلي بهیر پېښېږي. ځکه واقعیت د انسان په حواسو محسوسېږي او دماغ ته لېږدول کېږي، که څه هم دا احساس یوازې د هغه څیز د اغېزې په باب وي. خو دا ټکی مهم دی چې یاد عقلي بهیر چې د څیزونو د اغېزې له امله رامنځته کېږي، یوازې د څیز د موجودیت او نه موجودیت په باب دی نه د هغه د صفتونو په اړه. هغه احساس چې له څیز څخه رامنځته کېږي، یوازې د څیز په موجودیت دلالت کوي نه په زیات څه. د بېلګې په توګه، کله چې یوه الوتکه په ډېره لوړه ارتفاع کې پرواز کوي، انسان د ځمکې له سطحې په لوڅو سترګو او له ټیکنالوژیکي وسایلو پرته دا الوتکه (د سر په سترګو) نشي لیدی، خو اواز یې اوري. په واقعیت کې د الوتکې اواز په اسمان کې د الوتکې موجودیت ښیي، خو عقل د دې الوتکې د صفتونو او کیفیت په اړه په څه نه پوهېږي. په لوړو ارتفاعاتو کې د الوتکې اواز یوازې د الوتکې موجودیت ښیي او بس. ځکه اواز یې په خپله دا ښیي چې د یوې الوتکې په وسیله تولید شوی. دلته عقلي بهیر یوازې د الوتکې د موجودیت په اړه شوی دی، خو د الوتکې د څرنګوالي په اړوند هېڅ ډول عقلي تفکیر شونی نه دی. دلیل یې هم دا دی چې الوتکه په بشپړه او مستقیمه توګه تر انساني حواسو لاندې نه ده راغلې، بلکې د هغه اواز په وسیله چې تولید کړی یې دی؛ وپېژندل شوه. یعنې د هغه د اغېزې پر اساس یې د الوتکې موجودیت درک کړ. په بله وینا د انسان دماغ د غږ له مخې پرېکړه وکړه چې الوتکه د اسمان په لوړو

ارتفاعاتو کې ده، خو د هغې د ځانګړتیاوو او صفتونو په باب هېڅ ډول قضاوت نشي کولی. دا هم سمه ده چې د مخلتفو ډولونو الوتکو د غږونو ترمنځ هم توپیر وشي. د «Mirage» او «Phantom» شرکتونو د الوتکو غږونه یو له بل سره د توپیر او تمیز وړ دي، خو دا توپیر هم یوازې د هغوی د اواز د اورېدو له لارې امکان لري، نو دال د الوتکې پر موجودیت هم یوازې د غږ له لارې ممکن دی. پر دې اساس هغه څه چې د شیزونو د احساس په پایله کې تولیدېږي، فکر دی او هېڅوک د شیزونو د موجودیت په باب دا ډول تفکر تر پوښتنې لاندې نشي راوستی. له همدې لامله سمه نه ده چې وویل شي د الوتکې موجودیت یو احتمال دی. ځکه د الوتکې موجودیت، د هغه د احساس د اغېز له لارې، د عقل په واسطه په قطعي ډول درک شوی دی. حتی که د الوتکې د شرکت په ډول پرېکړه، احتمال وي؛ د الوتکې موجودیت احتمال نه دی. په حقیقت کې کېدای شي د تفکیر عقلي طریقه قطعي وي – په ځانګړې توګه د موجودیت او نه موجودیت په باب - او یا هم ظني وي – په ځانګړې توګه د شیزونو د څرنګوالي او صفتونو په باب.

د شیزونو او موجوداتو د اغېزې په باب، د هغوی د موجودیت په اړه د تفکر په مانا دی او په دې ترتیب هر هغه څه چې اغېزه یې د تعقل وړ وي او په حواسو درک شي؛ موجود دی. نو په دې ډګر تفکر سم دی او له هغه څخه په ګټې اخیستنې د شیزونو موجودیت – د هغه له نورو ډولونو څخه په توپیرولو– په قطعي توګه درک کولی شو. له دې پرته په نورو مواردو کې تفکر شونی نه دی او عقلي حاصل نه ورکوي، بلکې یوازې تخیل او فرضیه ده. د بېلګې په توګه تفکر د شیزونو په صفتونو – نه د هغوی په اغېزه– ځینې وخت په چارو د قضاوت لپاره د وسیلې په توګه کارول کېږي چې تېروتنه ده. د بېلګې په توګه امریکا «ازادي» د یو مفهوم په توګه اخلي چې په ښکاره د امریکا نه استعماریتوب ښیي. د ازادۍ مفکوره د استعمار له مفکورې سره چې د ملتونو استبدادي انقیاد دی؛ توافق نه لري. حال دا چې د امریکا تر پولو د باندې ازادي یوه اغېزه نه ده، بلکې ازادي د امریکا د دولت یو صفت ګڼل کېږي. په حقیقت کې په ټاکلو ځانګړتیاوو او صفتونو د یو شیز ستایل؛ په دې مانا نه دي چې یاد صفتونه دې

د ځیز اغېزه وبلل شي او د ځیزونو او چارو د قضاوت لپاره دې ګټه ترې واخیستل شي. په دې ترتیب تفکر د ځیزونو په صفتونو ممکن نه دی او حواس دا صفتونه نشي حس کولی چې په سمه او مناسبه بڼه یې دماغ ته ولېږدوي. نو د اعمالو لپاره د ځیزونو ځانګړتیاوې او صفتونه معیار نیول، سم نه دي او د تفکیر د عقلي طریقې د انحراف لامل کېږي. عمل د یو ځانګړي صفت پر اساس نه تر سره کېږي، بلکې د (ملاحظاتو) کتنو او صفتونو د مجموعې پر اساس تر سره کېږي. بله بېلګه، اسلام د عزت دین دی او دا مانا نه ورکوي چې هر مسلمان دې عزتمن وي، ځکه عزت دین نه دی، بلکې د دین له مفاهیمو څخه دی. د دې په څنګ کې که چېرې انسان دین مني، یعنې دین ته خپله ژمنه اعلانوي. دا ژمنه د دین اغېزه نه ده، بلکې یو صفت او ارزښت دی. نو ځرګنده شوه چې تفکیر په صفتونو او ځانګړتیاوو کې ممکن نه دی او پایله یې له تخیلاتو او فرضیو پرته بل څه نه ده. د ځیزونو اغېزه ممکن د حواسو په وسیله دماغ ته ولېږدول شي، خو د ځیزونو صفتونه امکان نه لري چې د حواسو په وسیله دماغ ته ولېږدول شي. خو ځینې وخت امکان لري چې د لمس وړ ځیزونه د حواسو په وسیله درک شي او حتی ځرنګوالی یې هم دماغ ته ولېږدول شي چې په دې اړه د تفکیر د بهیر په لاره اچول لرې نه دي. نو پر دې اساس د ځیزونو د صفتونو او ځانګړتیاوو په باب تفکر باید د ځیزونو په قضاوت کې د یوې وسیلې په توګه ګټه ترې وانه خیستل شي. دا بهیر یو عقلي بهیر نه ښیي. په بله وینا تفکیر د ځیزونو د صفتونو او ځانکړتیاوو په اړه د قضاوت د صدور لپاره سم نه دی. حواس د ځیزونو صفتونه د ځیزونو د اغېزې په څېر په مستقیمه بڼه نشي درک کولی. په ځینو حالاتو کې امکان لري چې دا صفتونه او ځانګړتیاوې له منطقي قضایاوو څخه په ګټې اخیستنې درک شي چې په هغه صورت کې نور له صفتوالي څخه بهر دی او د یوې قضیې په بڼه را پورته کېږي چې د تفکیر د موضوع په توګه د یوې ټاکلې کړنلارې پر اساس تر مطالعه لاندې نیول شوی دی. فرضیې یوازې یو تصور دی او احساس نه دی. تېروتنه همدلته رامنځته کېږي چې تصورات، تخیلات او فرضیې د افکارو په توګه ونیول شي.

امکان لري څوک ادعا وکړي چې په تفکیر د محدودیتونو وضع کول او له هغه څخه

يوازې د هغو چارو د درک لپاره ګټه اخيستل چې په حواسو درک کېږي، له دې توپير پرته چې په صفاتو يا اغېزه درک شي، په لمس کېدونکو شيزونو کې د تفکير د محدودولو په مانا دی. په بله وينا، په تفکير محدوديت وضع کول او يوازې په حس کېدونکو شيزونو کې له هغه شخه ګټه اخيستل د تفکير د ساينسي طريقې د اساس نيولو په مانا دی. د تفکير ساينسي طريقه هم د لمس او کتنې وړ شيزونو باندې تمرکز کوي، نو دلته بيا هم دتفکير عقلي طريقې ته ونه رسېدو؟ د دې ادعا ځواب داسې دی چې د تفکير ساينسي طريقه، تفکر يوازې په لمس کېدونکو شيزونو کې نه محدودوي، بلکې د تفکير د ساينسي طريقې اساسي او حياتي شرايط د شيزونو کتنه، تجربه او لابراتواري تجزيه ده. يعنې د تفکير ساينسي طريقه يوازې د شيزونو په احساس اتکا نه کوي، بلکې تجربې او کتنې هم لازمې دي. نو په لمس کېدونکو شيزونو کې تفکر محدودوي، هغه شيزونه چې په کتنه او لابراتواري تجربه پورې محدود دي او د انسان تر حواسو لاندې په لابراتوار کې واقع کېږي. دا چاره ښيي چې ساينسي طريقه په تفکير کې د بنسټ او معيار په توګه ونيول شي، بلکې د لمس کېدونکو شيزونو په مطالعه کې يوه سمه کړنلاره ده. ځکه د شيزونو موجوديت او هغوی تر لابراتواري کتنه او تجربه لاندې راتلل حتمي ګڼي. خو عقلي طريقه هم د شيز د واقعيت له ليدلورې په همدې ټکي تمرکز کوي. مګر په عقلي طريقه کې د مخکنيو معلوماتو موجوديت يوازې او يوازې د مسالې اصل نه دی، مخکني معلومات د واقعيت د درک لپاره يوازې يو شرط دی، ځکه که واقعيت معلومات ونه لري، يوازې احساس به وي او بس. يعنې واقعيت بايد په بشپړه توګه د حواسو په وسيله درک شي. نو د تفکير واقعيت دا دی چې په لمس او حس کېدونکو شيزونو کې چې د انساني حواسو په وسيله درک کېږي؛ واقع کېږي، نه په هغو شيزونو کې چې واقعيت يې تصور شي او يا د تخيل په بنه د شيزونو په موجوديت استدلال وشي. نو دا بيان چې د ځمکې پر مخ لومړی انسان د تعقل او يا تفکر قوې خاوند و؛ تفکير نه دی. ځکه چې د ځمکې پر مخ د لومړي انسان واقعيت د درک او حس وړ نه دی. نو پر دې اساس اوسنی انسان بايد بنسټ او معيار وټاکل شي او هغه پايلې چې د اوسني انسان له مطالعې حاصلېږي، د ځمکې پر مخ لومړي

انسان او حتی انساني نژاد او جنسیت د پلي کېدو وړ دي او تفکیر ګڼل کېږي. انسان له انساني نژاد او جنس څخه دی چې د نژاد او جنسیت له مخې یو له بل سره توپیر نه لري. دا چاره د خاورې د ذرې په څېر ده چې د خاورې د نورو اجزاوو په نمونه تر مطالعه لاندې نیول کېږي. یعنې هغه پایلې چې د خاورې له یوې ذرې حاصل شوې، پر نورو ټولو ذرو د هغو د جنس په پام کې نیولو پرته، پلې کېږي. برابره ده چې له ورته جنس څخه نورې ذرې، درک او حس شوې دي که نه؟ ځکه یوازینی څیز چې په دې برخه کې مهم دی، هغه دا دی چې د څیز واقعیت او یا اغېزه د درک او حس وړ ده او تفکیر په هغه ځای کې چې د څیز واقعیت او یا اغېزه یې د حس او درک وړ نه وي، له اره شونی نه دی.

نو پر دې اساس هغه معلومات او یا پایله چې د چارو په قضاوت له واقعیته بهر او یا د څیزونو له اغېزې په لاس راځي؛ تفکیر نه دی او نه هم د تفکیر عملیه ګڼل کېږي، بلکې هغه یوازې تصور، تخیل، فرضیه ده او بس. انساني تعقل د څیز د واقعیت له درک او یا د څیز له اغېزې پرته، له اره کارول کېږي نه. یعنې تفکیر یوازې او یوازې د څیز د واقعیت او یا د څیز د اغېزې په درک ، رامنځته کېږي. نو هغه پایلې چې د څیز له درک او واقعیت پرته حاصلېږي، که په لیکنۍ بڼه وي، که د وینا په بڼه، تفکیر نه دی او نه هم فکري تولید دی، نو په دې ترتیب فکر نه ګڼل کېږي.

باید له یاده ونه ایستل شي چې نه لیدل کېدونکو څیزونو یا هماغه مغیباتو په اړوند پوښتنې شته. داسې چې ایا مغیبات یوازې د مفکر له نظره غیب دي که د حواسو له نظره؟ ایا د مغیباتو په هکله تفکیر واقعاً د تفکیر عملیه ده که نه؟ ایا هغه څه چې له مغیباتو څخه په لاس راځي، فکر دی که نه؟ د دې پوښتنو ځواب داسې دی چې مغیبات د هغه چا لپاره چې په اړه یې فکر کوي، په واقعیت کې نه لیدل کېدونکي نه دي، بلکې د حاضر او شاهد په توګه لیدل کېږي. د واقعیت درک هغه مهال رامنځته کېږي چې د ځمکې پر مخ یو وګړی محسوس واقعیت درک کړي، خپل دماغ ته یې ولېږدوي او لازمه نه ده، هغه څوک چې د یو غایب څیز په اړوند فکر کوي، هرو مرو یې دې په خپلو حواسو درک کړي، لیکن په هغه صورت کې چې د بشر له نورو وګړیو

څخه یو وګړی یاد واقعیت درک کړی وي. له همدې امله کله چې یو وګړی د مکې او بیت المقدس په باب فکر کوي، داسې نه ده چې د دې دوو ښارونو وجود د ده لپاره غیب دی، بلکې محسوس دی. ځکه چې د بشر نورو وګړیو د هغو واقعیت درک کړی دی او په اړه یې تفکر، د نه لیدل کېدونکو شیزونو په اړوند تفکیر نه دی. بلکې د هغو محسوسو شیزونو په باب تفکر دی چې غیر مفکر شخص درک کړي دي. محسوس شیزونه یوازې هغه شیزونه نه دي چې احساس شي، بلکې شیزونه په حقیقت کې هغه مهال محسوس دي چې د انساني حواسو له لارې د اخیستنې (برداشت) وړتیا ولري. په دې صورت کې هر څه چې له مفکر شخص څخه حاصلېږي، تفکیر دی او د دماغ عملیه په دې ډګر کې فکري عملیه ګڼل کېږي. نو تاریخ د افکارو په توګه پېژندل کېږي، که څه هم له زرګونو کلونو مخکې خبر وکړي. ټول مخکني معلومات چې د تاریخ له لارې موږ ته رسېږي، فکر دی او په هغه کې د دماغ عملیه، فکري عملیه ګڼل کېږي. د مختلفو پېښو خبرونه چې د تلګرام یا انټرنیټ له لارې هغو انسانانو ته رسېږي چې له اره یې دا پېښې نه دي لیدلي، فکر دی او په هغوی کې د دماغ عملیه فکري عملیه ده، نه تخیلي. نو د یو شیز په باب تفکیر چې د غایب وګړي او د بشر د نورو وګړیو لپاره موجود وي، مغیبات نه دي، بلکې محسوسات ګڼل کېږي او دا فکر یوازې مفکر وګړي ته د لوستلو، اورېدلو او نورو اسالیبو په واسطه لېږدول کېږي. دا هم یوازې په هغو شیزونو د پلي کېدو وړ دي چې واقعیت او یا هم اغېزه یې د حواسو په وسیله د درک او حس وړ وي. له هغه پرته یې په باب تفکیر ناشونی دی او پوهه نه ترې حاصلېږي. بې شکه په هغو شیزونو کې بوختیا چې نه یې واقعیت د درک وړ دی او نه یې اغېزه، د وخت ضایع کول دي او له تخیل او فرضیې پرته حاصل نه لري. مغیبات او یا نه لیدل کېدونکي شیزونه د پیغام د لېږد د منبع پر اساس بدلېدونکي دي. په دې تعبیر که چېرې مغیبات له یوې باوري او یا داسې سرچینې څخه رسېدلي وي چې وجود یې په قطع او جزم د انسان په حواسو درک شوی وي، د فکر په توګه وپېژندل شي او په هغه کې د انساني دماغ عملیه، د تفکیر عملیه ګڼل کېږي. که چېرې د وګړي موجودیت چې د هغه له راوي څخه نقل کوي، ډاډ موجود وي او د حواسو

په وسیله په قطعي توګه د درک وړ وي، هم تفکیر ګڼل کېږي. د هغه په څنګ کې اړتیا ده چې د ده د وینا صدق هم د حواسو په وسیله په قطعي بڼه ثابت شوی وي. که معلومات د یوې داسې منبع په وسیله انتقال شي، تفکیر دی او ممکنه ده چې د څیز واقعیت او یا هم اغېزه یې د حواسو په وسیله درک شوې وي. بل مهم ټکی دا دی که د منبع موجودیت د هغه د وینا پر ډاډ سربېره په قطعي بڼه اثبات شوی وي، تفکیر ګڼل کېږي او په هغه کې د دماغ بوختیا د فکري عملیې په توګه پېژندل کېږي چې د فکر د رامنځته کېدو لامل کېږي. خو دلته لازمه نه ده چې روایتونه یې په قطعي بڼه ثابت شي، ځکه چې صحت او ډاډ د روایتونو له وجود او صدق څخه حاصلېږي، نه د راویانو د ذات له ثبوت څخه. یعنې د دې لپاره چې د فکر یو روایت را منځته شي، لازمه ده چې د وجود او صدق په اړه یې بشپړ ډاډ لاس ته راشي، که څه هم د غالب ګومان پر اساس وي.

په بله وینا دا چې ایا مغیبات د فکر او فکري بهیر په حیث پېژندل کېږي که نه؟ په اساسي توګه په هغه سرچینه پورې چې مغیبات د هغې له لارې لېږدول کېږي، تړاو پیدا کوي. که د یادې سرچینې موجودیت او صدق په قطعي بڼه ثبوت شوی وي، نو مانا یې هم قطعي ده او باید په جازمه بڼه باور ورباندې ولرو، حتی له یوې ذرې شک او تردید پرته. خو که سرچینه یې، یعنې د موجودیت او د سرچینې صدق د قطعیت او جزم پر اساس په ثبوت نه وي رسېدلی، یعنې د غالب ګومان پر اساس حاصل شوی وي؛ باور لازم دی، خو نه په قطعي او جازمه بڼه. په دې حال کې دواړه د عقلي بهیر په توګه پېژندل کېږي او په هغه کې د دماغ بوختیا د تفکیر عملیه ګڼل کېږي. نو هغه څه چې د مسلمانانو لپاره له غیب څخه روایت شوي دي، یا احاد احادیث دي چې د استنباط لپاره باور ورباندې کېږي او یا هم قران دی چې د فکري بهیر په توګه پېژندل شوی او په هغه کې د دماغ عملیه فکري عملیه ګڼل کېږي. خو هغه د غیب موارد چې موجودیت او صدق یې په قطعي بڼه نه دی اثبات شوی، فکر نه دی او نه هم په هغه کې د دماغ بوختیا، فکري عملیه ګڼل کېږي، بلکې یوازې او یوازې تخیل او فرضیه ده. له همدې امله مغیبات له اره مفکوره نه ده او د فکري بهیر په توګه نه پېژندل کېږي او

په هغه کې د دماغ بوختیا فکري عملیه نه ګڼل کېږي، مګر دا چې د موثقې او ثابتې سرچینې په وسیله داسې روایت شوی وي چې موجودیت او صدق یې په قطعي بڼه ثابت شي. مغیبات یوازې په همدې حال کې د افکارو په توګه پېژندل کېږي او د فکري عملیې په توګه کارول کېږي. مغیبات په اساسي توګه په هغه سرچینه پورې چې له هغه نه روایت کېږي، تړاو لري. ځکه ممکنه ده چې د هغې سرچینې پر اساس روایت شوي وي چې محسوسه وي او یا هم د داسې سرچینې پر اساس روایت شوي وي چې موجودیت او صدق یې مخکې اثبات شوی وي. له دې پرته مغیبات له اره د افکارو او فکري عملیې په توګه نه دي پېژندل شوي او یوازې تخیلات دي. ځکه هغه د محسوساتو له دایرې څخه وځي. تفکیر یعنې د هغو محسوساتو درک او فهم چې وجود او یا اغېزه یې په قطعي توګه د درک او حس وړ وي. فکر په واقعیت کې د دماغ بوختیا ده چې یوازې په محسوسو شیزونو کې، که د موجودیت له مخې او که د اغېزې له مخې وي، پایله ورکوونکی دی.

## لومړی. هستي – کائنات، انسان او ژوند

د کایناتو، انسان او ژوند په باب تفکیر، د طبیعت په هکله د تفکیر په مانا نه دی، ځکه د طبیعت په اړه تفکیر، د کایناتو، انسان او ژوند په هکله له تفکیر څخه لوړ دی. همدا راز د د کایناتو، انسان او ژوند په هکله تفکیر، د عالم په باب د تفکیر په مانا نه دی، ځکه چې عالم له الله پرته په هر شیز اطلاق کېږي، یعنې عالم نه لیدل کېدونکي شیزونه لکه شیطان او فرښتې هم را نغاړي. نو دلته اصلي موخه د د کایناتو، انسان او ژوند په هکله تفکیر دی او دلته زموږ موخه نه عالم دی او نه هم طبیعت. بلکې یوازې د کایناتو، انسان او ژوند په هکله تفکیر هدف دی او بس. انسان په کایناتو کې ژوند کوي او پوهېږي چې د ژووند خاوند دی. په دې برخه کې د انسان په وسیله د طبیعت مطالعې ته هېڅ لوالتیا نشته. ځکه د کایناتو، انسان او ژوند په باره کې تفکیر د طبیعت د درک لپاره بسنه کوي. په ورته وخت کې د کایناتو، انسان او ژوند څخه بهر د غایبو شیزونو مطالعې ته هېڅ لېوالتیا نشته، ځکه د هغوی مطالعه او په اړه یې تفکیر د انسان

لپاره هېڅ ستونزه نه حل کوي. برعکس انسان او خپل ځان د اوسنیو کایناتو په اډانه کې احساسوي او پوهېږي چې په دې کایناتو کې د ژوند خاوند دی. انسان هغه مهال چې د خپل ښي او کیڼ لاس توپیر وکړی شي، له همغه مهاله یې په ذهن کې پوښتنې را ولاړېږي، لکه دا چې تر ده د مخه څه شی موجود وو، که نه؟ د والدینو موجودیت یې څنګه دی او هغوی چې د ده له والدینو څخه وړاندې یې ژوند کاوه، بالاخره خپل وروستي نیکه ته رسېږي. ایا هغه ژوند چې ده ته ورکړل شوی، نور بشریت ته هم ورکړل شوی که نه؟ ایا له دې ژوند څخه مخکې هم څه شی موجود وو، که نه؟ ایا له لمر او ځمکې څخه مخکې چې د کایناتو د یوې برخې په توګه یېویني او د نورو ستورو په اړه یې اوري او یا لولي، څه شی موجود وو، که نه؟ په بله وینا ایا پورتني څیزونه ازلي دي او د ازلیت پر اساس جریان لري؟ او ایا له هغوی څخه مخکې بل ازلیت موجود و؟ په همدې توګه د وروستني ژوند په هکله پوښتني مطرح کېږي: ایا له د کایناتو، انسان او ژوند څخه وروسته څه شی شته که نه؟ ایا د کایناتو، انسان او ژوند ابدي دي او که بل ابدي څیز شته؟ دا ډول پوښتنې او پلټنې په ځلونو په انساني دماغ کې ښکته پورته کېږي او انسان چې په هره کچه وده او نمو کوي، د دې پوښتنو او پلټنو تسلسل هم لوېږي او د هغه د ژوند د اساسي ستونزې په توګه څرګندېږي او دی یې فطرتاً د حل لپاره هڅه کوي. بې شکه یادې پوښتنې د هغه واقعیت مطالعه ده چې د حواسو په وسیله دماغ ته انتقال شوې او تر هغې چې انسان دماغ لري او سالم دی، دا واقعیت هر ځل احساسوي او پوښتنې هم تکرارېږي. ممکنه ده چې دا پوښتنې په داسې حال کې تکرار شي چې انسان هېڅ ډول درملنه یا حل لاره ورته ونه لري. که چېرې انسان وتوانېد چې یادو پوښتنو ته په قطعي توګه ځوابونه ورکړي، نورې پوښتنې هېڅکله نه تکرارېږي او اساسي ستونزې حل کېږي. خو که یې یادو پوښتنو ته په قطعي توګه ځواب ورنه کړ په دې حالت کې پوښتنې تکرارېږي. که څه هم ممکنه ده چې ځوابونه په موقته بڼه ارایه شي، خو پوښتنې له لږ مهال وروسته بیا راځي او ځواب غواړي. په دې ترتیب انسان فطرتاً درک کوي چې اساسي ستونزه اوس هم نه ده حل شوې. په دې صورت کې پوښتنې همداسې تکرارېږي، تر دې چې انسان قطعي ځواب

پیدا کړي او په بشپړه توګه د ده له غریزو او عواطفو سره موافق وي چې په مستقیمه توګه له واقعیت سره تړاو لري. په دې صورت کې انسان درک کوي چې اساسي ستونزه په پرېکنده بڼه حل شوې ده او یادې پوښتنې نورې نه تکرارېږي. خوکه یادې پوښتنې له غریزې او عاطفې سره سمې حل نشي، په تکراري توګه انسان ته رجوع کوي او د ده د اندیښنې او نا ارمۍ لامل کېږي. په دې صورت کې اساسي ستونزه نه ده حل شوې او د انسان لپاره د اندیښنو او چورتونو سرچینه کېږي. تر هغې چې د اساسي ستونزې درملنه ونشي برابره ده چې درملنه یې بشپړه سمه وي که ناسمه، یوازې د هغه په حل لاره کې ارامتیا بسنه کوي.

د کایناتو، انسان او ژوند په باب تفکیر د انسان په وجود کې حتمي او لازمي دی، ځکه دا چاره په اساسي ډول د انسان په موجودیت پورې تړاو لري او تر هغه چې انسان د تفکیر خاوند دی او د تفکیر وړتیا لري، یادې پوښتنې هم حتمي دي. دلیل یې دا دی چې د کایناتو، انسان او ژوند په هکله احساس شته دی او انسان د هغه لپاره ځواب موندلو ته اړ باسي. نو یادې پوښتنې د انسان او تفکیر له شتون سره تړاو لري او تر کله چې انسان شته دی، یادې پوښتنې هم موجودې دي. ځکه د یاد واقعیت احساس چې د کایناتو، انسان او ژوند په بڼه څرګندېږي، په لازمي توګه داسې معلومات غواړي، چې د دې واقعیت په باب ګټور او په کار راځي. له همدې امله ده چې انسان تل د خپله یا د نورو په واسطه د معلوماتو د پیدا کولو په لټه کې دی او حتی د دې ستونزې حل لاره او معالجه له نورو انسانانو غواړي. خو انسان د خپل انساني ماهیت پر اساس تل هڅه کوي چې پورتنیو پوښتنو ته ځواب ورکړي؛ ځکه دا پوښتنې هېڅکله انسان نه پرېږدي او تل ورسره وي، خو بیا هم انسانانو په بېلابېلو طریقو او اسلوبونو دا پوښتنې ځواب کړې دي. د بېلګې په توګه ځینو په بشپړه توګه له دې پوښتنو مخ ګرځولی او پام نه ورته کوي، ځینې د ځواب په لټه کې دي. په ځانګړې توګه کله چې انسان د خپل عمر په لومړنیو کلونو کې وي، یاد ځوابونه یې د والدینو له لوري ورکول کېږي. کله چې انسان زیږېږي له یادو پوښتنو ازاد وي او پوښتنې یې هغه مهال په ذهن کې مطرح کېږي چې د خپل چاپېریال چارې او شیزونه درک کړي. په دې مهال کې والدین

دي چې د هغه د ژوند د اساسي پوښتنو مسوليت يې پر غاړه اخيستی او د ځوابونو د ارايه کولو هڅه کوي او ماشومان د هغه باور پر اساس چې پر والدينو او يا اولياوو يې لري، ياد ځوابونه په بشپړه خوښۍ او انقياد اوري او ځوابوي يې؛ ځکه هغه کسان چې د دوی پوښتنې ځوابوي، د ماشومانو پر وړاندې لوړ باور لري. اما کله چې انسان د خپل عمر لوړ سن ته رسېږي، زياتره هماغه د خپل ژوند د لومړنيو کلونو د ارايه شويو ځوابونو په اډانه او محدوده کې قناعت کوي، خو يو کم شمېر په ارايه شويو ځوابونو د اعتماد د کموالي له امله ښايي دويم ځل د خپل عمر په لوړو کلونو کې له يادو پوښتنو سره مخ شي او په دې لټه کې وي چې د خپل ژوند اساسي پوښتنو ته ځواب ومومي او هڅه کوي چې يادې پوښتنې په خپله ځواب کړي.

د کايناتو، انسان او ژوند په باب تفکير د هر انسان په وجود کې طبيعي دی او هېڅوک له هغه څخه تېښته نشي کولی. خو ځينې انسانان خپله د اساسي ستونزې د حل په لټه کې وي او ځينې نورو هڅه کړې چې حل يې له نورو پيدا کړي. په هر حال که انسان دا ستونزه د خپلې حل لارې يا د هغه حل لارې پر اساس چې نورو ده ته ورکړې، حل کړه او دا حل د انساني فطرت پر اساس (د درې گونو غريزو مطابق) وي؛ انسان راضي کېږي او د ارامتيا، امن، سوکالۍ او خوښۍ احساس کوي. خو که دې حل لارې له انساني فطرت سره مطابقت نه درلود، له اره انسان د ارامتيا احساس نه کوي او يادې پوښتنې په ځلونو ځلونو ده ته رجوع کوي او حل لاره غواړي، ترڅو چې رامنځته شوې اندېښنه له منځ لاړه شي. نو خورا اړينه او حياتي ده چې انسان د کايناتو، انسان او ژوند په باب تفکير وکړي او خپله اساسي ستونزه له فطرت سره سمه حل کړي.

هو، د ژوند د اساسي ستونزو د حل په باب تفکير، يعنې اساسي پوښتنو ته ځواب يو طبيعي بهير دی، خو دا ډول تفکير کېدای شي سم، ناسم او يا له عقلي بهير څخه تېښته وي. ځکه چې پورتنۍ اساسي ستونزه يوازې د تفکير په عقلي طريقه حل کېږي. خو هغه کسان چې کاينات، انسان او ژوند په ماده پورې تړلی گڼي او د خپلې اساسي ستونزې د حل لپاره ماده مطالعه کوي، تېروتنه ده. ځکه د مادې مطالعه په واقعيت کې د تفکير له عقلي طريقې څخه تېښته ده، چې هرومرو بايد د اساسي ستونزې د حل او

پوښتنو د حل لپاره ګټه ترې واخيستل شي. همدا چاره د ماده پالو کسانو لخوا د بې ځايه او پوچ تفکير لامل کېږي او په واقعيت کې د مادې په مطالعه، د کايناتو، انسان او ژوند په هکله تفکير په بشپړ ډول له پامه غورځوي. ماده د لابراتوار د شرايطو په واسطه مطالعه کېږي، خو دا شونې نه ده چې کاينات، انسان او ژوند هم تر لابراتوار لاندې مطالعه شي. هغه پوښتنې چې دوی يې وګواښل، لامل شوې چې بل پټنځای يعنې د تفکير ساينسي طريقه ولټوي. که څه هم چې د تفکير ساينسي طريقې اساسي ستونزه حل کړه، خو د انساني فطرت پر اساس نه وه. نو ساينسي طريقې ستونزه حل کړه، خو يوازې په وګړييزه دايره کې او د فطرت خلاف، مګر ملتونه او ټبرونه نه دي توانېدلي چې په ډله ييزه توګه خپلې اساسي ستونزې حل کړي او خپلې اساسي پوښتنې ځواب کړي؛ په دې توګه يادې پوښتنې همداسې بې حله پاتې شوې. (د انساني فطرت پر اساس).

هغوی چې د اساسي ستونزو د حل ادعا د وګړييز محورونو پر اساس کوي، په واقعيت کې د ټبرونو، ملتونو، او د وګړو د لويو ډلو د اساسي ستونزې له حل څخه سترګې پټوي؛ ځکه هغوی د اساسي ستونزې حل ته له اره له معيشت (د ژوند له طريقې) سره تړاو نه دی ورکړی او هڅه کوي چې اساسي پوښتنو ته په انفرادي بڼه ځواب ومومي. يعنې اساسي ستونزه د يوې دروغجنې طرحې پر اساس حل کېږي او انسانان په دروغجنه بڼه هڅه کوي چې خپل نفس ته قناعت ورکړي. خو اساسي ستونزه د يوې لويې ستونزې او غوټې په توګه له ټولنو، ملتونو او وګړيو سره پاتې کېږي او هغوی ته حقيقي اسانې او ارامتيا نه ورکوي. ځکه چې ستونزه د فطرت او انساني عواطفو پر اساس نه ده حل شوې، بلکې يوازې ځانونه يې دوکه کړي.

له شک پرته چې د اساسي ستونزې حل يا همغه د کايناتو، انسان او ژوند په باب پوښتنو ته ځواب موندل، دوه اساسي اړخونه لري: لومړی عقلي اړخ، يعنې هغه کار چې د انسان عقلي او فکري بهير يې تر سره کوي. دويم غريزوي اړخ يعنې اساسي ستونزه بايد داسې حل شي چې حياتي انرژي (د انسان فطرت) بشپړ قناعت حاصل کړي او دا قناعت هغه مهال حاصلېږي چې ستونزه د تفکير د عقلي طريقې پر اساس

حل شي، يعنې واقعيت د حواسو په وسيله دماغ ته ولېږدول شي. خو که د انسان د حياتي (فطري) انرژۍ پوره کېدل د تفکير له عقلي طريقې پرته لاسته راشي، په واقعيت کې د تخيل او فرضيې پر اساس حاصل شوې ده، چې د انسان لپاره د حقيقي ارامتيا ډالۍ نه راوړي او ستونزه همداسې د ستونزې په توګه پاتې کېږي. يعنې که ستونزه د تفکير له عقلي طريقې پرته حل شي، له تصور او تخيل پرته زيات څه نه دي، چې پوښتنو ته يې د انساني فطرت پر اساس ځواب نه دی ويلی او هېڅکله انسان ته قناعت او بشپړه ارامتيا نشي ډالۍ کولی.

له همدې امله لازمه ده چې اساسي ستونزه او د کايناتو، انسان او ژوند په باب تفکير د عقلي طريقې پر اساس معالجه شي، هغه هم جازم او غوڅ ځواب چې د انساني فطرت مطابق وي او هېڅکله د يادو پوښتنو بيا راتګ ته لاره پرېنږدي او انسان ته واقعي ارامتيا ورکړي. د انسان لپاره دا سمه حل لاره او واقعي ارامتيا موجوده ده، ترڅو انسان له هغه څخه په ګټې اخيستنې خپلو پوښتنو ته داسې ځوابونه ورکړي او خپلې اساسي ستونزې داسې حل کړي چې فطرت يې قناعت وکړي او پوښتنو ته د بيا راتګ لاره وتړي. پر همدې دليل دا ستونزه يوازې او يوازې د تفکير د عقلي طريقې پر اساس د حل وړ ده او بس.

په واقعيت کې غريزه هغه مهال د اساسي حل لامل کېږي چې د عاجزۍ او ناتوانۍ احساس د هغې په واسطه ايجاد شي او دا احساس د انسان اړتيا په دومره ځواک څرګندوي چې د هغه د مرستې وړتيا ولري. همدا احساس دی چې د اساسي ستونزې حل د انساني فطرت پر اساس تضمينوي؛ خو دا کړنلاره ځينې وخت سمې او سالمې پايلې نه لري، په ځانګړې توګه که غريزه يوازې پرېښول شي؛ ځکه چې په دې حالت کې غريزه د سالم تفکير له موجوديت پرته، له تخيلاتو او تصوراتو نه په ګټې اخيستنې ناسمې او له واقعيت او حقيقت نه لرې پايلې لاسته راوړي. د بېلګې په توګه ممکنه ده ناسمې لارې لکه بت پرستي د خپلې غريزې د مړولو لپاره وټاکي او يا روحانيونو او کشيشانو ته د تقديس او عبادت لامل شي. نو غريزه بايد د بشريت د اساسي ستونزې د حل لپاره يوازې پرې نښودل شي. بلکې تل بايد له تفکير سره يو ځای وي او د کايناتو،

انسان او ژوند په هکله اساسي پوښتنو ته ځواب ووايي. خو له بل لوري دا ځواب باید د غریزې او انساني فطرت د قناعت پر اساس وي. په بله وینا، ځواب باید غریزه او د انسان فطرت داسې اشباع کړي چې د شک او تردید لپاره هېڅ خالي ځاي پرې نږدي. یوازې په همدې حالت کې به ځواب عقلي قناعت او د زړه ډاډ حاصلوي.

## دویم. معیشت

د معیشت په باب تفکیر د انسان په ژوند کې د تفکیر له لازمي ډولونو څخه ګڼل کېږي. ځکه انسان اړ دی چې خپلې غریزې او عضوي اړتیاوې لکه خوړل، څښل، عبادت کول او تر ملکیت لاندې راوستل، پوره کړي. نو لازمه ده چې د معیشت او یا «العیش» په هکله تفکیر وشي او دا تفکیر حتمي او لازمي دی. خو دا ټکی هم باید په پام کې ونیول شي چې یوازې د معیشت په باب تفکیر نشی کولی چې له انسان سره د بېدارۍ او یا د فطري ارامتیا او اسانۍ په برخه کې مرسته وکړي. مانا دا چې که انسان وغواړي چې د حقیقي بېدارۍ په لور وخوځېږي او نېکمرغي، سوکالي او ارامتیا تر لاسه کړي، بله لاره نه لري پرته له دې چې د معیشت په باب تفکیر د کایناتو په هکله د تفکیر د لیدلوري پر اساس نه کړي. ځکه هغه داسې انسان دی چې په کایناتو کې یې ژوند کړی، د کایناتو، خپل ژوند او نفس په اړه مشخص لید لري. نو لازمه ده چې د معیشت په باب هر ډول تفکر او لیدلوری د کایناتو په هکله د لیدلوري پر اساس وي. خو که د انسان د معیشت په اړه تفکیر د کایناتو په اړوند تفکیر او لیدلوري سره واټن ولري او یا جلا وي؛ په دې حال کې د معیشت په هکله د ده تفکیر منحط، سطحي او غیر مبدایي (غیر ایډیولوژیک) دی. نو پر دې اساس انسان نشي کولی چې بشپړه بېداري او واقعي ارامتیا تر لاسه کړي. له همدې امله د کایناتو په اړه تفکیر باید د معیشت په هکله د تفکیر ټولیزه اډانه تشکیل کړي. که څه هم سمه ده چې د معیشت په هکله د انسان تفکیر د عضوي اړتیاوو او غریزو د غوښتنې پر اساس تر سره کېږي او دا ډول تفکیر ښایي چې د ده له نظره په کایناتو پورې تړاو ولري یا نه؛ خو له شک پرته هغه انسان چې د معیشت په باب خپل تفکیر د غریزو او عضوي اړتیاوو د غوښتنې پر اساس د

کايناتو په هکله د تفکير په پام کې نيولو پرته کوي، د ګټور تفکير خاوند نه دی چې دی بيدارۍ ته ورسوي او د نېکمرغۍ د لوړو څوکو په لور لارښوونه ورته وکړي. نو دلته د بحث محور د معيشت په باب د تفکير ډولونه نه دي، بلکې د معيشت په باب تېت او لوړ تفکير د بحث محور دی. د معيشت په باب تفکير بايد د کايناتو په هکله له تفکير څخه وروسته وشي. يعنې هرومرو بايد د تفکير له نورو ډولونو څخه وړاندې – له کايناتو پرته– بحث پرې وشي. ترڅو څرګنده شي چې انسان يوازې په هغه حالت کې کولی شي د معيشت په اړه غوره تفکير ته ورسېږي چې د کايناتو په اړه د ليدلوري پر اساس پلان شوی وي.

دا سمه ده چې د معيشت په هکله تفکير د انسان د نفس په باب تفکير له سطحې سرچينه اخلي او تر کورنۍ او ټبر پورې يې رسېږي. يا ممکنه ده چې د معيشت په باب تفکير د کورنۍ په اړه د انسان د تفکير له سطحې څخه سرچينه اخيستې وي او ملت ته يې ورسېږي. همدارنګه ممکنه ده چې د معيشت په باب تفکير د ملت په اړه د انسان د تفکير له سطحې څخه سرچينه واخلي او ټول امت ته ورسېږي. همداراز شونې ده چې د معيشت په هکله تفکير د امت په اړه د انسان د تفکير له سطحې څخه سرچينه اخيستې وي او ټول بشريت ته ورسېږي. د معيشت په باب په تفکير کې دا ارتقا په اساسي توګه په انساني فطرت کې موجود ده، خو په دې شرط چې د معيشت په باب تفکير د کايناتو په اړه د تفکير پر اساس وي. خو که د معيشت په اړه تفکير د کايناتو په اړه د يوه ټاکلي ليدلوري پر اساس نه وي، په دې صورت کې د معيشت په باب د انسان تفکير هېڅکله يې له نفس څخه پراختيا نه مومي او په هماغه دايره کې محدود او راټولېږي. که پراختيا هم ومومي، له کورنۍ او ټبر څخه يې وړاندې نه ځي. په دواړو حالتونو کې د انسان ځان غوښتنه په هغه کې څرګنده وي او لامل کېږي چې له ده سره د معيشت په باب تفکير همداسې ټيټ او منحط پاتې شي. د معيشت په اړه دا ډول تفکير نه د ويښتيا او نهضت لامل کېږي او نه هم د سوکالۍ او اسانتيا ډالۍ راوړي. له همدې لامله د معيشت په باب تفکير بايد يوازې پرې نه ښودل شي او له خپل بنسټ يعنې د کايناتو په هکله له تفکير څخه واټن پيدا کړي. دا چاره د معيشت په باب د تفکير

د کړېدو لامل کېږي او د انسان د بېدارۍ لامل نه کېږي او نه هم په انسان کې د اسانتيا رامنځته کوي؛ بلکې دا حالت د انسان او دايمي ارامتيا ترمنځ مانع کېږي او د منحطو ملتونو وضعيت يې غوره مثالونه دي.
د معيشت په باب تفکير يوازې د عضوي اړتياوو او غريزو د اشباع په باب تفکير نه دی، که څه هم شونې ده چې دا ډول تفکير د انسان له نفس څخه د هغه د کورنۍ او قوم تر کچې پراختيا وکړي او حتی ملت ته يې ورسېږي. خو له هغه ځايه چې انسان په کايناتو کې ژوند کوي، نو لازمه ده چې د ده تفکير د معيشت په باب دوامدار وي او تر ټولو ممکنې لوړې سطحې ته ارتقا وکړي. يعنې له انسان سره د معيشت په باب تفکير په ممکنه خورا لوړه کچه کې پيدا شي او انسان د يوه انسان په توګه چې په کايناتو کې ژوند کوي، بايد د معيشت په باب تفکر وکړي. هغه هم د انسانيت په کچه، يعنې په داسې بڼه تفکر وکړي چې د انسان غريزې او عضوي اړتياوې د پوره کېدو غوښتونکې دي. دا حالت يوازې هغه مهال د لاسته راوړو وړ دی چې د معيشت په باب تفکير د کايناتو په باب د يوې ټاکلې نظريې پر اساس رامنځته شي، پرته له دې د معيشت په باب هر ډول تفکير منحط او کوم ټاکلی توليد او کافي ګټه نه لري.
له بل پلوه د معيشت په اړه تفکير برابره ده چې په يوه ټوليز ليدلوري د کايناتو، انسان او ژوند په په باب وي يا نه، خو لازمه ده چې د معيشت په اړه دا تفکير مسوليت منونکی او موخن وي. يعنې لازمه ده چې د معيشت په اړه تفکير نورو ته د مسوليت په احساس ترسره شي او هدفمن وي. د معيشت په باب دا ډول تفکر د انساني فطرت پر اساس دی، ځکه چې انسان په ذاتي ډول د خپل همنوع ساتنې ته تمايل لري. په همدې دليل د کورنۍ مسول يعنې پلار د مور او ماشومانو په خېر د معيشت په اړه احساس لري. په ورته مهال کې د يوې قبيلې مشر او د يو قوم او ملت ټول غړي له دې ليدلوري په يوه واحد مسير کې د معيشت په هکله تفکر کوي. ځکه له دې تفکير څخه هر يو يوه ځانګړې موخه تعقيبوي. يعنې ځانګړې موخه د نورو د سوکالۍ او ارامۍ لپاره څاري.
له دې امله ډېره مهمه ده ترڅو د معيشت په باب له تفکير سره د مسوليت احساس وي، ترڅو د انساني معيشت په باب واقعاً يو تفکير وي. د معيشت په اړه غير مسولانه تفکير

په داسې تفکیر وي چې یوازې د غریزو اشباع تضمین کړي او بس او دا هغه څه دي چې حیوان یې هم کوي. نو د انسان لپاره د معیشت په هکله تفکیر یوازې د غریزو او عضوي اړتیاوو د پوره کولو لپاره مناسب نه دی او د انسان دریځ تر پوښتنې لاندې راولي.

خو باید په پام کې ونیول شي چې که هر څو د معیشت په هکله تفکیر په مسولانه بڼه هم وشي، خو بیا هم دا یوازې د هغه د شرایطو پوره کول دي. ځکه چې د معیشت په اړه مسولانه تفکیر د فکري ویښتیا لپاره بسیا نه دی او نه هم د دایمي ارامۍ او سوکالۍ لامل کېږي. بلکه دا یوازې یو ګام دی چې د انسان دریځ د انسان په توګه نسبت حیوان ته لوړوي. له دې پرته د انسان او حیوان ترمنځ توپیر نه پاتې کېږي، حال دا چې انسان د تفکیر له مخې د معلوماتو د ربط وړتیا لري او ممتاز دماغ لري. انسان حیوان نه دی چې یوازې خپلې غریزې او عضوي اړتیاوې پوره کړي او بس.

په حقیقت کې د معیشت په هکله تفکیر داسې تفکیر دی، چې د وګړي، کورنۍ، ډلې، قوم، ملت او امت ژوند ته بڼه ورکوي. په بله وینا، د معیشت په هکله تفکیر د دې لامل کېږي چې د وګړیو، کورنیو، ټبرونو، ملتونو او حتی د انسانیت ژوند ځانته ځانګړی مسیر پیدا کړي. په دې تعبیر چې د معیشت په اړه تفکیر په ډېره کوچینۍ بڼه پیل، خو پایلې یې د خلکو ژوند ته په بڼه ورکولو کې ډېرې لویې وي. د معیشت په اړه تفکیر ممکن دی چې له خاورې پیل او پر طلا پای ومومي. ځکه د معیشت په هکله تفکیر یو باعزته، دایمي ارام او سوکاله ژوند منځته راوړی شي او یا هم له ستونزو، سختیو او پرېشانیو ډک ژوند منځته راوړی شي، چې په هغه کې انسان په یوه ګوله ډوډۍ پسې ګرځي او بس. د معیشت په هکله په کپیټلستي تفکر لنډ مرور واضح کوي چې کپیټلیستي تفکر ژوند ته څنګه بڼه ورکوي او هغه طریقه چې دغه نظام د معیشت په هکله د تفکر لپاره کارولې، څنګه فضا یې ایجاد کړې چې ټول انسانان د خپل ژوند په اوږدو کې د یوې ګولې ډوډۍ په لاسته راوړلو بوخت دي او په دې برخه کې له ډول ډول کړکېچونو، ناارامیو، ستونزو او سختیو سره مخ کېږي. د معیشت په باب کپیټلستي تفکر د انسانانو ترمنځ د کشمکش او دایمي سیالیو پر اساس رامنځته شوی

او د انسانانو ترمنځ یې اړیکه د یوې ګولې ډوډۍ پر اساس تنظیم کړې ده چې اساس یې «یا زه دا ډوډۍ خورم کوم یا ته» دی. دا مبارزه او کشمکش تر هغه وخته دوام پیدا کوي چې یو لوری د یوې ډوډۍ په خوړلو بری ومومي او د بل لوري د ناکامۍ سبب شي او یا داسې کېږي چې له هغې ډوډۍ یوه ټوټه یوه لوري ته ورکول کېږي چې له منځه لاړ نشي او مړ نشي او نوره ډوډۍ بل لوري ته پاتې کېږي چې د هغوی ډوډۍ زیاتې شي. په کپیټلېزم کې د معیشت په اړه دا ډول تفکر د کایناتو، انسان او ژوند په باب د یوه ټولیز لیدلوري پر اساس کېږي، خو بیا هم د انسانانو ترمنځ د بدبختۍ، غمونو، درد او پرېشانۍ سبب شوی. دا نظام د معیشت په اړه یو نظر لري چې د انسانانو ترمنځ د ډوډۍ پر سر د دایمي شخړې لامل کېږي. خو د معیشت په هکله کپیټلېستي تفکر د هغه ملتونو او ټبرونو د پرمختګ او ویښتیا لامل شو چې خپل ژوند یې د هغه پر اساس جوړ کړ؛ خو د نور بشریت د بدبختۍ او بدمرغۍ لامل شو. له شک پرته چې د معیشت په اړه کپیټلېستي تفکر د استعماري او اقتصادي ګټې د مفکورې د ایجاد او ودې سبب کېږي. دا ډول تفکر د دې لامل شوی چې محدود وګړي په داسې حالت کې ژوند وکړي چې ډوډۍ یې په طلایي لوښو کې د نوکرانو لخوا ورکړل شي او په ورته مهال کې زیات کسان په داسې حالت کې اچوي چې د دوی لپاره د نوکرۍ له دندې بې برخې دي او اصلاً د ژوند کولو له حقه محروم دي. د دې حالت بېلګې په بډایو هېوادونو لکه امریکا او برېټانیا کې لیدل کېږي. تر دې ور هاخوا، د معیشت په هکله کپیټلېستي تفکر لامل شوی ترڅو استعماري او اقتصادي ګټې اخیستنې مفکوره، مصیبتونه او زیاتې بدبختۍ لکه غلامي او له امریکا او اروپا پرته د نورو هېوادونو تخریب رامنځته کړي. په انساني ټولنو کې د یادو ستونزو او بدبختیو اصلي لامل د معیشت په هکله غیر مسولانه تفکیر دی. داسې تفکیر چې هېڅ پاملرنه نورو ته نه لري او یوازې خپل پایښت ته فکر کوي. که څه هم په ځینو حالاتو کې یې د خپل ځان، کورنۍ، ټبر او ملت په اړه مسولانه تفکیر کړی، خو هېڅکله یې د بشریت په هکله په مسولانه او بااحساسه توګه د معیشت په اړه تفکیر نه دی کړی، ځکه د هغوی تفکیر یوازې پر غریزو او عضوي اړتیاوو تکیه کوي او بس.

خو سوسیالستانو د معیشت په اړه داسې تفکر ایجاد کړ چې په لومړیو کې مسولانه و، په ځانګړې توګه د نورو په اړه یعنې د بېوزلو او کارګرو په باب. خو وروسته وروسته داسې منحرف شول چې یوازې نوم یې پاتې شو او بس. د معیشت په هکله سوسیالېستي تفکر په تدریجي بڼه انحراف وکړ او په پای کې په هغه کې د نورو په اړه هېڅ د مسولیت احساس پاتې نشو. په اخر کې د معیشت په اړه سوسیالېستي تکفیر په بشپړه توګه له کپیټالېستي تفکیر سره یو شان شو. دا چاره د دې لامل شوه ترڅو د معیشت په باب سوسیالېستي تفکر یوازې د یو معیشتي نظر په توګه د یو ملت په محدوده کې پاتې شي او هېڅکله د نور بشریت په لور انتقال ونه کړي.
نو پر دې اساس د معیشت په باب هغه تفکر چې اوسمهال په نړۍ کې حاکم دی، که څه هم چې د کایناتو، انسان او ژوند په باب د یوه ټولیز نظر پر اساس یې په امریکا، اروپا او روسیه کې ځان ټینګ کړی، خو بیا هم ژوند ته یې داسې بڼه ورکړې چې د نورو په اړه هېڅ د مسولیت احساس په دې تفکیر کې موجود نه دی. ممکنه ده ځینې کسان داسې ګومان وکړي چې ګواکي د منحطو قومونو ترمنځ د معیشت په هکله غیر مسولانه تفکیر طبیعي دی. خو باید هېره نه کړو چې دا کسان په ورته وخت کې باید وپوهېږي چې څه ډول یې د غرایزو د اشباع لپاره د غلام نیونې او ګټې اخیستنې هڅې، نورو ته پاملرنه او د ټول بشریت پر وړاندې د مسوولیت احساس یې له منځه وړی دی. نو که څه هم نن ورځ په نړۍ کې پوره پرمختګ منځته راغلی، خو بیا هم د معیشت په هکله غیر مسولانه تفکیر شتون او د نورو په اړه د مسولیت نه احساس، لامل شوی ترڅو ډېر خلک له ستونزو او شدیدو غمونو سره مخ شي. په دې تعبیر چې اوسنۍ نړۍ د معیشتي تفکر له نظره هېڅکله پرمختګ نه دی کړی او همدارنګه په دې برخه کې هم وروسته پاتې دي. له هغه ځایه چې د معیشت په باب اوسني تفکر، بشریت له بې شمېره سختیو او غمونو سره مخ کړی دی. لازمه ده چې د هغه د عملي کېدو لپاره کار وشي ترڅو د معیشت په باب داسې تفکر د هغه ځایناستی شي چې مسولانه وي او د نورو په اړه د مسولیت احساس د هغه یوه نه جلا کېدونکې برخه وي.
دا سمه ده چې د معیشت په باب تفکیر کې د خلکو ترمنځ اړیکه، هماغه یوه ډوډۍ

ده او دا هم سمه ده چې په معیشت کې تفکیر یعنې د یوې ډوډۍ تر لاسه کول چې د انسان د فطري اړتیا د پوره کېدو لامل کېږي. خو دا اړیکه باید پر دې اساس نه وي چې خلک د یوې ډوډۍ په حاصلولو یو له بل سره شخړه وکړي او هر لوری هڅه وکړي چې ډوډۍ د خپلې تغذیې لپاره په لاس راوړي. بلکې لازمه ده چې د معیشت په باب تفکیر کې سمه اړیکه پر دې اساس بنسټيږي شي چې دواړه لوري د یوې ډوډۍ د تر لاسه کولو په لټه کې نه وي، خو نه دې خپلې اړتیا د پوره کولو لپاره، بلکې د مقابل لوري د اړتیا د پوره کولو لپاره. یعنې د معیشت په هکله تفکر باید «یا زه دا ډوډۍ خورم یا ته» له حالته «زه دا ډوډۍ ستا د تغذیې لپاره په لاس راوړم» حالت ته بدل شي. په بله وینا، د معیشت په باب تفکیر کې د خلکو ترمنځ اړیکه باید د ایثار او د انسان دوستۍ د حس پر اساس وي، نه د ځان غوښتنې او ځانپالنې پر اساس. په دې ترتیب دواړه لوري د ایثار پر اساس د یو ډول ځانګړې نېکمرغۍ او خوښۍ احساس پیدا کوي.

په دې برخه کې یوه عرب شاعر ښومره ښه ویلي دي:

کله چې هغه وینې، له خوښۍ پړکېږي

لکه چې ګواکې څه یې چې غوښتي وو، هغه ته ورکړل شوي

په دې معنی چې انسان هماغه ډول چې په «اخیستلو» او «تر لاسه کولو» خوښي تر لاسه کوي او خپلې غریزې ته ځواب ورکوي او په ده کې د نېکمرغۍ حس د ښرګندېدو لامل کېږي، په ورته بڼه کله چې انسان له بېدارۍ او نهضت وروسته، د معیشت په باب خپل تفکیر د «بښنې» او «ایثار» پر اساس پیل کړ، بیا هم په ده کې د نېکمرغۍ احساس د ښرګندېدو لامل کېږي. د معیشت په باب د دواړو تفکیرونو په اساس کې د غریزو پوره کېدنه او د انسان فطري اړتیاوو ځواب دی، خو په دوو متفاوتو کړنلارو. ځکه چې د معیشت په باب سم تفکیر بیا هم په واقعیت کې سخاوت او ستاینه ده، چې د نفس د پایښت د غریزې د ښرګندویو په توګه ښرګندېږي.

نو پر دې اساس اصلي مساله دا نه ده چې د معیشت په اړه تفکیر په بشپړ ډول له منځه ولاړ شي، بلکې په دې ټکي تمرکز دی چې د معیشت په هکله تفکیر یو مسولانه او

د نورو له پاملرنې سره تفکير وي. ځکه د معيشت په اړه تفکير، يعنې د غريزې پوره کېدنه او د انسان فطري او بشري اړتياوو ته رسېدنه. خو دا ډول تفکير د دې لپاره چې انسان ويښتيا او نېکمرغي تر لاسه کړي، بايد مسولانه او د نورو له پاملرنې سره يو ځای تفکير وي.

يعنې ويښ انسان د معيشت په اړه خپل تفکير داسې پيلوي چې رجع او د ده غريزې ښرگندوی له تملک او ځان غوښتنې څخه ښښنې او سخاوت ته ارتقا وکړي او د وېرې له حسه د تمجيد او ستاينې حس ته پورته شي. يعنې د معيشت په اړه تفکير چې په هغه کې انسان يوازې د خپل ځان او د غريزو او عضوي اړتياوو د پوره کولو لپاره هڅه کوي، يوه منحطه کړنلاره ده، خو د معيشت په اړه تفکير چې په هغه کې انسان خپلو همنوعانو ته ايثار، له ځانه تېرېدنه او سخاوت ښيي، يوه ويښه او نهضت موندلې کړنلاره ده چې د انسان په دريځ کې د عروج لامل کېږي. نو دا د معيشت په اړه د تفکير کيفيت او ښرنگوالی دی چې هغه لوړ او يا هم ټيټوي.

## دريم. حقايق

د حقايقو په اړه تفکير په نورو مواردو کې له تفکير سره توپير لري. ځکه د حقايقو په اړه تفکير يعنې د واقعيت او فکر ترمنځ توافق او تطابق. دا تفکير ډېر اهميت لري په ځانگړې توگه په غير مادي چارو کې. نو اړينه ده چې د تفکير واقعيت په حقايقو کې واضح شي او د تفکير له نورو موضوعاتو سره يې توپير پياوړی شي. د حقايقو په اړه تفکير يعنې د يوه قضاوت صدور چې له واقعيت سره په بشپړه توگه جوړ او موافق وي. يعنې حقايق هماغه مفکورې او مفاهېم دي چې له اړوند واقعيت سره کامل او شامل جوړجاړی لري. هغه واقعيت چې د حواسو په وسيله درک شوی او دماغ ته لېږدول شوی. يوازې په دې صورت کې چې حقايق په طبيعي ډول له انساني فطرت سره په مطابقت جريان پيدا کوي. د بېلگې په ډول، ټولنه له وگړيو او د دوی ترمنځ له شته اړيکو څخه عبارت ده. دا د ټولنې واقعيت دی، يعنې هغه څه دي چې د عقلي بهير په وسيله درک کېږي. ځکه د ټولنې واقعيت د حواسو په وسيله دماغ ته لېږدول شوی او دماغ د مخکنيو معلوماتو په رڼا کې پورتنی واقعيت تعبير کړی دی. يعنې د ټولنې

د واقعیت هر ډول تعبیر او تعریف چې تر اوسه شوی دی، ټول د عقلي بهیر او فکري درک په وسیله بیان شوي او هر یو یې فکر ګڼل کېږي. خو دا چې ایا یاد تعریفونه حق دي که نه؟ نو له واقعیت سره د یادو تعریفونو له تواق او تطابق څخه څرګندېږي. نو هغو وګړو چې ویې ویل، ټولنه یعنې د هغه وګړو شمېر چې راغونډ شوي دي، د عقلي درک د طرز پر اساس سم دی. د دوی دا تعریف او قضاوت عقلي دی، یعنې هغوی واقعیت کتلی او درک کړې یې دی، ترڅو چې یو شمېر وګړي را ټول نشي، ټولنه منځته نه راځي. دا واقعیت یې د خپلو حواسو په وسیله دماغ ته لېږدولی او دماغ یې د مخکنیو معلوماتو پر اساس د ټولنې واقعیت تشریح او بیان کړ. خو د ټولنې دا تعریف چې یوازې د وګړو راغونډېدل ګڼي، سم دی که نه؟ له بشپړ جوړجاړي او توافق وروسته یاد تعریف د ټولنې له واقعیت سره معلومېږي. که پورتني تعریف ته د ټولنې له واقعیت سره توافق ورکړل شي، لیدل کېږي چې په کښتۍ کې د خلکو راغونډېدل، هر څومره چې وي؛ ټولنه نه ده او یوازې د خلکو یو ټولی دی. دې ټولي ته ټولنه نه ویل کېږي. خو یو کلی که هر څومره اوسېدونکي ولري، بیا هم ټولنه بلل کېږي. په دې برخه کې یوازینی لامل چې په کښتۍ کې د خلکو ټولی ټولنه حساب نشي او په مقابل کې په یوه کلي کې د خلکو ټولی ټولنه وګڼل شي، هماغه د کلي د خلکو ترمنځ دایمي اړیکه ده چې د کښتۍ د خلکو ترمنځ نشته. یعنې په کښتۍ کې د خلکو راغونډېدل هېڅکله دایمي اړیکه نه ده او ځای ته تر رسېدو وروسته بیا په وګړو بدلېږي. یعنې ټولنه یوازې د خلکو ټولی نه دی، بلکې د خلکو یو غونډ دی چې په خپل منځ کې دایمي اړیکه لري. نو څرګندېږي چې د ټولنې یاد تعریف، که څه هم چې یوه مفکوره ده، خو حق نه دی. دلته یو بل ټکی هم واضح کېږي او هغه دا چې لازمه نه ده چې هر فکر حق وي او یوه مفکوره د دې لپاره چې حق وي، باید له اړوند واقعیت سره بشپړ توافق او جوړجاړی ولري.

بله بېلګه د عیسویت دین دی، سمه ده چې عیسویت یوه مفکوره ده؛ ځکه هغوی د خپلو حواسو پر اساس درک کړې چې پلار، اولاد او روح القدس یو دي، یعنې درې واړه یو دي او یو یعنې درې واړه. لمر؛ یعنې رڼا، تودوخه او کتله یې، درې دي او په

ورته وخت کې درې يو دي. دې ته ورته الله پلار دی، اولاد دی او روح القدس دی. د الله تعالی پر وجود عقیده داسې څه دي چې له انساني فطرت سره مطابقت لري. خو له واقعیت سره د دې تعریف بشپړ مطابقت، د هغه حقایق ثرګندوي. لکه څنګه چې له واقعیت سره د هغه له توافق وروسته معلومېږي چې درې يو نه دي او نه هم يو درې دي؛ بلکې درې، درې دي او يو، يو دی. د لمر په باب باید وویل شي چې لمر يو څیز دی او نور او حرارت يې په درې ګوني توب دلالت نه کوي، بلکې د هغه له ځانګړتیاوو څخه دي. د الله تعالی په باب باید وویل شي که څه هم پورتنی تعریف له غریزو سره جوړجاړی لري او غریزه اشباع کوي، خو که غریزه یوازې او له عقلي او فکري لاربنوونې پرته پوره شي، پر لار ورکی او بدمرغیو او تیارو غورځولو کې يې هېڅ تضمین نشته. نو ډېره مهمه او اړینه ده چې یاد تعریف له واقعیت سره مطابقت لاسته راوړي او له همدې چارې معلومېږي چې الله يو دی او درې نه دي. دا درک د عقل پر اساس دی نه د غریزې پر اساس. په عقل ثابتېږي چې يو، يو دی او درې هم درې دي. له همدې امله نصرانیت د یوې مفکورې په توګه پاتې دی، خو هېڅکله حق نه دی.

بله بېلګه د څیزونو او مادې تدریجي او طبیعي تکامل دی، هغه پروسه چې ګواکي له نشت څخه د څیزونو د خلقت لامل کېږي. دا نظر یوازې یوه مفکوره ده، خو که کله وغواړو چې حقایق يې ثرګند کړو، باید له واقعیت سره جوړجاړی ولري. که څه هم چې پورتنی تعریف عقلي دی، یعنې هغوی د عقل په واسطه درک کړې وه چې د ځمکې پر مخ موجود څیزونه د ثابتو قوانیونو پر اساس له یوه حالته بل حالت ته بدلون کړي او نويو او بکرو څیزونو د ایجاد لامل کېږي. خو که دا مفکوره پر واقعیت تطبیق شي، وبه لیدل شي چې هغه یوازې یوه مفکوره ده او حقه نه ده. ځکه چې ماده تکامل او تدرج له نشت څخه نه پیلوي، بلکې له یوې موجودې مادې پیل کوي او یاد قوانین هم پر ماده تپل کېږي او ماده د دې وس نه لري چې له یادو قوانینو بهر هم په ورته بهیر پیدا شي.

خو که دا مفکوره پر واقعیت تطبیق شي، وبه لیدل شي چې هغه یوازې یوه مفکوره

ده او حق نه ده. ماده تکامل او تدرج له نشت څخه نه پیلوي، بلکې له یوې موجودې مادې یې پیلوي. یاد قوانین هم پر ماده تپل کېږي او ماده د دې وس نه لري چې له یادو قوانینو بهر هم ورته بهیر تر لاسه کړي او هغه نه خلقت دی او نه هم خالق، بلکې یوازې د حالت بدلون دی چې د ځانګړو قوانینو پر اساس په موجودو څیزونو کې پېښېږي. نو څرګنده شوه چې هغه حق نه دی او یوازې یوه مفکوره ده.
نو ټول افکار چې په نړۍ کې موجود دي، یوازې افکار دي، تر هغې چې له واقعیت سره له بشپړ جوړجاړي بې برخې وي. په دې مانا چې مفکورې، د دې لپاره چې حقایق وګڼل شي، لازمه ده چې له خپل اړوند واقعیت سره بشپړ جوړجاړی ولري. یعنې یوازې د عقلي بهیر منځته راتګ بسنه نه کوي او تر څنګ یې لازمه ده چې د فکري بهیر له منځته راتګ وروسته، فکري حاصل یې له درک شوي واقعیت سره بشپړ مطابقت ولري ترڅو حقایق وګڼل شي. یعنې د حقایقو په اړه تفکیر یوازې په دې معنی نه دی چې عقلي بهیر رامنځته شي، بلکې عملي کېدل او له داسې واقعیت سره تطابق ولري چې یاد بهیر یې درک کړی دی. یعنې په تفکیر کې د حقایقو په اړه دوه اصلونه موجود دي: یو عقلي بهیر او دویم له اړوند واقعیت سره مطابقت. نو سمه نه ده چې چې وویل شي: د مفکورو او اړوندو مفکورو ترمنځ تطابق ناشونی دی. ځکه چې واقعیت ګونګ دی او د سم درک وړتیا نه لري. موږ مخکې دوه اصلونه بیان کړل، لومړی یې عقلي بهیر و او عقلي بهیر هغه مهال ممکن دی چې واقعیت د انسان تر حواسو لاندې راشي او هر څه چې تر حواسو لاندې رانشي، په لومړي قدم کې هغه هېڅکله مفکوره نه ده او د عقلي بهیر حاصل نه کېږي او حق نه ګڼل کېږي. یعنې د حقایقو لپاره لازمه ده چې لومړی فکري حاصل او بشري مفکوره وي. د بېلګې په توګه، الله مفکوره نه ده، بلکې حق دی. ځکه چې عقل د هغه په اثر، د هغه سبحانه وتعالی موجودیت درک کړی دی. ځکه چې اثر یې د مخلوقاتو له مخې عقلاً د درک وړ دی او د الله سبحانه وتعالی پر موجودیت دلالت کوي. یعنې د الله سبحانه وتعالی موجودیت حق دی. خو د الله سبحانه وتعالی د ذات کیفیت، له هغه ځایه چې زموږ تر حواسو لاندې واقع نه دی، د عقلي بهیر منځته راتګ په هغه کې هېڅکله ممکن نه دی. په دې معنی

چې هېڅ قضاوت او پایله منځته نشي راتلی. نو هر ډول حقایق چې لاس ته راشي، په لومړي قدم کې باید مخکې د مفکورې په توګه پېژندل شوي وي، یعنې تر حواسو لاندې وي. پایله دا چې حقایق باید تر حواسو لاندې وي او د حقایقو په اړه تفکیر د عقل په واسطه مخ ته یووړل شي.

څنګه چې وویل شول، هره مفکوره چې وغواړو حقانیت یې واضح کړو، باید له اړوند واقیعت سره په بشپړه توګه د تطبیق او توافق وړ وي؛ له هغې پرته یوازې مفکوره ده او د حقایقو په توګه نه پېژندل کېږي. دا چاره ډېر زیات اهمیت لري، ځکه د حقایقو په اړه تفکیر د خلکو لپاره د وګړیو، ملتونو او یا په نورو بڼو حیاتي اهمیت لري. ځکه همدا مفکورې دي چې د ټېروتنو او لاړورکیو لامل کېږي او یا هم د ملتونو او ټبرونو د نهضت او ویښتیا لامل کېږي. له دې امله هره مفکوره په لومړني پړاو کې د یوې مفکورې په توګه اخیستل کېږي او له اړوند واقعیت سره له تطابق وروسته د حقایقو په توګو اخیستل کېږي. پرته له دې یوازې افکار دي او حقایق نه ګڼل کېږي. په دې مسیر کې لازمه ده چې کافي څارنه وشي ترڅو هغه افکار چې حقایقو ته رسېږي او هغه افکار چې حقایقو ته نه رسېږي، جلا شي او هم د حقایقو په پوهاوي کې عقلي بهیر څرګند شي.

دلته دوو ټکو ته پاملرنه اړینه ده: لومړی په حقایقو کې انحراف او پېچلتیا، دویم په وګړیو کې انحراف چې حقایقو ته د رسېدو مانع کېږي. خو په حقایقو کې انحراف او پېچلتیا هغه مهال رامنځته کېږي چې د افکارو او ګڼو حقایقو ترمنځ پیاوړی مشابهت موجود وي او دا ورته والی د حقایقو د انحراف لپاره د یوې وسلې په توګه کارول کېږي. همدارنګه شوني ده چې نور لاملونه هم موجود وي، لکه د یوه حقیقت د له منځه وړلو لپاره له بل حقیقته استفاده او یا په ځینو حقایقو کې د شک او تردید ایجاد او دا ادعا چې یاد حقایق یوازې په خاصو شرایطو کې حق دي، نه په ټولو شرایطو کې، څه چې د اسالیبو پر اساس تل بدلون منونکي دي. د بېلګې په توګه دا حقیقت دی چې یهود د مسلمانانو دښمنان دي او دا هم حقیقت دی چې یهود د فلسطینیانو دښمنان دي. نو په دې حقایقو کې ورته والی سبب شو چې د فلسطینیانو او یهودو ترمنځ سخته

دښمني منحرفه شي. بله بېلگه: يو حقيقت دا دی چې په امريکا کې آزادي موجوده ده او يو حقيقت دا هم دی چې لوی پانگوال هغه کسان دي چې د امريکا ولسمشر ټاکي. دا دوې مفکورې ورته حقايق دي ځکه چې دواړې د امريکا واقعيت په سمه توگه او ښکاره چې دی ښيي. خو د دې چارې حقيقت چې په امريکا کې ازادي موجوده ده، د داسې وسلې په توگه وکارول شو چې دويم حقيقت يعنې د لويو پانگوالو په واسطه د ولسمشر ټاکل منحرف کړي او داسې وښودل شوه چې گواکي په امريکا کې داسې شخص ولسمشر کېږی چې په ټاکنو کې د خپل شهرت د کچې پر اساس بريالی شي. بله بېلگه: دا يو ښرگند حقيقت دی چې بريتانيا داسې هېواد دی چې د اروپا له اتحاديې سره مخالف دی او دا هم يو حقيقت دی چې بريتانيا له اروپايي اتحاد څخه په گټې اخيستنې ځان پياوړی کوي. دلته دويم حقيقت د لومړي حقيقت لپاره د يوې منحرفې کوونکې وسيلې په توگه وکارول شو او په همدې دليل بريتانيا اروپايي عمومي مارکيټ ته ننوته. بله بېلگه: دا حقيقت دی چې اسلام يو دين او يو نه ختمېدونکی ځواک دی، خو د وخت په تېرېدو دا حقيقت تر شک او ترديد لاندې راغی، ځکه داسې ادعاوې وشوې چې گواکي اسلام يوازې په ځانگړو شرايطو او وختونو کې په ځانگړې توگه د اسلام په لومړيو کې ځواک و او بس. حقايق دا ډول منحرف شول او دا چاره د نورو حقايقو او يا هم د شک او ترديد د ايجاد په وسيله رامنځته شوه. دا هغه څه دي چې غرب د اسلامي امت په اړه تر سره کړل او ډېر حقايق يې هغوی ته مشکوک کړل.

خو د هغه انحراف په اړه چې په وگړيو کې پېښېږي نه په حقايقو کې او له حقايقو څخه د لرېوالي او يا ممانعت لامل کېږي، بايد ووايو چې دا موخه د عملونو او افکارو په وسيله تر لاسه کېږي. په دې بڼه چې د وگړو ترمنځ د عملونو او افکار ټاکلی تسلسل منځته راځي ترڅو په طبيعي توگه حقايقو ته د خلکو د رسېدو مخه ونيسي. د مثال په توگه اسلامي امت يوازې د فکر په واسطه نهضت او وينښتيا ته رسېدای شي. دا يو حقيقت دی، خو ددې لپاره چې امت له دې حقيقته لرې شي، فزيکي کارونه لکه لاريونونه، جگړه، مزاحمتونه، انقلابونه او کودتاوې په شدت سره تشويق او هڅول کېږي، ترڅو امت له وينښتيا څخه د فکر پر اساس لرې شي او همداسې تر استعمار

لاندې پاتې شي. په دې ترتیب دا حقیقت چې امت یوازې د فکر په وسیله ویښتیا ته رسېږي، له منځه لاړ او ورک شو او خپل ځای یې انقلاب او کودتا ته پرېښود او دا مفکوره حاکمه شوه چې امت یوازې د کودتا او انقلاب له لارې بېدارۍ ته رسېږي. په ورته بڼه د دې لپاره چې امت له سمې بېدارۍ څخه منحرف شي، نور افکار ورته وړاندې شول ترڅو د بنسټ په توګه واخیستل شي. لکه بېداري د اخلاقو پر اساس او یا عبادي او اقتصادي چارې. یعنې امت ته داسې وښودل شوه چې ګواکې نهضت یوازې د اقتصاد، عبادت او اخلاقو پر اساس ممکن دی. پرته له دې ویښتیا د فکر پر اساس ممکنه نه ده. دا و هغه انحراف چې په حقایقو کې د ورته نورو افکارو او یا په افکارو او مفاهېمو کې د شک او تردید په ایجاد رامنځته شو.

نو ډېره اړینه ده چې موږ دا ډول انحرافاتو، پېچلتیاوو او د حقایقو له منځه تلو ته متوجه وو. ترڅو په سمه بڼه په حقایقو منګولې ټینګې کړو او په افکارو کې عمیق او مخلص وو چې حقایقو ته ورسېږو. خورا خطرناکه چاره چې د حقایقو په درک کې د ناکامۍ لامل کېږي، تاریخي حقایق په پام کې نه نیول دي. په ځانګړې توګه بنسټي او اساسي حقایق چې په تاریخ کې نغښتي دي. ځکه تاریخ له ثابتو حقیقتونو ډک دی چې هېڅکله بدلون نه مومي او په ورته وخت کې له داسې افکارو او نظریاتو ډک دی چې له خپلو شرایطو او زمینو سره ځانګړی تړاو لري. دا ډول نظریات چې زیات په پېښو او تاریخي واقعو پوښل شوي، په خپل اسلوب پورې ځانګړي دي او له هغه اسلوب څخه بهر هېڅ د کارونې ځای نه لري. خو د تاریخ د مطالعې په بهیر کې هېڅکله داسې جداوالی رامنځته نه شو او تاریخ د یو کل په توګه مطالعه شو، پرته له دې چې حقایق او پېښې یو له بله بېلې شي. په دې ډول حقایقو ته د تاریخ په ګېډه کې پام ونشو. د بېلګې په ډول، دا چې غرب د اسلامي خاورو له ختیځو څنډو لکه مصر او شام څخه پر اسلامي دولت برید وکړ، یو تاریخي حقیقت دی، خو پر مسلمانانو د غرب بری تاریخي حقیقت نه دی بلکې تاریخي پېښه ده. په دې بڼه حقایق او تاریخي پېښې یو له بل سره ګډې شوې او حقایقو ته پام ونشو او حتی دا چاره له پامه ولوېده چې د مدیترانې بحیرې له ختیځو سواحلو غرب کار واخیست چې د اسلامي خاورو

دننه نفوذ وکړي. بله بېلګه: عربي نشنلېزم يو حقيقت و چې د عثماني دولت د کمزورتيا لامل شو او هم له غرب سره د مسلمانانو جګړه حتی د عثماني مسلمانو اتباعو په توګه بل تاريخي حقيقت دی. خو په اروپا او بيا په لومړۍ نړيواله جګړه کې د عثماني دولت ماته د دوو مهمو تاريخي پېښو له جملې څخه دي. اما د عثمانيانو او اروپايانو د جګړو تاريخ د لومړۍ نړيوالې جګړې له تاريخ سره ګډ دی او د يوې پېښې په توګه بيان شو.
بيا هم د تاريخ په پاڼو کې شته حقايق له پامه وغورځېدل او دا حقيقت هېر شو چې عربي نشنلېزم له خورا اساسي لاملونو څخه و چې د عثماني دولت د کمزورۍ او په پايله کې په اروپا او وروسته په نړۍ کې د هغه د ماتې لامل شو. له تاريخي پېښو سره د تاريخي حقايقو ګډېدل هغه څه وو چې د تاريخ په اوږدو کې له اصلي مسير څخه د حقايقو د انحراف لامل شول، هغه څه چې د بشر په ژوند کې يې زيات ارزښت درلود او له خورا ښو تفکيرونو څخه ګڼل کېږي.
په دې ترتيب د حقايقو په اړه تفکير هغه مهال اغېزمن او ګټور دی چې د ټاکلې پايلې لامل او يا د سمو حقايقو او هغه څه چې د حقايقو په توګه ښودل کېږي ترمنځ د بېلوالي او يا هم په ټاکلو حقايقو د منګولو ټينګولو لامل شي. يوازې په همدې حالت کې به تفکير د حقايقو په اړه د خلکو، ډلو او ټبرونو لپاره لوی حاصل او زياته مېوه ولري. رښتيا چې د حقايقو په هکله تفکير هېڅ اغېزه او حاصل نه لري. که په دې موخه عمل ونشي چې حقايق له افکارو او هغو مفکورو چې په غلطۍ حقايق څرګندوي، يو له بل څخه بېل نشي او يا په حقايقو منګولې ټينګې نشي. نو لازمه ده چې د حقايقو په اړه تفکير کې لاندې موخې په پام کې ونيول شي: د حقايقو کره پېژندنه او له خالصو افکارو او مفکورو څخه د هغو بېلول، په حقايقو منګولې لګول او پر هغه څه عمل چې د هغه پر اساس درک شوي دي.
سربېره پر دې، ځينې حقايق قطعي دي او د ځای او وخت په تېرېدو په هغو کې هېڅ بدلون نه راځي. دا حقايق له سياق، شرايطو او زمينې څخه په اغېزې هېڅکله بدلون نه کوي. سمه ده چې افکار بايد د هغه د زمينې او اسلوب په پام کې نيولو سره مطالعه شي او که افکار له هغو شرايطو او مواردو پرته چې چاپېر يې احاطه کړې مطالعه شي،

په غلطه به ولاړ شي. خو که چېرې دا افکار د فکر له پړاو څخه ووتل او په حقایقو بدل شول، یعنې په بشپړه توګه یې له اړوند واقعیت سره جوړجاړی تر لاسه کړ. دا په داسې حال کې لازمه ده چې یاد حقایق د هغوی د شرایطو او اسلوبونو په پام کې له نیولو پرته مطالعه شي او په هېڅ حال کې بدلون ونه کړي، پر همدې مناسبت، چې حقایق هېڅکله د ساینسي طریقې په وسیله د درک وړ نه دي. ځکه چې ساینسي طریقه یوه ظني طریقه ده، د حقایقو د درک لپاره یوازینۍ اغېزمنه طرریقه، عقلي طریقه ده. ځکه حقایق د عقلي طریقې پر اساس پر موجودیت او نه موجودیت دلالت کوي او د څیزونو له صفتونو جزیاتو سره هېڅ کار نه لري. د دې لپاره چې حقایق له حقانیت څخه برخمن وي، باید په بشپړه توګه له اړوند واقعیت سره جوړ وي. نو څرګنده شوه چې د حقایقو په باب تفکیر باید وشي چې له پېژندنې او له خالصو افکارو څخه د هغو له بېلونې وروسته، په ځواکمنه توګه په هغه منګولې ولګوي.

## څلورم. موخې، اسلوبونه او وسایل

د اسلوبونو په اړه تفکیر په واقعیت کې د انساني عملونو د موقتي ناحیې په باب تفکیر دی. د یو اسلوب د غوره کولو ډول او څرنګوالی د عمل په ډول پورې تړاو لري. په دې معنی چې د اسلوبونو نوعیت د عملونو د نوعیت پر اساس توپیر لري او په عملونو کې د همدې توپیر پر اساس، اسلوبونه هم توپیر لري. ممکنه ده چې اسلوبونه ورته وي او یو اسلوب د ګڼو عملونو لپاره وکارول شي. خو کله چې د اسلوبونو په باب تفکیر کېږي، په ځانګړې توګه د یو نوي عمل لپاره، نو اړینه ده چې د عمل د تر سره کېدو د څرنګوالي په باب هم تفکر وشي. ځکه که څه هم اسلوبونه مشابه څرګند شي او یا هم پېژندل شوي نور اسلوبونه هم موجود وي، خو بیا هم غوره ده چې د اسلوبونو په اړه د عمل د ډول په پام کې نیولو سره تفکیر وشي. په اسلوبونو کې ورته والی ځینې وخت د انحراف او د پایلې د کړېدو لامل کېدای شي او حتی احتمال لري چې انسان خپلو موخو ته د رسېدو په لاره کې ناکام شي. د بېلګې په توګه د یوې مفکورې او یا یوه سوداګریز څیز لپاره تبلیغ ډېر زیات ورته والی لري. ځکه دواړه اسلوبونه هڅه کوي چې خلکو ته یوه څه واضح کړي. که دعوتګران د اسلوبونو ترمنځ دا ورته والی جلا

نه کړي، ممکنه ده چې د دوی په برنامو کې د تېروتنې لامل شي او له داسې اسلوبونو استفاده وکړي چې په مطلق ډول د اقتصادي او سوداګریزو څیزونو لپاره د بازار موندنې د اسلوبونو څخه اخیستل شوي وي. ځکه چې د یوې مفکورې لپاره د تبلیغ اسلوب د یوه سوداګریز څیز لپاره د تبلیغ له اسلوب سره په بشپړه توګه توپیر لري. په بازار موندنه کې د دعوت د تبلیغ د اسلوب کارونه د بازار موندونکي د ناکامۍ لامل کېږي او په ورته ترتیب، په دعوت کې د بازار موندنې اسلوب کارول د دعوتګر د ناکامۍ لامل کېږي. ځکه په دعوت کې د تبلیغ د اسلوب تمرکز په دې ټکي دی چې حقایق څنګه چې دي، خلکو ته واضح شي؛ خو د بازار موندنې اسلوب تمرکز په دې ټکي دی چې د دوی د پام وړ څیزونه د خلکو په نظر عزیز، جذاب او ښکلي ښکاره شي، یعنې څه چې دي د هغه پر خلاف. خو په دواړو اسلوبونو کې مخاطبانو ته ګډ ټکی تشریح کوي. د اسلوب بله بېلګه په دیموکراسي نظام کې د خلکو په واسطه د حاکم ټاکل دي. په ورته مهال کې دا اسلوب په اسلام کې هم کارول کېږي چې خلک حاکم وټاکي. خو که په اسلام کې د خلیفه د ټاکلو لپاره د اسلوب د اتخاذ پر مهال په اسلام کې د حکومتوالۍ واقعیت مراعات نشي، د لارورکۍ لامل کېدای شي. په سلام کې د حکومتوالۍ نظام یو اساسي اصل دا دی چې حاکم د تل لپاره د الله سبحانه وتعالی د کتاب او د رسول الله د سنتو د تطبیق په شرط ټاکل کېږي. حال دا چې په دیموکراسي نظام کې حاکم د یوې ټاکلې مودې لپاره د قرارداد پر اساس ټاکل کېږي. یعنې اړینه ده چې د حاکم د ټاکلو د اسلوب په باب د تفکیر پر مهال، په اسلام کې د حکومتوالۍ د واقعیت په هکله هم تفکر وشي. بله بېلګه، کله چې د اسلامي امت استازي، محدود کسان د خلافت د پوست لپاره نوماندوي، له ټولو وګړو غوښتنه کېږي چې له هغو سره بیعت وکړي. دلته بیعت اسلوب نه، بلکې طریقه ده، خو د بیعت کولو څرنګوالی اسلوب ګڼل کېږي. نو کله چې یو اسلوب په تېرو عملونو او افعالو کې مناسب وي، لازمه نه ده چې د نویو عملونو او افعالو لپاره هم یو ښه اسلوب وي؛ بلکې سمه دا ده چې د اسلوبونو په باب د تفکیر پر مهال، د عمل او د هغه د څرنګوالي په اړه هم تفکیر وشي. یعنې د اسلوبونو د اتخاذ په جریان کې مهمه ده چې د عمل د ډول په هکله هم

تفکر وشي.
اسلوب يعنې د يوه عمل د تر سره کېدو روش او داسې څيز دی چې هېڅکله دايمي نه دی، يعنې اسلوب د طريقې په څېر نه دی. ځکه طريقه دايمي چاره ده او د ځای او وخت په تېرېدو بدلون نه کوي. د طريقې تر لاسه کول فوق العاده انساني دماغ نه غواړي او هر څوک کولی شي په ساده ګۍ طريقه تر لاسه کړي. ځکه چې طريقه طبيعي چاره ده او تر لاسه کول يې ساده دي. خو اسلوب پر دې سربېره چې دايمي نه دی، په ورته وخت کې داسې نوښتګر او مبدايي دماغ غواړي چې د مناسبو اسلوبونو په طرحه او د عملونو د واقعيت او د هغه د چاپېريال د شرايطو په پام کې نيولو سره لاسته راشي. د همدې اصل پر اساس دی چې اسلوب په اړه تفکير د طريقې په باب له تفکير څخه غوره دی. له بل لوري د اسلوب طرحه که څه هم چې د انسان په دماغ کې له استعداد او ځانګړې فوق العاده ګۍ پرته ممکن نه دی؛ خو د اسلوبونو تطبيق فوق العاده انسانانو ته اړ نه دی، بلکې عادي انسان هم هغه تطبيق کولی شي.
د طريقې تر لاسه کول او درک فوق العاده انساني استعداد ته اړتيا نه لري، خو د اسبلوبونو طرحه نوښتګر او مستعد انساني دماغ ته اړتيا لري. برابره ده چې سړي تحصيل کړی وي که نه؟ ځکه چې د اسلوبونو طرحه د ستونزو په حل کې د انسان په تحليلي وړتيا پورې تړاو لري نه د ده معلوماتو او علم په کچه پورې. همدا دليل دی چې د خلکو له لوري مختلف غبرګونونه د دوی د ستونزو په حل کې څرګندېږي. څنګه چې يو شمېر خلک وينو که څه هم لوستې دي او نشي کولی چې د خپلو ستونزو د حل لپاره نوي اسلوبونه طرحه کړي او په پايله کې خپله عاجزي ژر اعلانوي. په داسې حال کې چې يو شمېر نور وګړي وينو چې دماغ يې لوړه تحليلي وړتيا لري، که چېرې د يوې ستونزې په حل کې ناکام شي، هڅه کوي چې د ستونزې د حل لپاره نوي اسلوبونه طرحه کړي. کله چې طرحه شوي اسلوبونه له کاره ولوېږي، نور اسلوبونه طرحه کوي. دا ډول وګړي، صبور وي او هېڅکله هېڅ ستونزه له حل پرته نه ګڼي او په بدل کې يې هرې ستونزې ته حل لاره مومي. يعنې دا وګړي له هېڅ ستونزې سره نه مخ کېږي. د ګڼو اسلوبونو له طرحې وروسته هغه حل کوي. همدا د اسلوبونو

د طرحې ورتیا ده چې انسانو د خپل ستونزو په حل لاسبرى کوي. باید په یاد ولرو چې هر انساني دماغ د دې کار ورتیا نه لري، بلکې مستعد، نوښتگر او تحلیلي دماغونه د دې کا ورتیا لري.
د وسایلو په باب تفکیر د اسلوبونو په اړه له تفکیر سره یو شان دی. د وسایلو په باب تفکیر یعنې د فزیکي سامان الاتو په هکله تفکیر چې د اسلوبونو د تطبیق لپاره کارول کېږي. که د اسلوبونو په باب تفکیر نتیجه ورکړي، دا اسلوبونه هېڅ ارزښت نه لري، تر هغې چې د وسایلو په اړه یې هم فکر ونشي. یعنې که د اسلوبونو د تطبیق لپاره پوره فزیکي شیزونه موجود نه وي، اسلوبونه ستونزې نشي حل کولی. نو ځوک چې د اسلوبونو په اړوند په تفکیر اقدام کوي، حتمي ده چې د وسایلو په باب هم په تفکر اقدام وکړي. ځکه چې د اسلوبونو په تطبیق کې وسایل یو مهم توکی گڼل کېږي. په دې منعی چې اسلوب او وسیله، یو د بل دوه بشپړوونکي او لازم او ملزوم توکي دي چې د د ټاکلې پایلې تر لاسه کولو لامل کېږي. د بېلگې په توگه که چېرې ځوک د یوې جگړې لپاره پلان جوړوي، باید دا په پام کې ونیسي چې پلان خپله اسلوب دی. دا سړی که د جگړې د پلان په طرحه کې د خپلو فوځیانو وسایل په پام کې ونه نیسي، پایله به له ماتې پرته بل څه نه وي. که څه هم د فوځیانو شمېر یې د دښمن دوه برابره هم وي. ځکه چې ده د اسلوبونو د طرحې پر مهال وسایلو ته هېڅ پاملرنه نه لرله، په داسې حال کې چې د دښمنانو جنگي وسایل یې په ځلونو له ده څخه پیاوړي دي. نو په دې حالت کې په جگړه کې د ده ماته نه پرېښودل کېدونکې ده. په دې مانا چې په ده لازمه ده چې د جنگي اسلوب د طرحې پر مهال، د فوځیانو په لاس کې د شته وسایلو په باب هم تفکر وکړي، ترڅو یو ښه اسلوب ولري، خو د فوځیانو وسایل فوق العاده کمزوري او د دښمن د وسایلو په پرتله ټیټ وي. نو پر دې اساس د اسالیبو او وسایلو په باب تفکر په یوه وخت کې وي او له ورته جنس څخه وي. په دې معنی چې وسایل د اسلوبونو له ډول سره په مطابقت ټاکل کېږي. که چېرې اسلوبونه او وسایل یو له بل څخ جلا مطالعه شي، بې له شکه چې د ناکامۍ او بدبختۍ لامل کېږي. بله لاره نشته پرته له دې چې وسایل د طرحه شویو اسلوبونو په رڼا کې مشخص شي، چې مناسبه

او د هيلې ور پايله لاسته راشي.

د اسلوبونو په اړه تفکير د طريقې په اړه له تفکير څخه لوړ دی، په همدې ترتيب د وسايلو په باب تفکير د اسلوبونو په اړه له تفکير څخه لوړ دی. ځکه وسايل ازموينښت ته اړتيا لري چې صحت او بطلان يې ښکاره شي. د بېلګې په توګه غير صنعتي هېوادونه له صنعتي هېوادونو څخه جنګي وسله او تجهيزات اخلي او خپله فوځونه د همدې تجهيزاتو پر اساس د صنعتي هېوادونو په وسيله روزي. خو غير صنعتي هېوادونو هېڅکله ياد وسايل خپله نه دي ازمويلي او د هغو د کارونې ورته اړتيا نه لري او دا هېوادونه چې هر اسلوب طرحه کړي، د هغه په اړه د مناسبو وسايلو د طرحې او تفکر ورته اړتيا نه لري. سمه ده چې جنګي مهارتونه، نظامي زده کړې او نظامي علوم ټول ټاکلي اسلوبونه دي او د هغه په باب تفکير بسنه کوي. خو په ټوله کې يوازې د اسلوبونو په اړه تفکير سم نه دی، بلکې لازمه ده چې د هغه د وسايلو په اړه هم تفکير وشي او دا وسايل وازمويل شي.

بله بېلګه د يو ګوند تشکيل او جوړېدنه ده چې د ګڼو فعاليتونو پر اساس خپل افکار د خلکو په منځ کې دود کړي او د واک له تر لاسه کولو وروسته دې فکارو او مفاهېمو ته تطبيقي جنبه ورکړي. که حزب يوازې په علماوو تمرکز وکړي او هڅه وکړي چې علما او روحانيون جذب کړي، په دې صورت کې به حزب د موخو په تر لاسه کولو کې ناکام پاتې شي. يعنې حزب به يوازې پر علماوو کار وکړي او د واک له تر لاسه کولو عاجز پاتې کېږي. خو برعکس که يوازې په متنفذو او قدرتمنو يې کار وکړ او وتوانېد چې واک په لاس کې واخلي، په دې حالت کې حزب واک کسبوي، خو د افکارو خپرېدو ته پاملرنه نه کېږي، چې دا چاره د دولت پر وړاندې د انقلاب او کودتا لامل کېږي. يعنې بايد د حزب د وسايلو په اړه مناسب تفکير د خپلو موخو په تر لاسه کولو کې خلک وکړي. د ټولنې د يوې خاصې طبقې په وسيله د حزب تشکيل او جوړېدنه د حزب د عمر د لنډېدو لامل کېږي او د دې وسايلو په اړه د تفکير پر مهال لازمه ده چې د تاريخي حقايقو په باب هم تفکير وشي. دا کار بايد د دې لپاره وشي چې تاريخي حقايق د عقلي بهير او د وسايلو په اړه په تفکير کې د ازموينښت تر څنګ مرسته

وکړي. ځکه تاريخي حقايق او د وسايلو په اړه تفکير کې له استفادې او د عمل په ډګر کې يو ځای د هغه کارونه د اغېزمن او ګټور تفکير لامل کېږي. ځکه تاريخي حقايق واضح کوي چې حزب دعوت ټولو خلکو ته انتقالوي او هر څوک د هغه بلنه ومني او له حزب سره يو ځای کېدی شي. په دې برخه کې يوازې معيار د حزب د افکارو او مفاهېمو منل دي چې له رنګ، نژاد، ژبې، قوم، د تحصيل کچې او په ټولنه کې د سياسي او ټولنيز موقف په پام کې نيولو پرته له قناعت او د حزب د اسلامي افکارو او مفاهېمو له منلو وروسته حزب ته ننوتی شي او د عمل دا مسير يوازې داسې مسير دی چې د موخو په تر لاسه کولو کې د حزب بری تضمينوي.

نو پر دې اساس د اساليبو او وسايلو په باب تفکير د تفکير د دو عالي ډولونو په توګه بايد يو له بل څخه جلا نه وي. ځکه په هر يوه کې تجريد د لار ورکې سبب کېږي. د وسايلو په اړه تفکير بايد د عمل په ډګر کې د هغه له ازمويښت سره يو ځای وي، چې د وسايلو موثريت ثابت شي. لازمه ده چې د وسايلو په اړه تفکير د اساليبو د طرحې پر وخت او يا د اساليبو په اړه د تفکير پر مهال وشي او د موفق تفکير د تضمين لپاره، غوره ده چې له تاريخي حقايقو څخه هم مرسته واخيستل شي او د عمل په ډګر کې هم وکتل شي. يادې چارې د وسايلو او اساليبو په اړه د هدفمن او بريالي تفکير لپاره حتمي دي.

د اهدافو په اړه تفکير هماغه د غوښتنو او موخو ټاکل دي چې انسان د هغه د لاسته راوړلو لپاره هڅې منسجموي. د موخو ټاکل له دې امله هم مهمې دي چې تفکير مناسب ثمر او پايله ولري. د موخو ټاکل د هغو ملتونو او ټبرونو لپاره چې په انحطاط کې وي، چندان ساده کار نه دی. ځکه هغوی په واقعيت کې نه پوهېږي چې څه غواړي او نه پوهېږي چې موخه يې څه ده؟ هغه وګړي چې په داسې منحطه فضا کې ژوند وکړي، که څه هم د فکري کچې له مخې لوړ مقام هم ولري، خو له هغې سره هم نه پوهېږي چې څه غواړي او د خپل ژوند لپاره څه موخه لري. ملتونه او ټبرونه طبيعتاً هڅه کوي چې په مطلق ډول غريزه قيدوي او ټيټو افکارو هغوی داسې احاطه کړي چې يوازې مطلق تقليد کوي او بس او دې غلطو افکارو چې هغوی يې چاپېر کړي،

له هر لوري فشار پرې واردوي او هغوی هم هغه ته په ځواب کې، له پراخو معلوماتو څخه په ګټې اخیستنې د مشخصې موخې له ټاکلو پرته، حرکت کوي. خو وګړي هم د موخو له ټاکلو پرته حرکت کوي او حتی تفکیر له کوم ټاکلي هدف پرته کېږي. دا چاره لامل کېږي چې د دوی تفکیر ټاکلی ثمر او مېوه ونه لري. په حقیقت کې ټول بشریت تفکیر کوي، خو کم وګړي دي چې خپل تفکیر هدفمن سرته رسوي او د ټاکلې پایله هیله لري.

د ملتونو او ټبرونو موخې او مقصدونه د دوی د حالت پر اساس متفاوت دي. داسې چې د منحطو ملتونو موخه ویښتیا ده، خو د پرمختللو او ویښو ملتونو موخه د ټولو غریزو او اړتیاوو د پوره کولو د امکاناتو او ډولونو پېژندل دي. د نړۍ د لومړي او متمدن ملت موخه د داسې حالت ساتل دي چې په هغو کې ژوند کوي؛ خو د پرمختللو ملتونو موخه اوسنۍ وده او بدلون دی. خو د هغو وګړو هدف چې د منط تفکیر خاوندان دي، یوازې د غریزو په پوره کولو او عضوي اړتیاوو تمرکز کوي. حال دا چې د هغو وګړو موخه چې لوړ تفکیر لري، د اوسنیو غریزو او عضوي اړتیاوو د نوعیت وده او انکشاف دی، نه خالص پوره کېدل. په هر حال انسان یوازې هغه موخې جدي نیسي چې هغو ته رسېدل اسانه وي او ژر تر لاسه کېږي. توپیر نه لري چې دا موخې په کومه کچه دي او له کوم ډول څخه ګڼل کېږي. مثلاً د غریزو او او اړتیاوو پوره کېدل که څه هم ممکنه ده چې ژر پېښ نشي، خو یوه اسانه موخه ده او کابو ټول بشر پورتنۍ موخې ته د رسېدو لپاره پوره ثبات او استقامت لري او هڅه کوي چې یاده موخه تر لاسه کړي، که څه هم د دوی ترمنځ ټولیز اختلاف هم څرګند دی. مثلاً د یوې ډوډۍ د ترلاسه کولو موخه، د کورنۍ د ملاتړ لپاره هڅه او د ملکیت او امنیت لپاره هڅه؛ ټول داسې موارد دي چې ډېری خلکو درک کړي او دې موخو ته د رسېدو په برخه کې ثبات او استقامت ښیي. خو د خپلو خلکو د ویښتیا لپاره هڅه، د موقف د لوړتیا لپاره هڅه او د خلکو د حالت د بدلون لپاره هڅه، داسې موخې دي چې د جدیت، تعقیب او قربانۍ غوښتنه کوي. د بشر ټول وګړي د دا ډول موخو د ټاکلو او تعقیب وړتیا نه لري. امکان لري چې یو وګړی یادو موخو ته درسېدو لپاره اقدام وکړي، خو په نیمه لار کې ناکام شي او یا له

ستونزو، سختیو او بې بند وبارۍ سره د مخ کېدو په دلیل، خپل مسیر پرېږدي او خپلې تعین شوې موخې د لاس رسي نا وړ وبولي، یعنې صبر او استقامت له لاسه ورکړي. یا ممکنه ده چې د لویو او لوړو موخو ته د رسېدو لپاره هڅه پیل شي، خو له جدیت پرته. په دې ترتیب عملونه په یو ځانګړي لور حرکت کوي، خو له هېڅ موخې پرته. دا چاره په پای کې د ستړیا او د انرژۍ د کمېدو لامل کېږي چې طبیعتاً د پورتنیو موخو د نه تر لاسه کېدو لامل کېږي. نو اوږد مهالې موخې تر ټولو وړاندې جدیت ته اړتیا لري، تر هغه وروسته صبر او بیا تعقیب ته.

وګړي د خپلو موخو په تحقیق کې نسبت ډلو، ملتونو او ټبرونو ته زیات صبر لري. د دوی نظر د ډولو د نظر په پرتله ښکاره او پیاوړی دی. ځکه د وګړیو را غونډېدل د دوی ټولیز تفکیر کمزوری کوي او دا چاره په خپل نوبت په ډله کې عمومي لیدلوری کمزروی کوي. یعنې د یو وګړي نظر نسبت دوو ته قوي دی. یعنې هر څومره چې وګړي په یوه ډله کې زیاتېږي، په همغه کچه عمومي لیدلوری کمزوری کېږي. نو پر دې اساس سمه نه ده چې خلکو ته ډېرې بعیدې موخې وټاکل شي، ځکه خلک دا ډول موخې نه درک کوي او هغه ته هېڅ جدیت نه ښیي او نه هم دا ډول موخې تر لاسه کوي. صحیح دا ده چې ساده او خلکو ته نژدې موخې وټاکل شي چې د لاسرسي وړ یې وګڼي او په اسانۍ تر لاسه شي. دا موخې د لومړنیو اقداماتو په توګه هم عمل کولی شي، یعنې ټولیزه موخه په فرعي موخو یا مقصدونو ووېشل شي او وروسته په زماني تسلسل خلکو ته یو په بل پسې تعین شي. ډله نسبت وګړي ته ځان موخو ته نژدې احساسوي، خو ډله نسبت وګړي ته د سختیو په زغملو کې کمزورې ده. یعنې هغه څه چې عقلاً د لاسرسي وړ وي، د خلکو لپاره چندان جالب او مهم نه دي، خو هغه څه چې د خلکو لپاره د لاس رسي وړ وي او حاصلول یې هم اسانه وي؛ خلک جدیت ورته ښیي او هغه ته د رسېدو هڅه کوي. خو خلک دا وړتیا لري چې یو څه درک کړي او د هغه لپاره په جدیت کار وکړي چې عقلاً د لاس رسي وړ وي، که څه هم ممکنه ده چې د عمل په ډګر کې ستونزې هم ولري. سربېره پر دې وګړي د بعیدو موخو د درک وړتیا لري او کولی شي چې د هغه لارې ستونزې او سختۍ په اسانۍ وزغمي او تعین

شویو موخو ته ورسېږي.
پرته له دې چې د خلکو، ملتونو او یا ټبرونو لپاره موخې تعینېږي، دا ټکی سم نه دی چې تعین شوې موخې په داسې بڼه وي چې نسلونه د هغو د تحقق لپاره اړتیا ولري او یا په داسې بڼه وي چې د بشر له ظرفیت او وړتیا څخه لوړ وي او یا په داسې بڼه وي چې هغه ته د رسېدو وسایل موجود نه وي او یا هغو ته لاسرسی ناممکن وي. نو موخې باید داسې وټاکل شي چې د یو نسل په وسیله د تحقق وړ وي او د بشر د عادي وګړو تر ظرفیت او وړتیا بهر نه وي او وسایل یې هم د لاسرسي وړ او ګټه اخیستنه ورڅخه ممکنه وي. انسان د یوې ځانګړې موخې لپاره کار کوي او هېڅکله د داسې شیز لپاره هڅه نه کوي چې قناعت یې نه وي ورباندې کړی. ځکه انسان تل مشخصو وسایلو ته اړتیا لري چې ټاکل شویو موخو ته ورسېږي. که دا وسایل د انسان په لاسرسي کې نه وي، انسان یې د حاصلولو لپاره هېڅکله هڅه نه کوي، که څه هم ممکنه ده په موقتي ډول ځان ته دوکه ورکړي او ګومان وکړي چې موخې ته د رسېدو لپاره هڅه کوي. که چېرې انسان داسې درک کړي چې ټاکل شوې موخه یې تر بشري وس لوړه ده، نو هېڅکله د دې موخې د تحقق لپاره کار نه کوي. نو لازمه ده چې موخې هر څومره بعیدې هم وي؛ د درک وړ، د پلي کېدو وړ او د بشري توان او ظرفیت په حدودو کې وي چې وګړي د هغو د تحقق لپاره په جدیت هڅه وکړي.
نو لازمه ده چې د تفکیر موخې او د اعمالو موخې تعین شي. موخې باید داسې تعین شي چې د انسان د عقل او فکري قیادت په وسیله د درک وړ وي او د پلي کېدو وړتیا هم ولري. له هغه پرته له تعین شویو موخو څخه د خلکو د تښتې لامل کېږي. دا څاره دواړو یعنې وګړو او ډلو ته شاملېږي. یعنې وګړي او ډلې دواړه باید مشخصې موخې ولري. خو د ملتونو او ټبرونو موخې باید بعیدې نه وي، بلکه باید موخې لنډې او اسانه وي چې خلک دا ډول موخې د لاسرسي او د پلي کېدو وړ احساس کړي او په ټول جدیت د هغه د تر لاسه کولو لپاره هڅه وکړي. دا سمه ده چې ملتونه او ټبرونه خپلې موخې نشي طرحه کولی، ځکه دا ممکنه نه ده چې ټول ملت او ټبر راټول شي او د خپل ژوند د موخې او مقصدونه طرحه کړي. خو داسې افکار، مفاهیم، نظریات

او باورونه شته چې د خلکو په منځ کې عام شوي او خلک هغه د عقيدې او خپلو افکارو په توګه نيسي او داسې موخې هم له يادو افکارو استنباط کېږي چې خلک هغه خپل هدف ګڼي او د هغه د تحقق لپاره هڅه کوي. همدارنګه ممکنه ده چې خلک د محروميت او انحطاط د رفع کولو او يا د اوسني حالت د ودې لپاره له مشخصو افکارو څخه په ګټې اخيستنې موخې تعين کړي. په بله وينا ملتونه او ټبرونه موخې نه تعينوي، بلکې موخو ته رسېږي او دا موخې بايد په عملي ډول د دوی لپاره د درک وړ وي، ځکه هغه موخې چې په عقلي توګه د درک وړ وي، د خلکو په وسيله ښې درک کېږي، خو ټولنه له دې ډول موخو سره علاقه نه لري. دلته لازمه ده چې د هدف او عالي هدف ترمنځ توپير وشي. ځکه عالي هدف په واقعيت کې د نورو موخو وروستی هدف دی او يا هماغه وروستی هدف دی چې انسان يې په پام کې لري. د عالي هدف يوه ځانګړنه دا ده چې انسان عملاً هغه د تفکير پر مهال په موخو، اسلوبونو او وسايلو کې په پام کې نه نيسي، بلکې په عقلي توګه يې ارتباط تامينوي. په دې معنی چې عالي هدف بيا هم يو هدف دی. خو په دې توپير چې د عمل د تر سره کولو په جريان کې مستقيماً د انسان په نظر کې نه وي. په بله وينا هدف داسې څيز دی چې انسان بايد د عمل تر سره کولو وړاندې پر هغه وپوهېږي؛ خو عالي هدف هغه څه دی چې انسان هغه د تر سره کولو او تفکير پر مهال هغه په پام کې ولري او ارتباط يې په ښکاره درک کړي. د بېلګې په توګه، د ټولو مسلمانانو عالي هدف د الله تعالی رضايت تر لاسه کول دي، خو ممکن يو شمېر مسلمانان جنت ته تلل عالي د هدف په توګه ونيسي او يا هم ممکنه ده چې د دوزخ له اوره نجات د خپل عالي هدف په توګه ونيسي. همدې بېلګې ته بايد پاملرنه وکړو چې جنت ته تلل او يا هم د دوزخ له اوره نجات عالي هدف نه دی، بلکې هغه خپله يوه بل هدف يعنې د الله سبحانه وتعالی رضايت ته د رسېدو لپاره هدف دی. عالي هدف هغه څه دی چې تر شا يې کوم بل هدف نه وي، لکه د الله سبحانه وتعالی رضايت لاسته راوړل چې مسلمانانو ته تر هغه وروسته هېڅ هدف نشته او جنت ته تلل يا د دوزخ له اوره خلاصون داسې هدفونه دي چې وروسته ترې بل هدف چې د الله سبحانه وتعالی رضا ده، شته دی. نو د هر مسلمان عالي هدف د

الله سبحانه وتعالی رضایت دی. په همدې دلیل ده چې د ځینو نېکو اشخاصو په اړه داسې ویل شوي دي: «صهیب د الله تعالی نېک بنده دی او که له هغه سبحانه وتعالی څخه نه وېرېدی، د الله تعالی نافرماني یې کوله.» یعنې له اطاعت څخه د هغه هدف د الله سبحانه وتعالی رضا ده او داسې نه ده چې هغه یوازې د دوزخ له اوره د خلاصون لپاره بې اطاعتي نه کوي؛ بلکې د دې لپاره ده چې الله ترې راضي شي. نو معلومه شوه چې د هر مسلمان عالي هدف د الله سبحانه وتعالی رضایت لاسته راوړل دي، نه جنت ته تلل او یا هم له دوزخه خلاصون.

په ورته وخت کې هغه هدفونه چې تعینېږي، باید داسې هدفونه وي چې په اسانۍ د لاسرسي وړ وي، عملي او د پلي کېدو وړ وي. په دې معنی چې اهداف باید داسې تعین نشي چې د رسېدو هیله او یا راتلونکي نسلونه یې تر لاسه کړي. بلکې هدفونه باید داسې تعین شي چې هغو کسانو ته چې د تحقق لپاره یې مبارزه کوي، د لاسته راوړو وړ وي. ځکه دا ډول هدفونه عالي هدفونه نه دي، بلکې تر شا یې نور هدفونه نغښتي دي. په بله وینا تعین شوي هدفونه باید خیالي او ارماني نه وي، بلکې عملي او واقعي هدفونه وي چې هغه کسان چې هغه ته د رسېدو لپاره هڅه کوي، د هغه د تر لاسه کولو هیله ولري او خپله انرژي هغو ته ورکړي.

ممکنه ده چې ځینې کسانو ته دا پوښتنه پیدا شوې وي چې: د ملتونو عمر د نسلونو پر اساس اټکل کېږي او سمه نه ده چې داسې هدفونه تعین شي چې هماغه نسل یې لاسته راوړي. یعنې داسې پلان شي چې راتلونکي نسلونه یې لاسته راوړي او ناممکنه ده چې هدفونه دې داسې یو نسل تعین کړي چې هماغه نسل یې د لاسته راوړو هیله ولري، ځکه چې د ملتونو عمر د نسلونو په وسیله مشخص کېږي.

ځواب داسې دی چې د ملتونو عمر د نسلونو او سلګونو کلونو په وسیله نه تعینېږي، بلکې د ملتونو عمر د لسیزو په وسیله مشخص کېږي. لکه څنګه چې یو ملت تر یوې لسیزې له یوه حالته بل حال ته انتقال او بدلون وکړي. خو په داسې حال کې چې افکار او مفاهیم په ژوندۍ او عملي بڼه ملت ته ورکړل شي او ملت واقعاً احساس وکړي چې وړاندیز شوي افکار د دوی ستونزه په عملي توګه حل کوي. که ډله بریالۍ شوه

چې ملت ته دا احساس ورکړي، نو ملت د بدلون لپاره تر یوې لسیزې کم وخت ته اړتیا لري. د داسې احساس ورکول د ډلې بری تضمینوي، تر هغه وخته چې ډله په تفکير او خپلو عملونو کې جدي وي او ستونزې او سختۍ چې په دې لاره کېویني، ډله له خپلې لارې منحرفه او منصرفه نه کړي. خو که یو ملت تر اشغال لاندې و او دښمنانان یې ورباندې ځواکمن وو، نو په دې صورت کې ملت د بدلون لپاره تر درېیو لسیزو کم وخت ته اړتیا لري. که افکار دوی ته داسې تقدیم شي چې په عملي ډول یې درک کړي چې ستونزې یې حل کېږي. نو پر دې اساس هره ډله، فکر او یا عمل باید د هغو کسانو په لاس مېوه ورکړي چې هغه ته د رسېدو لپاره هڅه کوي. هدفونه باید داسې تعین شي چې نور نسلونه یې لاسته راوړي. دا په تفکير کې د هدفونو په باب له اساسي شرایطو څخه دی، یعنې لازمه ده چې هدفونه د هغه کسانو په واسطه چې هغو ته د رسېدو لپاره مبارزه کوي، درک شي او دوی یې تر لاسه کړي.

خو هغه څه چې د ملتونو لپاره د پلان په هکله یاد شول چې راتلونکي نسلونه هغه ته د رسېدو لپاره کار وکړي، هغه هدفونه نه دي، بلکې اصول، افکار، قواعد او عمومي لارښوونې دي چې نورو نسلونو ته د تصور او هیلې په توګه مطرح کېږي. یعنې پلان باید داسې طرح نشي چې راتلونکي نسلونه شاید هغه ته ورسېږي. ځکه هغه دلته د هدف له دایرې بهر کېږي او خپل ماهیت له لاسه ورکوي. نو اړینه ده چې هدف داسې وټاکل شي چې عاملین یې د هغه تحقق تر لاسه کړي، نه دا چې هدفونه د راتلونکو نسلونو لپاره کېښودل شي. دا دی د هدفونو په باب تفکير او له عملونو سره د هغه د تړاو څرنګوالی. په تفکير کې د هدفونو په اړه بل هر ډول لیدلوری، له تیوري او خیالي تصوراتو پرته بل څه نه دي.

# سطحي، ژور او مستنیر تفکیر

تفکیر کېدای شي سطحي، ژور او یا مستنیر وي. سطحي تفکیر د عامو وګړو تفکیر دی، ژور تفکیر د علماوو تفکیر دی او مستنیر تفکیر د مشرانو او مستنیرو وګړو تفکیر دی چې د عامو او خلکو او پوهانو ترمنځ موجود دي. سطحي تفکیر عبارت دی له دماغ ته د خالص واقعیت لېږد، د نورو مواردو له تعقیب پرته چې له دې واقعیت سره تړاو لري. د سطحي تفکیر په جریان کې هېڅ څه نه کېږي چې واقعیت په دقیق ډول درک او احساس شي. همدارنګه دماغ ته له لېږد وروسته هېڅ څه نه کېږي چې له واقعیت سره اړوند نور معلومات په لاس راوړل شي. یعنې په سطحي تفکیر کې واقعیت د د لومړنیو معلوماتو په وسیله تفسیر او تعبیر کېږي. دا ډول تفکیر د سطحي قضاوت او پایلې لامل کېږي، چې په هغو وګړو او ډلو کې لیدل کېږي چې د منحطو افکارو خاوندان او یا بې سواده دي او یا هم له ثقافت څخه لرې هوښیار خلک دي.

سطحي فکر د خلکو او ملتونو لپاره آفت دی، ځکه دا طرز تفکر د ملتونو د ویښتیا او نهضت لپاره هېڅ مرسته نه کوي او نه هم له دوی سره د یو سوکاله ژوند په درلودلو کې مرسته نشی کولی. خو ممکنه ده چې په معیشت کې د ځینو د قناعت لامل شي.

د سطحي تفکیر عامل د واقعیت په اړه کمزوری احساس، کمزوري معلومات او په انساني دماغ کې د تړاو کمزوری استعداد دی. سطحي تفکیر په انسان کې د لومړني ډول طرز تفکر په توګه طبیعي نه دی، بلکې د واقعیت په احساس، د معلوماتو په درلودلو او د هغوی په ربط کې د د کمزوریو له امله دی. ځکه انسانان د واقعیت په اړه د خپل احساس په کچه د معلوماتو د ربط په وړتیا او هم د معلوماتو په لرلو کې متفاوت دي، پرته له دې چې په پام کې ونیول شي چې معلومات له کومې سرچینې په لاس راغلي دي، د مطالعې، زده کړې او یا هم د ژوند د تجربو په وسیله. له همدې امله ده چې خلک د تفکیر د ژوروالي له مخې یو له بل سره توپیر لري. که په بنسټ کې وکتل شي، وبه لیدل شي چې ډېری خلک د معلوماتو د ربط له مخې پیاوړي دي، له کم شمېر خلکو پرته چې کمزوری خلقت یې موندلی او یا هم وروسته د ځینو پېښو

په سبب کمزوري شوي دي. په ورته مهال کې ډېرى خلک د معلوماتو د لرلو له مخې کمزوري نه دي، ځکه چې معلومات په ورځنۍ توګه زیاتېږي، حتی که نالوستی هم وي؛ له کمو خلکو پرته چې ناروغ دي، د خپل ورځني ژوند پر اساس د معلوماتو تر لاسه او کولو او زده کولو ته پاملرنه نه کوي. نو سطحي تفکیر یوه طبیعي چاره نه ده، بلکې یوه غیر عادي چاره ده. وګړي د زیات تکرار له امله د هغه په پایلو او د پرمختګ او د منحط حالت په نه بدلون رضایت نه ښیي او په سطحي تفکیر عادت کیږي او له پایلو یې تل خوشاله دي. خو ډلې ښنګه چې ډلې دي، په دوی کې د سطحي فکر موجودیت یوه نه پرېښودونکې چاره ده، حتی که دا ډله یوه د نوښتګرو مفکرینو ډله هم وي. نو پر دې اساس سطحي تفکیر داسې څیز دی چې ارو مرو په انساني ژوند کې شته دی او که د ملتونو او ډلو ترمنځ ځانګړي با استعداده د واقعیت احساس او د معلوماتو د ربط ور وګړي نه وای، د ژوند په بهیر کې ویښتیا او نهضت او حتی مادي پرمختګ ممکن نه و.

د ډلو ترمنځ د سطحي تفکیر لپاره هېڅ درملنه نشته. که څه هم ممکنه ده چې د عالي افکارو او زیاتو معلوماتو په وسیله د واقعیتونو او پېښو د درک کچې ته لوری ورکړل شي چې د ډلې د تفکیر کچه لوړه شي. خو باید په یاد ولرو چې په هره اندازه چې د ډلې د تفکیر کچه لوړه شي، بیا هم په ډله کې تفکیر سطحي دی. خو په دې توپیر چې ښایي د کچې له مخې په لوړه کچه کې وي. په بله وینا ملتونه او ډلې شونې ده چې د مستنیرو وګړو په وسیله رهبري شي، خو هېڅکله په ژوره یا مستنیره بڼه تفکر نشي کولی، که څه هم د ډلې او ملت تفکیر په هره کچه لوړ شوی هم وي. ډله نشي کولی چې په افکارو کې عمیقه شي. نو لازمه نه ده چې هڅه وشي چې سطحي تفکیر په ډله کې له منځه لاړ شي، بلکې هڅه په دې ټکي متمرکزه شي چې پېښې او واقعیتونه له زیاتو او دقیقو معلوماتو او عالي افکارو څخه په ګټې اخیستنې په غوره بڼه درک شي، په ځانګړې توګه هغه پېښې او واقعیتونه چې ډله یې چاپېره کړې ده. په دې ترتیب د دې امکان موجود دی چې سطحي تفکیر په ډله کې ارتقا وکړي، خو هېڅکله امکان نه لري چې سطحي تفکیر په ډله کې په بشپړه توګه له منځه لاړ شي.

خو په وګړو کې سطحي تفکیر ممکن دی چې درملنه یې وشي. دا درملنه له دې ټکي پیلیږي چې له دوی څخه د سطحي فکر عادت واخیستل شي. دا عادت داسې اخیستل کیږي چې وګړي په لومړي پړاو کې د زده کړې او روزنې په وسیله کمزورۍ او د سطحي تفکیر کمیو ته متوجه کیږي. په دویم پړاو کې د ازمویښت او تجربې په وسیله څارل کیږي، چې له څو واقعیتونو او پېښو سره مخ شي چې هر ځل بدلون مومي او په مختلفو ډولونو څرګندیږي چې مختلف واقعیتونه درک او احساس کړي.
په دریيم پړاو کې هغوی اړ کیږي چې واقعاً ژوند وکړي یعنې د ژوند اصلي مسیر ته ننوځي او په دې ترتیب له سطحي تفکیر څخه په ګټې اخیستنې تر ټولو ممکنې ټیټې کچې ته ورسیږي او پایله داسې شي چې دا ډول وګړي په امت کې زیات شي، ویښتیا او نهضت ته رسېدنه ساده کیږي او هر واقعیت ته په قوي توګه په خپلو غني او ډېرو معلوماتو ربط ورکوي او د امت چارو ته متوجه کیږي او د امت د واقعي بچیانو په توګه خپل ټینګ قدمونه د پرمختګ لپاره یو په بل پسې پورته کوي.
وګړي به په دې حال وتوانیږي چې امت له یوه حالته وژغوري او بل حالت ته یې انتقال کړي. دا ډول وګړي د عالي افکارو خاوندان دي او پېښې په عملي او دقیقه بڼه درک کوي. ځکه دوی داسې افکار او نظریات لري چې په داسې عقیدو باورمن دي چې د واقعیتونو او پېښو دقیق درک ته لاربښوونه کوي. دا هماغه فکري احساس دی چې انسان ته توان ورکوي چې د کره معلوماتو او پیاوړي ارتباط نه په ګټې اخیستنې واقعیتونه په سمه بڼه تعبیر او تفسیر کړي. دا حالت منطق الاحساس بلل کیږي. که چېرې په خلکو کې منطق الاحساس د سطحي تفکیر د درملنې په پایله کې منځته راغی، ممکن دی چې د خپل ځان او امت په ژوند کې د پرمختګ خاوند شي. که څه هم دوی نورو ته ورته احساس او دماغ لري، خو یوازې هغه څه چې دوی ته امتیاز ورکوي، په ربط کې فوق العاده ځواک دی چې د وخت په تېرېدو او د ډول ډول پېښو په څرګندېدو پیاوړی کیږي او هغوی په روانو چارو خبروي. نو وګړي نسبت ډلو ته وړ دي چې معالجه یې وشي او سطحي تفکیر ترې پاک شي، خو که چېرې هغه پایلې چې دا وګړي ورته رسېدلي دي، د ډلې په وسیله وانه خیستل شي، د وګړیو د سطحي

تفکير درملنه هېڅ ګټه نه لري.
دا ده د سطحي تفکير دقيقه او عملي درملنه چې د وګړيو له درملنې عبارت ده، نه د ډلو. خو دا بايد په پام کې ونيول شي چې امت او ډله بايد د هغو وګړيو د انفرادي پايلو څخه ګټه واخلي چې د عميق او مستنير تفکير خاوندان دي. او دواړه عملونه بايد په يوه وخت کې تر سره شي. مانا دا چې له يوه لوري د وګړيو د سطحي فکر درملنه وشي او له بل لوري له امت سره کار وشي چې د عالي افکارو او مفاهېمو خاوند شي چې وګړي هغه ته رسېدلي دي. د وګړيو ژور او مستنير تفکير تر هغه چې امت او ډلو هغه نه وي اخيستی او تطبيق يې نه کړي، مېوه نه لري او که له امت سره کار هم وشي، خو وګړي سطحي فکر ولري، پايله نه لري. ځکه امت د يوه کل په توګه دی، وګړي د هغه جز دي، هغوی د يوه ځانګړي عقيدوي ليدلوري او د ژوند د نظام پر اساس له يو بل سره تړل شوي دي او يو بله نه جلا کېږي. په دې دليل لازمه ده چې د سطحي تفکير درملنه په دواړو ناحيو (وګړيو او امت) کې تر سره شي چې دا ډول طرز تفکر په دواړو کې په ورته وخت کې معالجه شي.
خو ژور تفکير هغه تفکير دی چې وګړی په هغه کې هڅه کوي چې د مسايلو ژورو ته لاسرسی پيدا کړي. د مسايلو عمق تر هغه وخته نشي تر لاسه کولی چې د واقعيت په درک او احساس، اړوندو معلوماتو او له واقعيت سره د هغه په قوي تړاو کې ځانګړی ځواک ولري. يعنې ژور تفکير، د څيزونو مجرد احساس، لومړني معلومات او لومړني ارتباط –لکه څنګه چې په سطحي تفکير کې پېښېږي- نه مني، بلکې وګړی د واقعيت د احساس په تکرار هڅه کوي چې واقعيت په سمه بڼه درک کړي. دا چاره ممکنه ده چې د تجربو او يا هم د احساس د تکرار په وسيله تر سره شي. په ورته وخت کې وګړی په دې ډول تفکير کې هڅه کوي چې د واقعيت له احساس وروسته د لومړنيو معلوماتو سربېره، نور معلومات چې له ياد واقعيت سره تړاو لري تر لاسه کړي. تر هغه وروسته وګړی په دې ډول تفکير کې بيا هم هڅه کوي چې د معلوماتو او تکرار شوي واقعيت او د هغه د کتنو ترمنځ تړاو د دې تکرارونو له لارې پياوړی کړي. په دې ترتيب انسان له دې ډول احساس او د واقعيت په اړه د معلوماتو او د دوی ترمنځ د تړاو څخه په ګټې

اخیستنې ژورو افکارو ته رسېدای شي، له دې په پام کې نیولو پرته چې یاد افکار حقایق دي که نه؟ د همدې کړنلارې تکرار او هغه عادت کول داسې څه دي چې په پای کې ژور فکر تولیدوي. په بله وینا، ژور تفکیر د واقعیت په خالص احساس، لومړنیو معلوماتو او له واقعیت سره د دې لومړنیو معلوماتو په ربط بسنه نه کوي او غواړي چې د تفکیر دویم پړاو ته ورسېږي. د تفکر دا ډول هماغه د پوهانو او نورو مفکرینو تفکر ګڼل کېږي، مهمه نه ده چې عمیق وګړي باید هرو مرو لوستي وي. د وینا پایله دا چې ژور تفکیر یعنې ژور احساس، ژور معلومات او ژور ارتباط.

خو مستنیر تفکیر؛ داسې تفکیر دی چې مفکر یو بل مورد هم پر تفکیر ور زیاتوي او هغه د هغه شیزونو په باب تفکر دی چې واقعیت یې چاپېر کړی ترڅو سمې پایلې تر لاسه کړي. په بله وینا، ژور تفکیر یعنې ژوروالی د تفکیر په نفس کې او مستنیر تفکیر یعنې ژوروالی د تفکیر په نفس او ژوروالی په هغو مواردو کې یاد واقعیت په بر کې نیسي او دا کړنلاره د یو ټاکلي هدف د تر لاسه کولو یعنې یوې سمې او سالمې پایلې ته د رسېدو لپاره پکارېږي. نو په واقعیت کې هر مستنیر فکر ژور فکر دی، خو هر ژور فکر مستنیر فکر نه دی. له اره ممکنه نه ده چې مستنیر فکر دې د سطحي فکر پایله وي. د بېلګې په توګه، هغه پوهان چې د اتوم، کیمیا یا د شیزونو د پیدایښت د څرنګوالی او یا د قوانینو او احکامو په باب څېړنه او مطالعه کوي؛ له ژور تفکیر څخه ګټه اخلي او هر یو په خپل ټاکلي ډګر کې، په تفکیر کې ژوروالی لري، ځکه له دې پرته عالي پایلو ته رسېدنه ممکنه نه ده. خو هغوی د غیر علمي څېړنو په چارو کې، هېڅکله له مستنیر تفکیر څخه کار نه دی اخیستی.

په همدې دلیل دی چې پوهان د اتوم د څېړنې او مطالعې په حال کې وینو، خو په ورته وخت کې دوی وینو چې د لرګي یوې ټوټې یعنې صلیب ته عبادت کوي. په داسې حال کې چې کم مستنیر تفکر انسان دې دقیقې او سمې پایلې ته رسوي چې د لرګي یاده ټوټه نه انسان ته زیان رسولی شي او نه هم ګټه. له بل لوري، قاضیان د قوانینو د مطالعې او څېړنې په حال کې وینو، خو په ورته مهال کې ګورو چې کشیش ته تسلیم دي او له هغه غواړي چې ګناهونه یې وبښي او جنت ته یې دننه کړي. خو که پورتنې

دواړې ډلې پوهان، په مستنیر فکر تفکر وکړي، بې شکه چې نه لرګي ته تسلیمېږي او نه هم کشیش ته. که څه هم یاد پوهان د اتوم او قوانینو په مطالعه کې په ژوره بڼه تفکر کوي، خو په نورو مواردو کې له ټیټ تفکیره کار اخلي. بل ټکی دا چې که انسان په ژور تفکیر عادت شي، دی په هره چاره کې په ځانګړې توګه هغه چارې چې د ژوند، کایناتو او انسان په اړه د یوه ټولیز لیدلوري په څېر پېچلي دي؛ په ژوره توګه فکر کوي.
خو په ده کې د مستنیر تفکیر نه شتون لامل کېږي چې همداسې په سطحي او حتی ټیټ او ناچیز تفکیر عادت شي. نو د ویښتیا او نهضت لپاره یوازې ژور تفکیر بسنه نه کوي، بلکې باید مستنیر تفکیر وي چې انسان په طرز تفکر کې ارتقا تر لاسه کړي او په پایله کې د ده د ویښتیا لامل شي.
د دې لپاره چې ویښتیا او نهضت تر لاسه شي، کافي نه ده چې امت یوازې په تجربي او ټولنیزو علومو، قوانینو، درمل جوړونې او نورو کې مستنیر فکر ولري؛ بلکې لازمه ده چې امت د طرز تفکر او فکري کچې د ارتقا لپاره له مستنیر تفکیره ګټه واخلي او په مستنیر فکر مفکرین تولید کړي. ځکه امت د قاضیانو او فقهاوو، ډاکټرانو، انجینرانو او زیاتو ښوونکو په شتون کې نهضت او ویښتیا نشي تر لاسه کولی؛ بلکې ویښتیا او نهضت د هغه وګړیو په شتون کې تر لاسه کولی شي چې مستنیر تفکیر وکړي او ټاکلې او سالمې پایلې ته ورسېږي.
د مستنیر تفکیر شتون د زده کړې او تحصیل شتوالی نه حتمي کوي. په بله وینا، لازمه نه ده چې انسان د دې لپاره چې په مستنیره بڼه تفکیر وکړي، د تحصیل او لوست خاوند وي. عرب بدوي د دې ادعا غوره بېلګه ده، ده وویل: «د لارې په مسیر کې د اوښانو د فاضله موادو شتون، د اوښانو موجودیت ښیي او په دې مسیر کې د قدم نښه د سفر د کاروان موجودیت ښیي.» دی له دې سره سره چې تحصیل او سواد نه لري، په خپل دې طرز تفکر کې مستنیر دی. همدا راز د یو بل کس وینا هم د مستنیر فکر حاصل دی چې ویې ویل: «وېره او تدابیر له قضا څخه خلاصون نشي تر لاسه کولی او صبر د بري یو عامل دی.» دی هم په دې طرز تفکر کې مستنیر دی. خو هغه شاعر چې ویې ویل:

خلیفه وفات شو اې انس او جنه

د دې په څېر لکه د رمضان روژه مې چې ماته کړې وي

په مستنير ډول يې تفکير نه دی کړی، که څه چې دا شاعر يو فقيه هم دی. همداراز هغه حکيم چې وېې ويل: «د عقل او معرفت تاج يا څوکه، له الله تعالی څخه وېره ده.» هم د مستنير تفکير خاوند نه دی، که څه چې حکيم دی، ځکه د عقل او معرفت تاج يا څوکه د الله سبحانه وتعالی د موجوديت پېژندنه ده نه له هغه څخه وېره. نو په ښه توگه څرگندېږي چې هېڅ ډول علم مستنير تفکير نه حتمي کوي او هر څوک په مستنير ډول تفکر کولی شي. ځکه مستنير تفکير د واقعيت ژوره مطالعه غواړي او د هغه چارو په اړه تفکير دی چې د واقعيت اطراف يې چاپېر کړی چې سمې پايلې ته ورسېږي. په دې معنی چې مستنير وگړي کېدای شي لوستي، نالوستي او يا هم پوهان وي. دا ټکی هم د يادولو وړ دی چې هېڅوک مستنيرې پايلې نشي تر لاسه کولی، خو هغه کسان چې د تفکير پر مهال مستنير وي. په دې ښه سياستوال يو مستنير متفکر دی. ځکه د هغو څيزونو او چارو په اړه –چې د ده اطراف يې چاپېر کړی- فکر کوي. خو په نورو مواردو کې اصلاً مستنير فکر نه کوي. په همدې دليل دي چې لوی سياستوال او مشران وينو چې د لرگي ټوټې ته عبادت کوي او يا له داسې خلکو د مغفرت غوښتنه کوي، چې حتی تر دوی کم مستنير دی. ځکه دوی په دې برخه په ژوره او مستنيره ښه تفکير نه دی کړی، بلکې يوازې د عادتونو، تصوارتو، فرېب او نفاق پيروي کوي، حال دا چې نه عادتونه او تصورات پر مستنير وگړی نه برلاسي کېږي او نه هم فرېب او نفاق مستنير کس خطا کولی شي.

# په تفکير کې جديت

مفکر له دې په پام نیولو پرته چې سطحي یا ژور او یا هم مستنیر وي؛ باید پوره جدیت ولري. که څه هم سمه ده چې سطحي تفکیر په جدیت درلودلو کې مرسته نه کوي؛ خو په تفکیر کې د عادت او بوختېدو په لرې کولو، ممکنه ده چې د جدیت د ایجاد لامل شي، حتی په سطحي فکره وګړیو کې. ځکه چې د فکر ژوروالی د جدیت لپاره حیاتي نه دی، که څه هم ژور او مستنیر تفکیر جدیت هڅوي، خو عمیق او مستنیر تفکیر د جدیت لپاره حتمي نه دی، که څه هم چې مستنیر تفکیر جدیت غواړي. په تفکیر کې جدیت یعنې د هغه هدف درک کول چې تفکیر د هغه لپاره تر سره کېږي او همااغه هدف ته د رسېدو لپاره مبارزه کېږي. هغه چې د واقعیت کره پېژندنه له هغه سره ډېره زیاته مرسته کولی شي. د بېلګې په توګه د خطر په اړه تفکیر په واقعیت کې له خطر څخه د مخنیوي په اړه تفکیر دی. د خوړلو په اړه تفکیر په واقعیت کې د هغه د تر لاسه کولو لپاره تفکیر دی. د لوبې په اړه تفکیر په واقعیت کې د بوختیا او مصروفیت په اړه تفکیر دی. له ښاره بهر د هوا د تنفس په هکله تفکیر په واقعیت کې د خوند اخیستلو په اړه تفکیر دی. د قدم وهلو په باب تفکیر په واقعیت کې له ستړیا څخه د لرې کېدو په باب تفکیر دی. د یوه قانون د پلي کېدو په هکله تفکیر په واقعیت کې د پام وړ ستونزو د حل په اړه تفکیر دی. په دې توګه تفکیر له هر ډول څخه چې وي، په واقعیت کې د شیز د نفس په اړه اړه یا د یاد شیز د عمل په اړه تفکیر دی. د شیز د نفس په اړه تفکیر باید د هغه د پېژندنې لپاره وي، خو په شیز د عمل په اړه تفکیر باید د عمل د ماهیت د پېژندنې لپاره وي. په دواړو مواردو کې تفکیر باید یوازې او یوازې د تفکیر د هدف لپاره تر سره نشي، یعنې تفکیر باید یوازې د فکري بوختیا او مشغولتیا لپاره تر سره نشي، باید د تفکیر په وسیله ټاکلې موخه وڅارل شي. همدا راز په تفکیر عادت باید په دواړو پورتنیو مواردو کې غالب نشي. د خبرې نچوړ دا چې که خالص عادت او بوختیا له تفکیر څخه حذف شول، په تفکیر کې په طبیعي ډول جدیت منځته راځي. ځکه چې

د عادت او بوختیا له حذف وروسته، د تفکير موخه او هغه ته د رسېدو مبارزه واضح کېږي. همدارنگه د هغه له جوړېدو وروسته، د واقعیت درک څنگه چې دی، ساده کېږي، ځکه چې تر هغه وروسته تفکير جدي کېږي او مشخص هدف څاري.
که څه هم چې جدیت په اساس کې یوازې په ژور او مستنیر فکر کې موجود دی، خو سطحي فکر هم د جدیت خاوند کېدای شي. نن ډېر خلک له هېڅ جدیت پرته تفکير کوي، یعنې پرته له دې چې د خپل تفکير شا ته یې کومه ټاکلې موخه انتخاب کړې وي، خالص تفکير کوي. په بله وینا، خلک زیاتره د عادت او بوختیا او مصروفیت پر اساس تفکير کوي او دا چاره په بشپړه توگه څرگنده ده. له همدې امله لازمه ده چې په تفکير کې د جدیت د ایجاد لپاره کار وشي. لومړنی پړاو یې د جدیت ښکاره کېدل دي. له هغه ځایه چې جدیت یعنې د تفکير لپاره د هدف ایجاد، کله چې جدیت په ښکاره او مصنوعي بڼه وښودل شي او تمرین ورباندې وشي؛ په حقیقت کې په مصنوعي حالت کې د جدیت ایجاد د یوې موخې په توگه ځای نیسي او دا چاره د جدیت د ایجاد لامل کېږي. یعنې په تفکير کې جدیت یوه طبیعي چاره نه ده، که څه هم ممکنه ده چې یو شمېر وگړي په طبیعي بڼه جدي وي.
سربېره پر دې هغه څه چې دلته د جدیت په اړه یاد شول، هېڅکله یې مطلق مفهوم هدف نه دی. یوازې هغه څه چې زموږ مطلب او هدف تشکیلوي، له تفکر سره په یوه کچه جدیت دی. که جدیت د تفکر له کچې ټیټ شي، په دې صورت کې جدیت نه گڼل کېږي. نو انسان چې د واده په اړه فکر کوي، خو د هغو چارو په اړه چې دی دې موخې ته رسوي، فکر نه کوي؛ جدیت نه لري. هغه څوک چې د سوداگرۍ په اړه فکر کوي، خو خپل ټول عواید بې ځایه مصرفوي، جدیت نه لري. هغه څوک چې د قضا پوست د ترلاسه کولو لپاره فکر کوي، خو د اسلوبونو او امکاناتو په اړه، چې دی دې موخې ته رسوي، فکر نه کوي؛ جدیت نه لري. څوک چې د خپلې کورنۍ د معیشت په باب فکر کوي، خو خپله ټوله ورځ په لوبو او مارکېټونو کې په گرځېدو راگرځېدو تېروي، جدیت نه لري. او په همدې ترتیب نورې بېلگې.
جدیت په واقعیت کې له انسان څخه کار او هڅه غواړي. داسې کار چې هدف ته د

رسېدو لپاره مرسته کوي. هغه هدف چې د تفکير موخه تشکيلوي. د انسان دا کار او هڅه بايد د ده له موخو او مقصدونو سره برابر او په يوه کچه کې وي. که د ده کار، هڅه او يا کړنې د ده تر موخو ټيټې وي، په دې ترتيب انسان په تفکير کې جديت نه لري. که څه هم ممکنه ده چې افکار هم لاسته راوړي. يعنې يوازې اعتراف پر دې چې فلانی وګړی په خپل تفکير کې جدي دی، بسيا نه دی. حتی د ځينو فضاوو، شرايطو، حالاتو، احساساتو او نورو څيزونو که فکري وي يا فزيکي وي تمثيل هم د جديت لپاره کافی نه دی. نو د عملونو او فزيکي چارو د اقدام د اهميت نه وروسته واضح کېږي، هغه عملونه چې له موخو سره په يوه کچه کې ځای ولري او د ټاکلې موخې د تر لاسه کولو لپاره تر سره کېږي.

منحط ملتونه او ډلې او همدارنګه تنبل وګړي او يا هغه وګړي چې له زړورتيا او نوښته وېرېږي او يا شرمېدلي او ډارن وګړي هېڅکله په خپل تفکير کې جدي نه وي. انحطاط د دې لامل کېږي چې ملتونه يوازې د اسانه او ساده چارو په اړه فکر وکړي او د لويو او ستونزمنو چارو په اړه د هغوی مانع کېږي. په همدې ترتيب تنبلي له جديت سره مخالفت لري. د نوښتونو له کولو او زړورتيا څخه وېره او انديښنه هم انسان له جديت څخه را ګرځوي. شرم، وېره او د بشپړې وابستګۍ احساس هم انسان د جديت له مسيره منحرفوي. نو لازمه ده چې طرز تفکر ارتقا وومومي او د تنبلۍ، اسانۍ، وابستګۍ او له نويو نوښتونو او جسارتونو څخه لرېوالی او حتی شرم ته هېڅ ځای پرې نښول شي. خو داسې حالتونه بايد پام کې ونيسو چې شرم او حيا په هغه کې لازمه وي او له هغه پرته هر ډول اقدام بې شرمي او بې ادبي ګڼل کېږي. په هر حال پورتنۍ ټولې چارې بايد د جديت د ايجاد سره په تړاو کې په پام کې ونيول شي، تر دې چې د ملتونو، ډلو او وګړيو په طرز تفکر کې جديت را منځته شي. ځکه په تفکير کې جديت د هڅونې، تشويق او لمسون له امله منځته راځي نه په طبيعي او غير شعوري توګه.

په تفکير کې جديت يعنې تفکير په يو ټاکلي هدف تر سره کول او دا هدف يوازې دا نه دی چې تفکير تر سره شي، بلکې د دې هدف يوه بله ناحيه هماغه عملي استفاده او يا په بله وينا، له سرته رسېدلي تفکير څخه عملي ګټه اخيستل دي چې تفکير

یوازې د خالص تفکیر په توګه پاتې نشي. په بله وینا تفکیر باید د یوه عمل د تر سره کېدو په هدف تر سره شي. افکار، معلومات او د تاریخ په اوږدو کې د پوهانو علمي لاسته راوړنې یوازې د خوښۍ، نېمکرغۍ او له دې افکارو او معلوماتو څخه د خوند اخیستلو د احساس لپاره نه دي، بلکې په بشري ژوند کې له هغوی څخه د عملي ګټې اخیستنې لپاره تر سره شوي. یعنې تفکیر د دې لپاره کېږي چې داسې افکار منځته راشي چې انسان د هغه پر اساس د عمل اقدام وکړی شي. په دې ترتیب دا تېروتنه ده که وویل شي چې علم یوازې د عالم کېدلو په موخه حاصلېږي، بلکې علم د عمل کولو لپاره حاصلېږي. پر دې اساس ویلی نه شو چې د یونان فلاسفه په هر هغه څه کې چې له علم او منطق څخه یې حاصل کړي، جدي وو. همدارنګه نشو ویلی چې معاصر مسلمان پوهان لکه «حوشي بن سعد» چې علوم یې لکه بدیع او بیان، بلاغت او فصاحت، فلسفه او منطق یې راوایستل، په خپل تفکیر کې جدي وو. ځکه د دوی تفکیر په ډېرو مواردو کې د مسلمانانو په عملي ژوند کې هېڅ ګټه نه درلوده؛ بلکې هغوی یوازې د خوند اخیستلو او د خوښۍ احساس لپاره څېړنه او مطالعه کوله. پرته له دې چې تر شا یې ټاکلې او عملي موخې وځاري. خو په متونو کې لکه نثر او نظم کې، که څه هم چې په عمل د اقدام له مخې، په خپل تفکیر کې جدي نه دي، خو د اغېزې او ګټې له ناحیې جدیت لري. ځکه نثر او نظم هر ډول چې وي انسان تشویق او هڅوي او د خوښۍ احساس ورکوي. دلیل یې هم دا دی چې په پورتنیو یادو متونو کې د الفاظو د ترکیب کیفیت د تفکیر مستقیمه پایله ده. نو پر دې اساس سمه نه ده چې وویل شي چې هغوی - شاعران او نثر لیکونکي- په خپل تفکیر کې جدي نه وو. ځکه پوه او جدي کسان د دوی په منځ کې لیدل کېدل او د دوی دا کار د فلسفې له واقعیت سره بشپړ توپیر لري. ځکه فلاسفه یوازې تفکیر او تعقل کوي چې حقایق تر لاسه کړي. که څه هم چې د هغوی فلسفي پایلو له حقایقو او واقعیتونو سره هېڅ تړاو نه درلود او حتی د انسان له واقعیت سره یې هېڅ تړاو نه درلود. په ورته وخت کې د دوی کار د بلاغت او فصاحت له علماوو سره توپیر لري. ځکه دې پوهانو هڅه کوله چې په بلیغ او فصیح بیان خلک د یادو علومو خواته جلب کړي. هغه څه چې دوی یې

پر اساس مخ ته ولاړل، نه بلاغت رامنځته کړل او نه یې له هغه سره تړاو درلود. دوی په پای کې خپل هدف تر لاسه نه کړ او حتی ونه توانېدل چې بلاغت د کمو خلکو ترمنځ عام کړي. نو هغوی هم په خپل تفکیر کې جدي نه وو او دلیل یې یوازې دا نه دی چې خپل هدف یې تر لاسه نه کړ، بلکې دا موضوع هم ده چې د دوی د هدف ماهیت هم غیر عملي او د لاسرسي وړ نه و. په داسې حال کې چې په تفکیر کې جدیت یعنې د یوه ټاکلي هدف پر اساس په تفکیر اقدام، داسې هدف چې له انسان سره په عملي ژوند کې مرسته کوي او د خپلو موخو د لاسته کولو وړتیا ورکوي. خو د فلاسفه وو او بلاغت او فصاحت علماوو کار یوازې څېړنه او مطالعه وه او بس چې په پایله کې په دوی کې د جدیت د له منځه تلو لامل شوه.

په تفکیر کې جدیت د فکر او عمل ترمنځ مشخص وخت نه غواړي، نه لنډ او نه اوږد. ځکه عمل د فکر مستقیمه پایله ده. د بېلګې په توګه یو ځوک سپوږمۍ ته د سفر په باب فکر کوي، ممکنه ده چې د هغه د دې فکر او سپوږمۍ ته د رسېدو ترمنځ زماني واټن ډېر اوږد وي. همدا راز یو کس د خوړلو په اړه فکر کوي، ممکنه ده چې د دې فکر او خوړلو ترمنځ زماني واټن اوږد وي. همدارنګه یو ځوک د نهضت او ویښتیا په اړه فکر کوي، ممکنه ده چې د ده د دغه فکر او په امت کې د بیدارۍ او نهضت د رامنځته کولو ترمنځ زماني واټن لنډ وي. یعنې اصلي پوښتنه؛ د تفکیر او عمل ترمنځ وخت نه دی، بلکې پوښتنه او د دې بحث اساسي محور د جدیت موجودیت دی. ځکه چې د فکر او عمل ترمنځ وخت پر جدیت هېڅ اغېزه نه لري او ممکنه ده چې د فکر او عمل ترمنځ زماني واټن اوږد او یا لنډ وي. یعنې ډېره مهمه مساله دا ده چې عمل د تفکیر په پایله کې منځته راشي، برابره ده چې تفکیر خپله د شخص په وسیله تر سره شوی وي، که د نورو اشخاصو په وسیله. په بله وینا، تفکیر باید په عمل پای ته ورسېږي او دا تفکیر ممکن دی چې د خبرې په توګه څرګند شي لکه نظم او نثر او یا هم ممکنه ده چې د پلان په توګه د عمل جامه واغوندي، لکه سیاست او جګړه او یا هم ممکنه ده چې د فزیکي چارو په توګه تجسم ومومي، لکه خوړل، زده کړه او نور.

نو پر دې اساس د دې لپاره چې تفکیر مثمر وي او ټاکلې پایله ترې تر لاسه شي؛

لازمه ده چې په تفکير کې پوره جديت منځته راشي. له پوره جديت پرته هر ډول تفکير له بوختيا، لوبو، عادتونو او تصوراتو پرته بل څه نه دي چې دوام يې بالاخره ټولنه او وګړي په کليشه يي او همنواخته تفکير عادت کوي او د بدلون په اړه هر ډول تفکر او په ژوند کې د بدلون مفهوم هغوی له منځه وړي.

# تفکير په بدلون کې

د بدلون په اړه تفکير په ژوند کې د پرمختګ او ودې لپاره ضروري دی، ځکه په په بدلون کې د تفکير نشتون، لامل کېږي چې ملتونه او ډلې موجودو شرايطو او حالاتو ته تسليم شي او د بدلون لپاره هېڅ خوځښت ونه لري. دا چاره په پای کې د پېښو او حالاتو په جريان کې د ډلو او ملتونو د هلاکت او له منځه تلو لامل کېږي. په همدې دليل ده چې ويل کېږي په بدلون کې تفکير يو خورا مهم انساني تفکير ګڼل کېږي. دا طرز تفکر د کمزورو، تنبلو او حتی په نامه محافظه کارو په وسيله ردېږي. ځکه په بدلون کې تفکير زياته انرژي او له ځانه تېرېدنه غواړي او دا هغه څه دي چې ډېر خلک په ځانګړې توګه هغه وګړي چې په عاداتو کې بند پاتې دي، نه يې غواړي ځکه چې د حاکم حالت بدلون په بشپړه توګه له خپلو ګټو سره په ټکر کې تصور کوي. بې شکه په بدلون کې د تفکير نشتون له اساسي عواملو څخه دی چې سبب شوی چې منحط امتونه او تنبل وګړي او هغه کسان چې د اوسني حالت دوام يې په ګټه دی، د دې تفکير پر وړاندې مبارزه کوي. په دې ترتيب که څه هم په بدلون کې تفکير يو خورا مهم تفکير ګڼل کېږي، خو په ورته مهال کې يوه خورا خطرناک تفکير هم ګڼل کېږي چې په پوره شدت ځپل کېږي او له حملې سره مخ کېږي.

بدلون برابره ده چې د وګړو بدلون، د وګړو، ټولنې حالت او يا د ټولنې، ملتونو حالت او يا هم د ډلو وي؛ لازمه ده چې له يوه ټاکلي اساس څخه پيل شي. دا اساس بايد د کايناتو، ژوند او انسان په نسبت له ټوليز ليدلوري څخه پيل شي. يعنې لازمه ده چې د تغير په اړه د انسان ليدلوری پر يوه ټوليز اساس قرار ولري. ځکه همدا ټوليز اساس دی چې د ټولنو د نهضت او انحطاط لامل کېږي او د انسان د نېکمرغۍ او بدمرغۍ لامل کېږي. ځکه د انسانانو ژوند د همدې بنسټ پر اساس څرخي او که دا بنسټ ناسم وي، تفکير په نورو مواردو کې چندان ارزښت نه لري. نو تر ټولو مخکې لازمه ده چې د بدلون په باب د تفکير لپاره يو ټوليز اساس موجود وي چې ژوند په مناسبه

بنه دوام وکړي.
بدلون له دې ټکي پيلېږي چې ټولیز اساس -هغه څه چې پورته یاد شول- په لومړي کې پړاو ازمویل او ارزیابي کېږي ترڅو ولیدل شي چې ایا دا ټولیز اساس او یا هماغه عقیده، د انسان د عقل او فطرت پر اساس ده که نه؟ که وي، اړتیا نشته چې د بدلون په اړه په اساس او بنسټ کې تفکیر وشي. ځکه په بدلون کې تفکیر هغه مهال لازمېږي چې د انسان په عقل کې ناسم څه په ثبوت ورسېږي او یا چارې په سمه بڼه نه وي منظمې شوې او د انسان په ذهن کې تېروتنې را منځته کړي. یعنې هغه اساس چې انسان پر هغه د خپل ژوند د نظام او عقیدې بنسټ ایښی وي، داسې سم وي چې د هغه عقلي قناعت د عقلي بهیر له لارې او د هغه د زړه ډاډ د غریزو او عضوي اړتیاوو د پوره کېدو له لارې د انساني فطرت پر اساس مساعد کړي، په دې صورت کې په ټولیز لیدلوري کې تفکیر ته هېڅ اړتیا نشته. ځکه انسان د عقیدې او د ستونزو د حل له مخې په لوړ حالت کې ژوند کوي چې د بدلون اړتیا په بشپړه توګه له منځه وړي.
خو که برعکس هغه واقع شي، یعنې هغه اساس چې انسان، ټولنه او ملتونه د هغه پر بنسټ بڼه موندلې ده، داسې اساس وي چې په عقلي ډول واقعیت ونه لري او یا هم ناسم وي په دې صورت کې به بې ځایه وي چې له دې چارې پرته بدلون په هغوی کې وځارل شي. یعنې هغه تېرونه او ملتونه چې د ژوند، انسان او کایناتو په باب د دوی ټولیز لیدلوری ناسم وي او یا له اره موجود نه وي، لومړی کار د بدلون په ایجاد کې باید دوی په همدې لیدلوری کې تر سره شي. له همدې امله پر مسلمانانو د یوه داسې ملت په توګه -چې نظام یې د عقلي عقیدې له امله پر ځان پلی کاوه، داسې عقیده چې عقل منلې وه او له انساني فطرت یې سره په بشپړه توګه جوړښت درلود- لازمه وه چې نور ملتونه او تېرونه دعوت کړي. دا دعوت باید د کایناتو، انسان او ژوند په اړه د دوی له ټولیز لیدلوري څخه پیل شي. ځینو یادو ملتونو او تېرونو هېڅ ډول ټولیز لیدلوری نه درلود او یا هم ځینو کړو او ناسمو لیدلورو منحرف کړي وو. دا چاره پر مسلمانانو فرض شوې ده چې د تېرونو او ملتونو د بدلون په برخه کې پر همدې اساس دعوت وکړي، که څه هم د دوی دا دعوت د مادي عمل یعنې له کفارو سره د جګړې لامل هم

شي، هغه کسان چې د منحرفو او د انساني فطرف خلافو عقیدو خاوندان دي.
څرګنده شوه چې بدلون باید له ټولیز لیدلوري (اساس) څخه پیل شي. که د دې بدلون په ایجاد کې برى تر لاسه شو، یعنې که ټولیز لیدلورى پر یوه سم لیدلوري چې د انساني فطرت پر اساس وي او له عقل سره په بشپړ ډول سم وي، بدل شو؛ په دې صورت کې د بدلون په اړه تفکیر په نورو چارو او مواردو کې ساده کېږي او ټولنې او حالات د بدلون وړتیا تر لاسه کوي. د ټولنو او د هغوی د حالاتو بدلون د دوی په معیارونو، مفاهیمو او باورونو کې له بدلون څخه حاصلېږي. که سم بنسټ ایجاد شو، دا چاره په اسانۍ او دویم پړاو کې تر سره کېدای شي. ځکه سم لیدلورى د وګړو د ټولو معیارونو، مفاهیمو او باورونو لپاره د اساس او اصل په توګه عمل کوي او هغو ته لورى ورکوي. په دې ترتیب که چېرې معیارونه، باورونه او مفاهیم له ټولیز لیدلوري سره سم شول، ټولنې له یو حالته بل حالت ته د بدلون او انتقال وړتیا تر لاسه کوي او د بدلونونو د ایجاد لامل کېږي. ځکه د اصل او اساس په بدلون ټول ارزښتونه -که په څیزونو پورې اړوند وي، که په افکارو پورې- بدلون کوي، ژوند په ټوله کې بدلون کوي. نو ډېره مهمه ده چې انسان د بدلون په باب فکر وکړي او یا د بدلون په اړه تفکیر ته اړ شي. هر هغه انسان چې د یوه ټولیز عقلي لیدلوري پر اساس یې خپل ژوند تنظیم کړی وي، په تفکیر کې د بدلون ظرفیت لري او په بدلون کې دا تفکیر د ژوند د مبارزې په ژوره مطالعه حمل کېدای شي.
د بدلون احساس د بدلون په اړه د تفکیر د موجودیت په مانا نه دی. یعنې که چېرې یو څوک احساس وکړي چې حاکم شرایط او شته افکار بدلون ته اړتیا لري، دا معنی نه ورکوي چې ده د بدلون په اړه په تفکیر اقدام کړی. بلکې د بدلون په اړه په تفکیر اقدام کولو لپاره لازمه ده چې دا طرز تفکر نړیوال وي. په دې معنی چې که یوه سړي د خپل حالت، قوم، ملت او یا امت د بدلون تفکیر وکړ، دا تفکیر په بدلون کې سم تفکیر نه دی. ځکه په بدلون کې واقعي تفکیر هغه تفکیر دی چې د ځمکې پر مخ ټول انسانان د انسان په توګه پکې شامل شي. یعنې د بدلون په باب تفکیر کې انسان له ځان او امت وروسته، باید د نړۍ د نورو ټبرونو، ملتونو او امتونو د بدلون په اړه تفکیر وکړي، له دې

توپیر پرته چې په کوم هېواد او یا جغرافیه کې ژوند کوي. نو انسان په دې تفکیر کې هڅه کوي چې په هر ځای کې چې ممکن وي، د بدلون اقدام وکړي.
په بدلون کې تفکیر له وګړو پیلېږي او د ژوند پېښې یې لوری ورکونکې ګڼل کېږي. که څه هم چې په بدلون کې تفکیر د ژوند د روانو چارو له مجرد احساس څخه هم تر لاسه کېدای شي. په هر حال قدرتونه او واکمنان د بدلون په اړه د تفکیر پر وړاندې جنګېږي. که څه هم د دې طبقې وګړو مبارزه ممکنه ده چې په مختلفو بڼو او اسلوبونو دوام پیدا کړي، خو بیا هم خلکو د بدلون په اړه خپل تفکیر له لاسه نه دی ورکړی، یوازې په مختلفو وختونو کې د هغه د ښکاره کولو مخه نیسي. په دې معنی چې په انسانانو کې د بدلون په اړه د تفکیر شتون حتمي او نه پرېښودونکی دی او د تشویق او هڅونې او یا د اجبار له لارې منځته راځي. که چېرې د وګړو د ژوند په واقعیت کې بدلون راغلی او یا هم اهمیت یې د وګړو په وسیله په عقلي توګه درک شو، په دې صورت کې د بدلون په اړه تفکیر ساده او عادت کېږي. ځکه د خلکو احساسات د هغه په طرف لوری مومي او په عادي بڼه د هغه د ایجاد لامل کېږي. نو پر دې اساس لازمه ده چې هر وګړی د بدلون په باب فکر وکړي.

# د تفکیر سبکونه

د تفکیر د څرنګوالي د وضاحت لپاره لس سبکونه (ډولونه یا اډانې) موجود دي. دا سبکونه د مشخصو لیدلورو پر اساس لکه زماني (تفکیر له پیل څخه)، وګړیز (وګړي یا وګړیز تفکیر)، حسي (تفکیر د حواسو له لارې)، اوریز (تفکیر د اورېدو له لارې) تر مطالعه لاندې نیول کېږي. همدارنګه د تفکیر بل سبک هماغه مطالعه یي سبک او یا تفکیر د متونو د درک له لارې دی. دا سبک یو څه دلته تشریح کېږي، ځکه د متونو خالصه مطالعه تفکیر نه دی، بلکې لازمه ده چې د انسان د تفکیر کیفیت د مطالعې له لارې او یا د متونو د درک له لارې واضح شي. مطالعه او لیکوالي تفکیر نه دی، بلکې د تفکیر د وسایلو له ډلې شمېرل کېږي. ځکه ډېر وګړي لیدل کېږي چې مطالعې او لیکوالۍ ته مخه کوي، خو له تفکیر پرته. په ورته مهال کې یو شمېر نور که څه هم مطالعه او لیکوالي یې له تفکیر سره یو ځای دي، خو تفکیر یې اشتباه او ناسم دی؛ ځکه مطلوب افکار چې متن یې شرح شو، نه تر لاسه کوي. په همدې دلیل ده چې ویښتیا او نهضت یوازې د سواد پر محور نه حاصلېږي. یعنې د مطالعې او لیکوالۍ له لارې د خلکو باسواده کول او د ویښتیا او نهضت د ایجاد لپاره پر هغه تمرکز سم نه دي. خو ممکنه ده چې د خلکو سواد او زده کړه د ویښتیا او نهضت په موخه، یعنې د ویښتیا د یو اسلوب په توګه وکارول شي. ځکه مطالعه او لیکوالي د انسان په عقل کې هېڅ څیز نه ایجادوي او نه هم د تفکیر په لور کوم خوځښت دی. په واقعیت کې تفکیر د واقعیت له شتون او مخکنیو معلوماتو څخه سرچینه اخلي، حال دا چې د کتاب مطالعه واقعیت نه دی چې تفکیر پرې وشي او نه هم داسې معلومات دي چې واقعیت یې شرحه کړی وي. نو له دې امله د تفکیر په بهیر کې هېڅ ارزښت نه لري. کتابونه یوازې د افکارو شرحه ده او بس. د کتابونو خالصه مطالعه د تفکیر د ایجاد لامل نه کېږي او نه هم د انسان د تفکیر د کچې د لوړوالي لامل کېږي. که چېرې انسان د کتاب د مطالعې په پایله کې د کتاب د افکارو له شرحې، نور افکار لاسته راوړل او د هغه

مطلب يې سم درک کړ؛ دا چاره کولی شي چې د کتاب له مطالعې ده ته گټه ورسوي. يوازې همدا مساله د کتابونو په مطالعه کې د اغېزمنتيا لامل کېږي او په رښتيا که انسان د کتابونو د مطالبو د درک او ټاکلو افکارو ته د رسېدو په موخه، د هغه د افکارو شرحه مطالعه کړي؛ سمه ده خو که د خالصې مطالعې په موخه، د کتاب متن ولولي، حتی د ساعتونو او پر لپسې کلونو لپاره؛ هېڅ گټه نه لري. نو لازمه ده چې په متونو کې د تفکير څرنگوالی او د عقل په وسيله د هغه د درک څرنگوالی، په ژوره او کره توگه تر بحث لاندې ونيول شي.
په عمومي ډول څلور ډوله متن موجود دی: ۱) ادبي متن، ۲) فکري متن، ۳) تشريعي متن، ۴) سياسي متن. که څه هم چې د هر يوه د تفکير څرنگوالی له بل سره متفاوت دی، خو د دوی د ټولو د درک طريقه يوه ده او هغه عقلي طريقه ده. پورتني متون يوازې د همدې طريقې په وسيله د درک وړ دي. خو ساينسي متون د يادو پورتنيو متونو څخه بهر دي، ځکه ساينسي متون په تجربي علومو پورې خاص دي او د نورو وگړو په وسيله لږ کارول کېږي. اوس چې څلور ډوله نور متنونه ټول وگړي کاروي او که يې د درک وسايل په سمه توگه په پام کې ونيول شي، د متونو د درک وړتيا ټول وگړي تر لاسه کولی شي.

## ادبي تفکير

ادبي متون يوازې د خوند اخيستلو او د احساساتو د راپارولو لپاره کارول کېږي. خو بيا هم ممکنه ده چې لوستونکي ته گټور او مرستندويه معلومات وړاندې کړي. د دې ټکي په پام کې نيولو سره چې د ادبي متونو تمرکز په الفاظو او عبارتونو دی. که څه هم شاعر يا ليکوال د خپلو ليکنو يا شعرونو بهير کې معناوي او مطالب تر لاسه کوي، خو ډېره پاملرنه يې د الفاظو ترکيبونو او عبارتونو ته ده. يعنې په ادبي متونو لومړۍ موخه له شک پرته هماغه الفاظ او عبارتونه دي. سمه ده چې الفاظ او عبارتونه په خپل ذات کې گڼې معناوې او مفاهيم ارايه کوي او سمه ده چې د کلام جذابيت او ښکلا په الفاظو او عبارتونو او ادبي بلاغت کې نه ده نغښتې؛ خو له هغه سره هم شاعر او ليکوال په خپلو شعرونو او مطالبو کې ډېره هڅه کوي چې خپلې معناوې او مفاهيم د الفاظو او

عبارتونو له لارې شرحه کړي. یعنې د الفاظو او عبارتونو ترکیب ته پاملرنه ده او هڅه کوي چې معناوې او مفاهیم یې د ښکلو او جذابو الفاظو په اډانه کې نظم پیدا کړي. نو هغه اډانه چې د معناوو د ارایې لپاره کارول کېږي، الفاظ او عبارتونه دي چې په ادبي فکر کې لومړی پاملرنه ورته کېږي.

معناوو ته د بنې ورکونې کیفیت په واقعیت کې د الفاظو او عبارتونو د جوړښت په کیفیت پورې تړلی دی. سمه ده چې د ادبي متونو موخه د ځانګړو معناوو تشریح ده، خو دا مساله په ټولو متونو په عامه توګه د پلي کېدو وړ ده. د ادبي متونو موخه یوازې د معناوو تشریح نه ده، بلکې په حقیقت کې د ادبي متونو موخه د لوستونکي او یا اورېدونکي راپارول دي چې غواړي یو څه په پارونکې او جذابه بڼه ورته ولېږدوي. نو د احساساتو راپارول د ادبي متونو لومړۍ موخه ده. د الفاظو او عبارتو ټاکنه پر همدې اساس کېږي چې یاد الفاظ او عبارتونه په فوق العاده تفخیم، زیږوالي، عمومیت، ښکلا او اغېزمنتیا اورېدونکي او لوستونکي ته انتقال کړي او د هغه په احساساتو کې د ټکان لامل شي چې په پایله کې د غوسې او خوند اخیستو لامل شي. له همدې امله ده چې په ادبي متونو کې اصطلاحات او مفاهیم د انځور د جوړېدو په بڼه ارایه کېږي او ورسته له هغې معناوو ته پاملرنه کېږي. په دې ترتیب په ادبي متونو کې د معلوماتو او افکارو په انتخاب کې اساسي موخه هماغه د جالب او هیجاني انځور جوړېدنه ده. په دې معنی چې افکار، معلومات، معناوې او مفاهیم د پام وړ انځور په جوړېدنه کې د یوې وسیلې په توګه کارول کېږي. بې شکه چې د اځور جوړېدنه او وړاندې کېدل داسې څه دي چې لیکوال او شاعر یې خپله موخه جوړوي، خو افکارو او معلوماتو ته یوازې له دې لیدلوري پاملرنه کوي چې په کوم ټکي کې توجه جلبوي او اغېزمنتیا ایجادوي او یا په کوم ټکي کې په سمه بڼه د کارونې وړ ګرځي. ځکه ادبي متون د تدریس، زده کړې او یا د خلکو د ثقافت لپاره نه ایجادېږي، بلکې یوازې د احساساتو د پارونې او تحریک لپاره بیانېږي. له همدې امله ده چې د ادبي متونو توجه تر ټولو وړاندې د الفاظو او عبارتونو د وړاندې کولو پر څرنګوالي تمرکز کوي. الفاظ او عبارتونه دي چې معنا ته د متونو په داخل کې لوری ورکوي، خو په هغو متونو کې

چې جذابيت او ښکلار يې په دې چاره کې نغښتې وي، معناوې او مفاهيم متن ته په لوري ورکولو کې هېڅ رول نه لري.

دا و د ادبي متونو واقعيت. خو د ادبي متونو د درک لپاره، د ارايه شوي انځور په باب د مخکنيو معلوماتو شتون لازمي دی چې هغو احساساتو ته چې د ادبي متونو له مطالعې ايجادېږي، ارتباط ورکړل شي، چې د متن معنا او انځور يې درک شي. يعنې دا چې د ادبي متونو درک او پوهاوی پر لوستونکي او اورېدونکي دا لازمي کوي چې د الفاظو، عبارتونو، او ارايه شويو انځورونو په باب مخکني معلومات ولري. په مخکنيو معلوماتو سربېره د دا ډول متونو او وسايلو او اسلوبونو د ربط د بهير په اړه هم پوهه ولري. دا چاره له تمرين پرته ممکنه نه ده. په بله وينا، انسان بايد ګڼ انځورونه د دوی په منځ کې پر توپير په ښه توګه درک کړي وي او تر دې کچې يې ادبي متون مطالعه کړي وي چې د متن خوند، امتياز توپير او ټوليزتوب درک کړی شي. نو که چا مخکې هېڅ ادبي متن نه وي مطالعه کړی او د هغه په اړه هېڅ پوهه ونه لري، د متن انځور، معنا او مفهوم به ښه درک نشي کړی. که څه هم چې د متن تر اغېزې لاندې راشي او اهميت يې هم وپېژني. ځکه دی د ادبي متونو په اړه د معلوماتو او د هغو د ګڼو ډولونو د مطالعې د نشتوالي له امله د ادبي متونو د جوړښت، انځورونو او الفاظو نه خوند نشي اخيستی او يا له هغو نه څه نشي درک کولی. دا چاره يوازې يوازې د ګڼو ادبي متونو د مطالعې او ډول ډول انځورونو په وسيله د تر لاسه کولو وړ ده. که انسان يو ځل وتوانېږي چې د دا ډول متونو د تمرين او زياتې مطالعې په پايله کې د الفاظو او انځورونو له جوړښت څخه خوند واخلي؛ نو په ده کې د ادبي متونو د درک ظرفيت ايجادېږي او دا چاره د دې لامل کېږي چې معنا يې هم درک کړي. د بېلګې په توګه د يو شاعر وينا د کتنې وړ ده چې وايي:

دوه صفتونه چې زه يې د يوه ځوان وړ نه بولم

په بډايۍ کې تکبر او فقر کې سپکاوی

که غني شوې، متکبر کېږه مه

او که فقير شوې، غمجن کېږه مه

بله بېلګه، یوه شاعر ویلي:

هغه (ښځه) چې تا غواړي خو ته ترې بېزار یې

هغه ستا د مینې او ته د هغې د مینې په توګه پیدا شوی یې

څه چې هغه یې له تا غواړي او څه چې ته یې له هغې غواړې، یو شان دي

پوره مینه یو بل ته په بشپړو احساساتو وښیئ

پورتني دواړه شعرونه بیا هم له لاندې شعر سره توپیر لري:

که مېلمه په شدت او ځواک مېلمه پالنه وکړي

وینې به د مرګ تر وخته په تورو توېږي شي

اسونه به د فرصت او استراحت وخت پیدا نه کړي تر هغه وخته چې بېرته د دښمنانو

له زیاتو غنیمتونو سره راوګرځي

پورتنی شعر بیا هم له لاندیني شعر سره توپیر لري:

که غوسه او ځوربدنه منځته راشي

ګواکي د لمر پرده لرې شوه یا وینه توېږي شوه

ګواکي چې د قوم مشر مو له لاسه ورکړی وي

چې صلاه او سلام یې پر منبر ویل

توپیر د هغوی په معناوو کې نه دی، بلکې توپیر په انځور کې دی چې هر یو د هغه د ارایې هڅه کوي. خو ټول متون د خپل اورېدونکي او لوستونکي احساسات راپاروي. که څه هم هغه احساسات چې دوه لومړي متنونه یې راپاروي له دو دویمو متنونو سره په بشپړه توګه توپیر لري. بله بېلګه، د هغه لیکوال کلام دی چې ویلي یې دي:«اې زما مولا او سیده! زما مینه، زما دوستي، زما تړاو او زما شته د هغه دي. هغه چا چې د روښانوونکي امید او د الله تعالی په وسیله د ستونزو د چټکې حل لارې په توګه ثرګند شوی. که د خپل ملاتړ جامه زما څخه لرې کړې او که خپل ساتونکي لاسونه زما څخه ونیسې؛ په دې صورت کې به تا ته زما هیلې (حتی) ړانده هم ووینې او تا ته

به زما ستاينې کانه هم واوري او تا ته زما تړاو به غير ژوندي ژوي احساس کړي. نو په دې حال کې به اصلاً د تعجب ځای نه وي چې اوبه څوک له منځه يوسي، چې د تندې د رفع کولو لپاره څښل کېږي. يا درمل څوک ووژني چې د درملنې لپاره يې کاروي او تدابير او احتياط له هغه لوري چې ډاډه دی، تر بريد لاندې ونيول شي. د مقلد مړينه به د خپلې غوښتنې پر اساس وي او تخريب او ويجاړتيا د حريصانو او ګېډه پالونکو له هڅو څخه مخکې راشي.»

بل ليکوال ويلي دي: «کتاب د علومو يو بحر دی او د جذابيت يوه کڅوړه چې له خوند او جديت څخه ډکه ده. که مينه ورسره ولرې، تر باقل به کمزوری وې او که دې هيله وکړه، تر سبحان بن واعل به ډېر شاهد وې او که د پاملرنه ورته وکړه، عنوانونه به يې تا خندا ته اړ کړي او ګټو ته به يې حيران شې.»

ياد متن له دې متن سره توپير لري: «علم او پوهه هېڅکله په هېڅ مساله کې نهايي خبرې ته نه رسېږي. ځکه حقيقتونه يې تل موقتي او بشپړ دي او د دوی ارزښت تر هغه وخته تضمين دی چې مطالعې او څېړنې د هغوی دريځ او مقام ته بدلون ورکړي.»

ياد متن بيا هم له دې متن سره توپير لري: «متفاوت افکار او ګڼ نظرونه او قضيې د هر هغه څه په اړه چې مخکې موجود وو ، ډول ډول دي او څېړونکی هغه داسې مطالعه کوي چې له مخکنيو مسايلو او له مخکنيو نظرياتو سره تړاو ونه لري. نو دی هر ډول ارتباط او د دوی د پيوستون دليل مطالعه کوي.»

د پورتنيو متونو توپير هېڅکله د دوی په معنی او مفهوم کې نه دی، بلکې اصلي يې توپير د انځور او مقصود مطلب د ارايې په طريقه کې نغښتی. څرنګه چې د ليکونکي لومړی متن د مهربانۍ او ښو لپاره دی، حال دا چې بل متن کتاب تشريح کوي. د دوو نورو متونو ليکونکي په ترتيب پوهه او افکار انځوروي. په دې ترتيب هر يوه هر مفهوم چې غوښتل يې تشريح يې کړي، خپله يې په يوه ځانګړې او په وګړی پورې منحصره طريقه او انځور ارايه کړ.

په هر حال، دوی ټولو معناوې او مفهوم معيار ونه نيو، بلکې عبارات او الفاظ يې معيار کړل. معناوو او مفهوم د انځور د ارايې د وسيلې په توګه ځای ونيو. که انسان

وغواړي چې په ادبي متونو که نظم وي که نثر، وپوهېږي، لازمه ده چې په لومړي قدم کې په متن کې د الفاظو او عباراتو درک ته پاملرنه وکړي. ځکه د الفاظو او معناوو درک ته پاملرنه او هڅه خپله د معناوو پوهه په څنگ کې لري. نو د الفاظو او عباراتو په باب د مخکنيو معلوماتو شتون لازمي دی نه د معناوو او مفاهيمو په اړه. د الفاظو او عبارتونو په اړه دا مخکني معلومات د الفاظو او عباراتو سره له بشپړې اشنايي څخه تر لاسه کېږي او دا اشنايي ممکنه نه ده، مگر چې انسان د ادبي متونو له مطالعې ځانگړی خوند تر لاسه نه کړي او له شک پرته چې د متونو د مطالعې خوند يوازې د ادبي متونو د پراخې مطالعې په وسيله تر لاسه کېدای شي. په همدې دليل ده چې د دابي متونو درک لوړې زده کړې او يا ځانگړې زده کړه نه غواړي او نه هم د معناوو او مفاهيمو په اړه د مخکني معلوماتو شتون غواړي. يوازې هغه څه چې د ادبي متونو د درک په بهير کې مرسته کوي، د الفاظو او عبارتونو په اړه د مخکنيو معلوماتو ايجاد دی او بس. دا چاره په خپل وار د ادبي متونو د مطالعې د زياتوالي له لارې لاسته راځي او پياوړې کېږي چې په پايله کې په انسان کې د دې ډول متونو د مطالعې په اړه د ځانگړي ميل او تشويق د ايجاد لامل کېږي. نو څرگندېږي چې د ادبي متونو درک او په هغه پوهېدنه، د ژبنيو قواعدو او گرامر، مورفولوژي، استعارې، کنايې او تشبيه په اړه ځانگړې پوهه نه غواړي، بلکې د الفاظو او عبارتونو په اړه هماغه د مخکنيو معلوماتو شتون لازم دی او د يادولو وړ ده، حتمي نه ده چې انسان په ژوره توگه په الفاظو او عبارتونو کې ډوب شي، ځکه د گڼو او زياتو ادبي متونو مطالعه د ځانگړي خوند د ايجاد لامل کېږي نه په عباراتو او الفاظو کې ډوبېدل.

دا ده د ادبي متونو د درک او پوهېدنې طريقه چې د يادو متونو د مطالعې په اړه د خوند او لذت شتون لازمي کوي او دا خوند يوازې د ادبي متونو د ډېرې مطالعې له لارې تر لاسه کېږي. ځکه د ادبي متونو د درک لپاره له الفاظو او عباراتو سره اشنايي نه پرېښودنکې ده او له دې پرته به ادبي متون د درک او پوهاوي وړ نه وي. يعنې د ادبي متن له ماهيت سره سم د پوهې او خبرتيا شتون اړين دی. که څه هم ممکنه ده، يو وگړی ادعا وکړي چې د ادبي متونو موخه په هغو کې د شته الفاظو او عبارتونو په اړه له

مخکنیو معلوماتو پرته درک کولی شي. خو دا وګړی باید وپوهېږي چې دی یوازې په دې پوهېږي چې ادبي متن څه وایي، خو هېڅکله یې متن نه دی درک کړی او نه هغه پېژني. ځکه که د ادبي متونو مطالعه هېڅ ډول خوند، ټکان، هیجان، خوښي، اغېزه او انګېزه ونه لري، د ادبي متونو درک به ناشونی وي. او دا چاره د دې ډول متونو په مطالعه کې د ځانګړي خوند له ایجاد پرته ممکنه نه ده. ځانګړی خوند هم د مخکنیو معلوماتو په توګه د ادبي متونو د درک لپاره لازم دی.

## عقلي تفکیر

فکري متون د عقلي طریقې پر اساس د درک وړ دي او په دې ډول متونو کې لومړی معنا او بیا الفاظو او عبارتونو ته پاملرنه کېږي. فکري متون په واقعیت کې د انسان له عقل او دماغ سره د خبرو اترو ژبه ده او له احساساتو او عواطفو سره تړاو نه لري. فکري متون افکار او په ځانګړې توګه حقایق څرګندوي چې د انسان دماغ ته معلومات ولېږدول شي او د ده دماغ په خوځښت راشي. الفاظ او عبارتونه په فکري متونوو کې یوازې د افکارو د کره تشریح، د پېچلو فکري غوټو د پرانیستو او مناسب موقعیت لپاره کارول کېږي. په دې معنا چې په فکري متونو کې الفاظ او عبارتونه د متن د لوستونکي او اورېدونکي د احساساتو د راپارولو پرته کارول کېږي، چې معلومات انسان ته انتقال کړي او په ګڼو موضوعاتو کې د ده د عمق لامل شي. نو د ادبي متونو د درک څرنګوالی له فکري متونو سره ډېر زیات توپیر لري. ځکه ادبي متون د معلوماتو او حقایقو په پوله کې نه پاتې کېږي او هڅه کوي چې د عقل پر ځای احساسات موخه ونیسي او معلومات د الفاظو او عبارتونو په اډانه کې داسې ځای کړي چې د انسان د هیجان او احساساتي کېدو لامل شي. دلیل یې هم دا دی چې په ادبي متونو کې هغه الفاظ او عبارتونه کارول کېږي چې د اغېزمنتیا، خوند، خوښۍ، غوسې او غم د ایجاد لامل شي. یعنې د انسان د احساساتي کېدو په وسیله معلومات لېږدوي. حال دا چې فکري متون د انسان عقل ته پاملرنه کوي او د انسان دماغ ته یوازې د حقایقو او معلوماتو په مستقیم لېږد تکیه کوي. له دې توپیر پرته چې د احساساتو د پارېدو لامل کېږي که نه؟ د فکري متونو د تمرکز ټکی د معلوماتو او افکارو تشریح او توضیح ده، نه ښکلا

او د خلکو احساساتي کول. معلومات، افکار او حقایق څنګه چې دي، هغسې يې خلکو ته وړاندې کوي، برابره ده چې دا متن د خلکو د خوښۍ، غم، ویاړ او یا هم د سپکاوي لامل کېږي که نه. ځکه چې فکري متون له اره د افکارو ښې ارایې، وضاحت او روښنانتیا ته پام کوي او د هغه د ښکلي څرګندولو لپاره هېڅ هڅه نه کوي. نو په بشپړ ډول ښکاره ده چې د فکري او ادبي متونو د درک کیفیت یو له بل سره توپیر لري.
د فکري متونو د درک لپاره یو اساسي توک او بنسټ چې حیاتي اهمیت لري، مخکني معلومات دي. ځکه د مخکنیو معلوماتو له شتون پرته د دې متونو د مطالبو درک ناشونی دی. فکري متون یو ټاکلی واقعیت شرحه کوي. که څوک دا ډول متون مطالعه کوي، ونه پوهېږي او مخکې معلومات ونه لري چې متن څه ډول واقعیت تشریح کوي؛ د فکري متونو د درک وړتیا به ونه لري. له بل لوري د فکري متونو د ښه پوهاوي او درک لپاره یوازې مخکني معلومات بسیا نه دي، بلکې لازمه ده چې له لوستونکي سره د افکارو یو بشپړ انځور او سم مفهوم موجود وي. ځکه په حقیقت کې په فکري متونو کې داسې افکار تشریح کېږي چې یوازې افکار نه دي او پر واقعیت په بشپړه توګه تطبیقېږي. په دې معنا چې د فکري متونو محتوی داسې افکار دي چې واقعیت لري او انسان د عمل په ډګر کې ګټه ترې پورته کوي. که چېرې دا افکار یوازې افکار وي، پرته له دې چې یو ټاکلی واقعیت تشریح کړي او یا د واقعي او د پلي کېدو وړ مفهوم ونه لري؛ په دې صورت کې دا یوازې معلومات دي او که افکار په دې بڼه تشریح شي، انسان ته د عمل په ډګر هېڅ ګټه نه رسوي. دې ډول معلوماتو ته یوازې مخکني معلومات ویل کېږي، داسې معلومات چې انسان ته دفکري متونو په مطالعه کې هېڅ ګټه نشي رسولی. نو د فکري متونو په درک کې پر مخکنیو معلوماتو سربېره د افکارو د واقعي او عیني مفهوم او د مخکنیو معلوماتو موجودیت، یو اساسي شرط ګڼل کېږي. د بېلګې په توګه، تصور وکړئ، یو وګړی یو فکري کتاب مطالعه کوي؛ برابره ده چې د دې کتاب محتوی افکار وي، یو ځانګړی مضمون او یا هم یوه قضیه وي. د کتاب متن په عربي ژبه یعنې په عربي الفاظو او عبارتونو لیکل شوی وي او هغه وګړی چې مطالعه کوي یې د عربي د درک وړتیا هم لري. یاد وګړی یوازې له خپل

ژبني مهارت نه په ګټه اخیستنې د عربي الفاظو او عبارتونو په ژباړه پوهېدلی شي، خو په هغو افکارو چې یاد الفاظ او عبارتونه یې د تشریح په موخه اوډل شوي دي، نشي پوهېدلی. ځکه د یادو افکارو د درک لپاره د مخکنیو معلوماتو او د مخکنیو معلوماتو او افکارو واقعي او عیني مفهوم شتون مهم دی. له دې پرته د هغه وګړي درک یو ژبنی درک دی نه فکري. دا درک ممکن دی چې د متن له فکر او فکري محور سره په مخالفت او ټکر کې راشي. په هره بڼه چې وي د وګړي درک د افکارو د واقعي او عیني موجودیت د نشتون تر مهاله، یوازې یو لغوي درک دی او بس.

د بېلګې په توګه، کله چې لاندې فکري متن ولوستل شي: «یو پوه سیاسي کس (سیاستوال) مکلف دی چې د ټولو هغو لیدلورو، مفاهیمو او موقفونو پر وړاندې مبارزه وکړي چې د ده د لیدلورو او موقفونو ضد دي. دا سیاستوال په ورته مهال کې مکلف دی چې د خپلو لیدلورو او مفاهیمو د پلي کولو لپاره هم مبارزه وکړي.» په بشپړه توګه څرګندېږي چې دا متن یو فکري متن دی (چې له اصلي عربي ژباړل شوی)، په دې صورت کې هغه څوک چې دا لولي، که یوازې په عربي پوهېږي، په جملو او عبارتونو یې پوهېږي، خو نشي کولی چې یوازې د عربي په وسیله له خپل ځان سره د یاد فکر واقعي او عیني مفهوم ایجاد کړي. نو د متن د محوري مفکورې د درک لپاره لازمه ده چې لوستونکی د هغه عملي، واقعي او د پلي کېدو وړ مفهوم د یوه ځانګړي عقیدوي لیدلوري پر اساس چې متن له هغه څخه غږېږي، وپوهېږي.

د پورته متن د درک لپاره د لیدلوري د ډول پوهاوی او هغه څیز چې هغه ته اشاره کوي، په واقعي او عیني بڼه لازم دی. همدارنګه د مخالفو لیدلورو پر وړاندې د مبارزې د واقعیت پوهاوی او د انسان د لیدلورو د ډول د تطبیق واقعیت هم مهم دی. په بله وینا، انسان هغه مخکني معلومات چې د سیاسي پوهې، سیاسي وینټیا، سیاسي مبارزې، سیاسي لیدلورو د طرز او مفاهیمو په اړه لري؛ لازمه ده چې داسې موجود وي چې واقعیت یې د درک وړ وي او عیني او واقعي مفهوم یې متصور شي. که داسې نشي، مخکني معلومات یوازې د معلوماتو په توګه پاتې کېږي او انسان ته د واقعیت هیڅ انځور نه جوړوي. په ورته وخت کې که د دلالتونو او غوښتنو واقعیت چې د دلیدلوري

طرز يې غواړي، درک نشي، بيا هم د ياد متن واقعيت نه درک کېږي او د انسان عملي ژوند ته هېڅ گټه نه رسوي، که حفظ هم شي. د فکري متونو واقعيت د يوې ودانۍ د واقعيت په څېر دی. لکه څنگه چې په ودانۍ کې د بشپړ انځور په پام کې نيولو پرته له دېوال څخه يوه خښته نشو لرې کولی، همداسې په فکري متونو کې هم توري يا کلمې له يوه ځايه بل ځای ته نشو لېږدولی. لازمه ده چې فکري متن څنگه چې دی هماغسې واخيستل شي. ځکه فکري متون مشخص واقعيت تشريح کوي چې مشخص انځور او ليدلوری لري. که د دې انځور په واقعيت او ليدلوري کې څه شي ته بدلون ورکړل شي، که ټوليز وي که نسبي؛ واقعي مفهوم يې هم په هماغه کچه او اندازه بدلون کوي. نو پر دې اساس د فکري متونو پوهاوی لازموي چې انسان الفاظ او عبارتونه داسې درک کړي چې عيني واقعيت او د افکارو د ليدلوري طرز هم درک شي.
خو په ورته وخت کې ممکنه ده چې فکري متون د ادبي متونو په اډانه کې هم بيان شي. يعنې احتمال لري چې فکري متن داسې ليکل شوی وي چې د افکارو په درک او په هغو کې د نغښتو حقايقو سربېره، احساسات هم تر اغېزه لاندې راولي. په دې صورت کې ياد متن بيا هم يو فکري متن دی، که څه هم چې پر احساساتو زياته اغېزه کوي. ځکه د فکري متونو لپاره اساسي شرط افکارو او حقايقو ته رسېدنه ده نه په احساساتو اغېزه او نفوذ. يعنې تر هغه چې فکري متون خپل مسير د حقايقو او افکارو پر لور له لاسه ور نه کړي، هېڅکله له فکري توب څخه نه بهر کېږي. که څه هم چې داسې ليکل شوي وي چې د انسان د هيجان لامل شي. د فکري متونو يوه ځانگړنه دا ده چې د درک وړ دي، حتی که د هغه د احساساتو اغېزه هم په پام کې ونه نيول شي. په دې معنا چې د فکري متونو احساساتي اغېزه د هغه په درک هېڅ اغېزه نه لري. يوازې هغه څه چې د فکري متونو د درک لپاره مهم دي، د مخکنيو معلوماتو او د سم جامع انځور موجوديت دی چې عيني او د دپلي کېدو وړ واقعيت ولري.
سمه ده چې فکري متون د ټولو وگړو لپاره د درک وړ دي او ټول وگړي فکري متون درک کولی شي؛ خو د خلکو دا درک په افکارو کې د ژوروالي په پام کې نيولو سره توپير لري. په دې معنی چې وگړي د فکري متونو په پوهاوي کې په يوه او مساوي کچه

کې نه دي او هر يو له افکارو څخه د تصور او جامعيت پر اساس، متفاوت درک لري. يعنې سمه ده چې ټول خلک له خپل استعداد او وړتيا سره سم فکري متون درک کوي، خو ټول خلک هېڅکله په فکري متونو فکر نشي کولی او نور افکار نشي توليدولی. د وګړو دا مختلف استعدا او وړتيا د دوی د مخکنيو معلوماتو په اندازه پورې تړاو لري. ځکه د فکري متونو د درک ځواک د مخکنيو معلوماتو په ځواک پورې اړه لري. په دې معنی چې که د افکارو عيني او تطبيقي واقعيت مفهوم او معنی واضحه وي، خلک فکري متون درک کولی شي. نو دا چې ټول خلک د خپل استعداد او مخکنيو معلوماتو سره سم فکري متون درک کولی شي؛ په دې معنی نه دی چې ټول خلک ټول هغه څه چې فکري متونو بيان کړي دي، درک کوي. په ځانګړې توګه هغه وګړي چې د يادو افکارو په باب مخکني معلومات نه لري، هېڅکله د فکري متونو د درک وړتيا نه لري. ممکنه ده چې داسې ادعا وشي: که چېرې يو وګړی د افکارو په هکله مخکني معلومات – د هغه د کچې او ډول په پام کې نيولو پرته- ولري او دا مخکني معلومات د متن د واقعيت له احساس سره يو ځای شي، نو په طبيعي بڼه او د تفکير د عقلي بهير پر اساس، دا وګړی فکري متون درک کولی شي. د ادعا ځواب دا دی چې که څه هم د فکري متونو د واقعيت د شرحې لپاره مخکني معلومات مهم دي، خو بايد په پام کې ونيول شي چې موجود مخکني معلومات هغه مهال د فکري متونو واقعيت واضح کوي چې چې له متن سره په يوه کچه کې وي او که مخکني معلومات له متن سره په يوه کچه نه وي، متن د درک وړ نه دی. د بېلګې په توګه، که چېرې مخکني معلومات ژبني معلومات وي، يوازې د موضوع د ژبني وضاحت لپاره بسنه کوي، خو د افکارو د وضاحت لپاره بسيا نه دي. همدا راز که د حکومتوالۍ په باب مخکني معلومات دا وي چې هغه له ځواک او قوت څخه عبارت ده، انسان په دې ترتيب حتی ممکنه ده چې د فکري متن له سم درک څخه منحرف شي. همدارنګه که د ټولنې په باب مخکني معلومات دا وي چې هغه يوازې له وګړو او د دوی ترمنځ له اړيکو څخه عبارت ده؛ انسان په دې ترتيب نشي کولی چې د هغې د بدلون او يا ساتنې اقدام وکړي. ځکه چې د ټولنې په اړه مخکني معلومات د ټولنې له واقعيت سره په يوه کچه نه دي. نو پر دې

اساس د فکري متونو د درک لپاره ډېره مهم او اړين دي چې مخکني معلومات د متن له افکارو سره متوازن او په يوه کچه وي نه خالص او د متن له کچې او يا له افکارو ټيټ معلومات.
له بل لوري ممکنه ده چې پوښتنه په دې ترتيب مطرح شي چې که د فکري متن د درک لپاره مخکني معلومات په يوه کچه او يوه لور کېدل لازم وي، نو هغه مسايل لکه د فکر د واقعيت درک او د هغه د انځور درک څنګه کېږي؟ پورتنۍ پوښتنې ته ځواب دا دی چې د فکري متونو د درک موخه يوازې د خوند تر لاسه کول او د خوښۍ د احساس ايجاد نه دی؛ بلکې د فکري متونو د درک موخه د هغه اخذ يعنې د هغه پر اساس عمل دی. له دې پرته فکري متون هېڅ ارزښت نه لري او له انسان سره د ژوند په چارو کې مرسته نشي کولی. فکري متون د دې لپاره چې افکار يې چاپېر کړي، نه مطالعه کېږي، بلکې د دې لپاره مطالعه کېږي چې ياد افکار داسې يوه اډانه جوړه کړي چې پر اساس يې عمل وشي. نو د فکري متونو د درک لپاره په مخکنيو معلوماتو سربېره درې نور توکي فوق العاده حياتي او مهم اهميت لري: لومړی، مخکني معلومات بايد له افکارو سره په يوه کچه کې وي. دويم، د افکارو واقعيت بايد داسې درک شي چې له نورو واقعيتونو سره د توپير او تشخيص وړ وي. درېيم، د افکارو واقعيت بايد داسې د تصور وړ وي چې له يادو افکارو څخه يو واضح انځور جوړ شي. د پورتنيو درې ګونو توکو د نشتون په صورت کې د فکري متونو پوهاوی او درک ناشونی دی او انسان له دې متونو څخه ګټه نشي پورته کولی. ځکه د فکري متونو پوهاوی يوازې پوهاوی نه دی، بلکې د هغه څه پر اساس عمل دی چې درک شوي دي. په دې برخه کې غوره بېلګه اسلامي افکار او مفاهيم -که دعقيدې په اړوند بحثونه وي که د نظام په هکله- دي. کله چې اسلام په تدريجي بڼه او د عربو لپاره د پېښو د غوښتنو پر اساس نازل شو او په همدې موخه هغوی هر نص زده کړ او د عمل لپاره يې واخيست. دليل يې په عربي پوهېدنه نه وه، که څه هم د عربي ژبې پوهاوي له هغوی سره مرسته وکړه؛ خو هغه څه چې له دوی سره يې د اسلام په پوهاوي کې مرسته وکړه، د واقعيت پوهاوی او له هغو افکارو څخه د انځور ايجاد و چې د مشخصو پېښو پر اساس د دوی د ليدلورو

پر وړاندې نازلېده. له همدې امله عربان د اسلام تر اغېزه لاندې راغلل او د ژوند په اړه يې ليدلوري بدل شو. د ځينو چارو ارزښت کم او ځينو نورو زيات شو.
د ژوند اساسي بيخ بنسټ له مخکنيو بيخ بنسټونو سره په بشپړه توګه توپير لري. خو همدې عربو کله چې د اسلام عملي پوهاوی او د اسلام له افکارو څخه يې د واضح انځور ايجاد له لاسه ورکړ، د هغه د پلي کېدو وړتيا يې هم له لاسه ورکړه. په دې ترتيب د اسلام افکار او مفاهېمو پر دوی څه اغېزه نه درلوده. که څه هم چې د حديث علما منځته راغلل چې له امام مالک نه پوه وو، که څه هم داسې فقها رامنځته شول چې له امام ابو حنيفه څخه يې زيات معلومات لرل، که څه هم داسې مفسرين راغلل چې له ابن عباس څخه يې د درک قوه زياته وه. خو له دوی څخه يو هم ونه توانېد چې د مالک د وخت له معيارونو سره په مدينه کې ژوند وکړي او يا د ابن عباس او ابو حنيفه د وخت په معيارونو ژوند وکړي. د دوی د پرتلې د نشتون دليل د معلوماتو کچه او پوهه نه ده، بلکې د اسلامي افکارو او مفاهېمو عملي پوهاوی دی چې د دوی په زمانو کې افکار او مفاهېم په عملي بڼه درک کېدل او يو تولېز انځور ورڅخه جوړېده. نو فکري متون په هم کچه کېدو سربېره له افکارو سره مخکني معلومات لازموي چې د افکارو واقعيت درک شي او واضح انځور ترې جوړ شي.
د فکري متونو پوهاوی يوازې د اخذ، اقتباس او تطبيق لپاره نه کېږي، بلکې ممکنه ده چې د هغه د برعکس هدف يعنې رد او حمله هم درک شي. په دې معنی چې پر انسان لازمه ده چې په لومړي پړاو کې فکري متون په کره توګه درک کړي او په واقعيت يې وپوهېږي چې له نورو فکري واقعيتونو سره يې توپير وکړي او انځور يې داسې درک کړي چې په بشپړه توګه واضح وي او هېڅ ګونګتوب پکې پاتې نشي. په دويم پړاو کې انسان بايد خپل دريځ د دې درک شويو او فهم شويو افکارو په اړه په ډاګه کړي. په دې دريځ کې دوه اړخونه شاملېدی شي. لومړی اخذ، تطبيق او عمل د درک شويو افکارو پر اساس. دويم حمله او رد پر درک شويو افکارو. نو د هر فکري متن له پوهاوي وروسته باخبره انسان بايد د هغه په اړه خپل دريځ په ډاګه کړي. که فکري متن په سمه او سالمه توګه درک شو، څه پټ نه ترې پاتې کېږي او يوازې دريځ بايد

واضح شي. که انسان خپل دریځ ونه ښيي او ونه پوهېږي چې کوم افکار باید د عمل کولو لپاره ونیول شي او کوم افکار رد او پر هغه برید وشي؛ په دې صورت کې ممکنه چې د افکارو پوهاوی په لیدلورو کې د انحراف، په افکارو کې د تېروتنې او د ژوند په اړه لیدلورو کې د لار ورکۍ لامل شي. په دې برخه کې غوره بېلګه هغه ضربې دي چې په اسلامي امت د یونان فلسفې، د کپیټلېزم او کمونېزم افکارو فهم واردې کړې. ځکه مسلمانانو د پورتنیو افکارو په مطالعه کې د هغوی واقعیت درک نه کړ او له هغه څخه یې ناسم انځور ایجاد کړ.

لومړی د یونان فلسفه مطالعه کوو. دا فلسفه په عراق او شام کې تر اسلامي دعوت وړاندې موجوده وه. وروسته له دې چې مسلمانانو خپل دعوت هغه عیسویانو ته چې د اسلامي دولت تر قلمرو لاندې یې ژوند کاوه، یووړ؛ له فلسفي استدلال سره اشنا شول. ځکه عیسویانو په خپل استدلال کې د یونان له فلسفې او منطق څخه ګټه اخیسته. مسلمانانو د دوی په عکس العمل کې هڅه وکړه چې د یونان له منطق او فلسفې څخه په ګټه اخیستنې د دې افکارو د واقعیت له درک پرته او د تفکیر په غلطه منطقي طریقه ځواب ورکړي. دا هڅه چې د اسلامي دعوت د خپرېدو په موخه وشوه، تر دې ځایه ورسېده چې په پای کې د ځینو اسلامي پوهانو خپله اصلي موخه د منطق او فلسفې مطالعه وه، ځکه د هغوی په مطالعه کې یې ځانګړی خوند تر لاسه کړ. ځینو نورو اسلامي پوهانو خپله اصلي موخه عیسویانو ته ځواب و او د اسلامي افکارو د حقانیت د اثبات لپاره یې له مختلفو فلسفي او منطقي لارو څخه ګټه واخیسته. د مسلمانانو لومړۍ ډلې په هماغه د یونان د فلاسفه وو په مسیر حرکت وکړ او فلسفه یې د خپلو افکارو د سرچینې په توګه ومنله. په دې بڼه دوی فلسفي نظریې معیار ونیولې او هڅه یې وکړه چې اسلام د فلسفې له لیدلوري تعبیر او تفسیر کړي. په دې وخت کې مسلمان فیلسوفان پیدا شول. ځینې فیلسوفان دومره منحرف شول چې په پای کې د حق له مسیره لرې ولاړل. په دې ترتیب ټول په نامه مسلمان فیلسوفان په تدریج د اسلام له دایرې بهر شول او د خپل دین اساس یې پرېښود. په دې برخه کې د ابن سینا، فارابي، ابن رشد او الکُندي ترمنځ هېڅ توپیر نشته.

خو دویمه ډله مسلمان پوهان چې د یونان فلسفه او منطق یې د ځواب لپاره زده کړي وو، په دوو ډلو وویشل شول. لومړۍ داسې ډله وه چې فلسفه یې د اساس په توګه ومنله او هڅه یې وکړه چې اسلامي افکار د فلسفي افکارو پر اساس تفسیر کړي او یا فلسفي افکارو ته له اسلامي افکارو سره توافق ورکړي. په دې ترتیب یې اسلامي افکار د فلسفي افکارو په اساس زده کړل. دا ډله هماغه معتزله وو. دویمه ډله داسې ډله وه چې د معتزله وو په کار یې نیوکه وکړه. دې ډلې هڅه وکړه چې معتزله اصلاح کړي او ځواب ورکړي. دا ډله اهل سنت وبلل شوه. نو د دې دوو ډلو ترمنځ بحثونه او شخړې پیل شوې او دا چاره نور بشریت ته د دوی د دعوت د پاتې کېدو لامل شوه. د دوی یو اساسي فرض چې الله سبحانه وتعالی د دوی په غاړه اېښی و، د اسلامي افکارو او مفاهیمو رسونه وه نه د خلکو د عقیدو اصلاح. دوی له فلسفې څخه په ګټه اخیستنې هڅه وکړه چې د اسلامي افکارو سموالی اثبات کړي. دوی د خلکو ذهنونه د پېړیو او پر لپسې کلونو لپاره اشغال کړل. که څه هم دوی مسلمان وو او د اسلام له دایرې بهر نشول، خو په فلسفي استدلالونو کې د ډېبدو له امله نړیوالو ته د اسلام له رسولو پاتې شول.

د یونان د فلسفې زیانونه او پر مسلمانانو یې اغېزې دلته پای ته نه رسېږي، بلکې په راتلونکو وختونو کې د نورو ډلو لکه جبریه، مرجعه، قدریه او نورو د ایجاد لامل شول. لسګونه ډلې، لسګونه ډوله فکر او لسګونه ایډلوري په مسلمانانو کې دود شول او مسلمانان په ټوله کې په یوه فکري سرګدانۍ کې ډوب شول تر دې چې لسګونه فکري مکتبونه، لسګونه ډلې او لسګونه نور معیارونه هم را څرګند شول. د یادو ټولو ډلو او ایډلورو د راتګ دلیل پر اسلامي خاورو د یونان د فلسفې نفوذ و، چې مسلمانانو مطالعه او ورسوله. دوی د یونان فلسفي او منطقي افکار د هغو د واقعیت له درک او له هغه څخه د یو حقیقي انځور د ایجاد پرته نورو ته انتقال کړل. له شک پرته که اسلام خپله پیاوړی نه وای او اهل سنه والجماعه دوی په صداقت او اخلاص نه وای ګواښلي او د کفارو پر وړاندې تورې له تیکي نه وای را ایستل شوې؛ د یونان فلسفې اسلام په بشپړه توګه له منځه وړه او د تاریخ په ګور کې یې خښاوه.

خو د کپیټالیزم او کمونیزم د افکارو خطر اسلامي امت ته په بشپړه توګه ښکاره دی. د دوی په لیډلوري کې تېروتنه او غلطي حتی د وګړو له پولې تېره شوه او اسلامي ډلې او کتلې پکې شاملې شوې. د دوی په افکارو او مفاهیمو کې د غلطۍ او تېروتنې د اثبات لپاره لازمه نه ده چې دلته شواهد بیان شي. ځکه بد او دردونکی حالت چې په ځانګړې توګه له دویمې نړیوالې جګړې وروسته اسلامي امت ورسره مخ دی، غوره بېلګه ده چې د کپیټلېزم او کمونېزم د افکارو د اخذ او پلي کېدو پایله ده چې د مسلمانانو په ذهنونو کې د فساد د څرګندېدو او د اسلامي افکارو د ناسم تعبیر لامل او اسلام ته د دوی کار مانع شوه.

نو پر دې اساس د فکري متونو د درک او پوهاوي لپاره یوازې د مخکنیو معلوماتو شتون بسیا نه دی، بلکې په مخکنیو معلوماتو سربېره لازمه ده چې دا معلومات له افکارو سره هم کچه وي؛ واقعیت یې داسې درک شي چې له نورو واقعیتونو سره په بشپړه توګه توپیر ولري او مشخص وي او له مفهوم څخه یې داسې انځور جوړ شي چې د انسان په دماغ کې د افکارو حقیقي انځور ایجاد کړي.

سمه ده چې اسلام د فکري متونو مطالعه نه ده منع کړې او د فکري متونو د پوهاوي او درک اجازه یې ورکړې ده؛ خو اسلام اسلامي عقیده د معیار او اساس په توګه معرفي کړې چې د فکري متونو د مطالعې پر مهال باید په پام کې ونیول شي. په دې معنی چې اسلام هېڅکله د هغو افکارو اخذ او پوهاوي ته اجازه نه ورکوي چې له اسلامي عقیدې سره مخالفت ولري. په ورته وخت کې اسلام اجازه ورکوي چې افکار د رد یا حملې په موخه مطالعه شي، خو په یوه فکري اساس او ثبات چې هماغه اسلامي عقیده ده. خو د یو فکر مطالعه د دې لپاره چې واضح شي چې ایا له اسلامي عقیدې سره مطابق دی که نه؟ او د هغه پر وړاندې د دریځ نیول. دا چاره هغه وخت لاسته راتلی شي چې د افکارو واقعیت درک شي او د مفهوم انځور یې په مطلوبه بڼه ایجاد شي. د افکارو د واقعیت او مفهوم له درک پرته فکري متون د درک وړ نه دي او د دوی پر وړاندې د ناسم دریځ د نیولو لامل کېږي. نو پر دې اساس لازمه ده چې د فکري متونو د درک او فهم لپاره د دوی واقعیت څنګه چې دی په ځانګړې بڼه او له نورو جلا

درک شي او د هغه په اړه مخکني معلومات له افکارو سره په يوه سطحه کې وي او انځور يې هم په تولیزه، رڼه او واضح بڼه منځته راشي.

## تشريعي تفکير

د دې لپاره چې تشريعي متون په سمه او دقيقه بڼه درک شي، مخکني معلومات چندان اهميت نه لري او لازمه ده چې الفاظ، عبارتونه، او معناوې يې هم په سمه بڼه درک شي. په دې معنی چې دوې چارې په ترکيبي توگه د تشريعي متونو د پوهاوي لپاره لازمې دي: لومړی، د الفاظو او عبارتونو پوهاوی. دويم، د دوی دلالت. په بل پړاو کې له افکارو څخه د استنباط لپاره د مشخصو معلوماتو پوهاوی. له شک پرته د الفاظو، عبارتونو او د دوی د معناوو د پوهاوي لپاره فوق العاده لغوي پوهه مهمه ده، ځکه الفاظ او عبارتونه په مشخصه لغوي برخه کې او د مشخصو ويونو (کلمو) پر اساس تعبير کېږي. په دې صورت کې د افکارو او احکامو پوهاوی ميسر کېږي. دا مسير د هر ډول تشريعي متن د درک لپاره ممکن دی. خو هغه څه چې موږ دلته د تشريعي متن په توگه د هغه نوم اخلو، زموږ موخه يوازې او يوازې اسلامي تشريعي متن دی. ځکه موږ مسلمان یو او د مسلمان په توگه اجازه نه لرو چې د غير اسلامي تشريع په اړه بحث وکړو. دليل يې دا دی چې تشريع د قطعي امر په توگه د اسلامي عقيدې په وسيله محدوده شوې او هيڅ مسلمان اجازه نه لري چې په غير اسلامي تشريع بحث وکړي او حتی اجازه نه لري چې غير اسلامي تشريع مطالعه کړي. ځکه تشريعي متون د احکامو د اخذ او تطبيق (د ستونزو د حل لارې) لپاره مطالعه کېږي او هيڅکله د خوند او خوښۍ د احساس لپاره نه مطالعه کېږي. نو هغه متون چې د حل لارې پيدا کولو او احکامو لپاره مطالعه کېږي حرام دي چې غير اسلامي وي او حرام دي چې غير له شرعي حکم څخه وي. خو گران اسلام د غير تشريعي متونو د مطالعې اجازه ورکړې ده. په دې معنی چې مسلمان فکري، ادبي او سياسي متون مطالعه کولی شي. ادبي متون د خوند اخيستلو او د خوښۍ د احساس لپاره، فکري متون په دوی کې د نغښتو افکارو د درک او پوهاوي او د هغوی د اخذ او يا رد لپاره چې بايد د يوه فکري اساس او ستنې پر بنسټ مطالعه شي او سياسي متون د بهرنيو چارو د اساليبو د درک

لپاره مطالعه او بحث پرې کېږي. د پورتنیو متونو په مطالعه کې هېڅ مانع نشته؛ خو تشریعي متون له هغه ځایه چې د هغوی د مطالعې موخه د احکامو اخیستل او د ستونزو حل لارې دي، جواز نه لري چې له اسلام پرته مطالعه شي. ځکه مسلمانان په بنسټ کې اجازه نه لري چې د خپلو اعمالو د تنظیم لپاره له شرعي حکم پرته بل څه انتخاب کړي. نو هېڅکله اجازه نشته چې غیر اسلامي تشریعي متون تر مطالعې، بحث او تفکیر لاندې ونیول شي. د افکارو بنسټ د اسلامي عقیدې پر اساس اېښودل شوی او دا عقیده ده چې د افکارو د سمون او بطلان معیار ګڼل کېږي؛ خو شرعي احکام له عقیدې استنباط کېږي. نو هر هغه څه چې د شرعي حکم په توګه پېژندل شوی وي او له اسلامي عقیدې استنباط شوی وي، اخیستل کېږي او هر هغه څه چې له دې عقیدې نه وي استنباط شوی په ټولیزه توګه او له بنسټه مردود دی، برابره ده چې له اسلامي عقیدې سره موافق وي که مخالف. په دې معنی چې احکام له اسلام سره د توافق پر اساس نه اخیستل کېږي، بلکې یوازې په دې دلیل اخیستل کېږي چې هغه حکم له عقیدې مستنبط وي. ځکه احکام د افکارو په څېر نه دي چې د عقیدې پر اساس وي، بلکې احکام په مستقیمه توګه له عقیدې استنباط شوي دي. کله چې الله سبحانه وتعالی د -اقرأ یعنې ووایه- حکم صادر کړ، دا حکم بې له محدودیته و، یعنې نور متون هم مطالعه کولی شو، خو کله یې چې یوازې د اسلام د اخذ حکم د ټولو ستونزو د حل او د ژوند د نظام لپاره صادر کړ؛ هغه یې یوازې او یوازې په اسلام پورې محدود کړ او په مستقیمه توګه یې له ایمان سره تړاو ورکړ او له اسلام پرته د هر ډول حکم اخیستنه یې طاغوت وبلله. له تشریعي متونو پرته ټول متون چې اساس یې غیر اسلامي دی مطالعه کولی شو. تشریعي متون چې د بحث محور یې د ستونزو حل لاره او د ژوند نظام دی، له اسلام پرته په بل هېڅ شیز بحث نشي کولی. له همدې امله موږ دلته یوازې په اسلامي تشریعي متونو بحث کوو او نور تشریعي متون په بشپړه توګه له پامه غورځوو او یوازې د اسلامي تشریعي متونو په باب فکر کوو.

په تشریع کې تفکیر که څه هم چې په عربي ژبه او اسلامي افکارو پوهېدو ته اړتیا لري، خو تر ټولو وړاندې د واقعیت پېژندنه او په هغه پوهېدنه اړینه ده، وروسته د شرعي

حکم پېژندنه او پر واقعیت د دې حکم تطبیق. که پر واقعیت یې د تطبیق وړتیا درلوده، په دې صورت کې شرعي حکم دی؛ خو که د تطبیق وړتیا یې نه لرله شرعي حکم نه دی او باید بل حکم ولټول شي چې په یاد واقعیت د تطبیق وړ وي. نو تشریعي تفکیر چې د الفاظو، عبارتونو او د دوی د معناوو او تشریعي افکارو یعنې ځانګړې معلوماتو په اړه خاص پوهاوي ته اړتیا لري، ټولو خلکو ته اسانه نه دی. د واقعیت پېژندنه هم د تشریعي متن له اساسي توکو څخه ګڼل کېږي. له شک پرته چې د تشریعي متونو په اړه تفکیر یوازې د الفاظو او عبارتونو په اړه تفکیر نه دی، هغه څه چې په ادبي متونو کې معیار دي. همدارنګه د تشریعي متونو په اړه تفکیر یوازې د معناوو او افکارو په اړه تفکیر نه دی، هغه څه چې په فکري متونو کې معیار دي. همدارنګه د تشریعي متونو په اړه تفکیر یوازې د پېښو، حالاتو او شرایطو په اړه تفکیر نه دی، هغه څه چې په سیاسي متونو کې معیار دي. د تشریعي متونو په اړه د تفکیر پر مهال الفاظو، عبارتونو، د دوی دلالت، معنی او مفهوم، پېښو او حادثو ته چې حکم پر دوی د تطبیق لپاره استنباط کېږي، په یوه وخت کې پاملرنه وشي. په بله وینا د تشریعي متونو په اړه تفکیر، په نورو ټولو متونو کې د تفکیر شرایط غواړي. نو تشریعي تفکیر د نورو متونو په اړه له تفکیر څخه ستونزمن ښکاري. هغه تشریعي تفکیر کوي، په ورته مهال کې باید هم ژور او هم مستنیر وي. یوازې ژوروالی بسنه نه کوي، بلکې مستنیر تفکیر حتمي دی او په مستنیر تفکیر کې په طبیعي توګه ژوروالی منځته راتلی شي.

په تشریعي متونو کې تفکیر د موخې پر اساس توپیر لرلی شي. له هغه ځایه چې په تشریعي متونو کې د تفکیر موخه د شرع د حکم پېژندنه ده، نو دلته د تشریعي متونو په تفکیر کې د توپیر تعبیر د اخذ او استنباط له مخې بیانېږي. دوې یادې چارې یعنې د شرعي احکامو اخذ او استنباط د تشریعي متونو له جریان څخه متفاوت شرایط او معیارونه غواړي. داسې چې د شرعي حکم د پېژندنې او اخذ یوازې لغوي پوهه یعنې د الفاظو، اصطلاحاتو او عبارتونو پوهاوی بسنه کوي او لازمه نه ده چې انسان د احکامو د اخذ لپاره له نورو علومو لکه ګرامر، مورفولوژۍ او بلاغت سره اشنایي ولري. یعنې یوازې د عربي زده کړه او د عربي متونو د مطالعې وړتیا بسنه کوي، حتی که انسان په

عربي د ليکوالۍ وړتيا هم ونه لري. يعنې د شرعي پوهې د لاسته راوړلو او شرعي احکامو د پېژندنې لپاره د عربي متن د مطالعې او له هغه نه د برداشت وړتيا مناسبه ده. د دې په پام کې نيولو سره چې د يادو متونو د درک لپاره مخکني معلومات هم لازم دي. نو د شرعي احکامو د اخذ لپاره د فقې د اصولو پوهه، د قران کريم حفظ او حتى د حديثو په علم پوهېدنه لازمي نه دي او يوازې د لغوي پوهې درلودل بسنه کوي. حتى د شرعي احکامو د اخذ لپاره د واقعيت پېژندنه هم حتمي نه ده. همدومره پوهه چې وپوهېږي چې حکم له کوم واقعيت سره په تړاو اخذ کوي، بسنه کوي. مثلاً د کنسرو شويو غوښو لپاره د شرعي حکم اخذ مطالعه کېږي. په دې صورت کې مسلمانان يوازې د دې غوښو په مطالعه چې په حلاله بڼه نه دي ذبحه شوې، له کارونې يې ځان ساتي. يا د عطرياتو په اړه د شرعي حکم د اخذ لپاره مطالعه کېږي. په دې صورت کې مسلمان انسان يوازې د دې په مطالعه چې يو شمېر عطرونه ځيني نشه کوونکي مواد لري، د هغه له کارونې ځان ساتي. په دې ترتيب له تشريعي متونو څخه د شرعي احکامو اخذ، که څه هم مخکني معلومات غواړي، خو ځانګړې وړتياوې نه غواړي.

خو له تشريعي متونو څخه د شرعي احکامو د استنباط لپاره د احکامو له پېژندنې او اخذ نه لوړو شرايطو ته اړتيا ده. ځکه د احکامو د استنباط لپاره لاندې دريو اساسي چارو ته اړتيا ده: لومړی، د ژبنيو الفاظو، اصطلاحاتو او عبارتونو پوهاوی. دويم، شرعي مفاهيم او افکار. دريم، هغه واقعيت چې حکم د هغه لپاره استنباط کېږي. نو هغه څوک چې غواړي چې احکام استنباط کړي، لازمه ده چې ژبنۍ پوهه لکه ګرامر، صرف، نحو، بلاغت او مورفولوژي ولري. همدارنګه دی بايد له تفسير، حديث او د فقې له اصولو سره هم اشنا وي. د يادو شرايطو تر څنګ نوموړی شخص بايد هغه واقعيت چې د هغه لپاره حکم استنباطوي، په کره او سمه توګه وپېژني. خو هغه څه چې د پورتنيو علومو له څانګو سره د اشنايۍ په توګه بيان شول، يوازې اشنايي ده او بايد د يادو شرايطو په پابندۍ کې دومره افراط ونشي چې له هغه نه مجتهد جوړ شي. ځکه موخه دا نه ده چې دی په پورتنيو علومو کې يو مجتهد وي، بلکې له يادو علومو سره د ده يوازې اشنايي بسنه کوي. ځکه که چېرې د حکم د استنباط په جريان کې

د یوې کلمې د معنی په برخه کې له ستونزې سره مخ شو، فرهنګ ته مواجعه کولی شي چې کره معنی یې پیدا کړي. په همدې ترتیب که د صرف او نحوې په برخه کې له ستونزو سره مخ شو، کتابونو او یا هم یوه مجتهد ته مراجعه کولی شي. په همدې توګه که د حدیثو په برخه کې ستونزه ورته پیدا شي، کتابونو او یا هم د حدیثو عالم ته مراجعه کولی شي. په همدې ډول که د واقعیت په پېژندنه کې له ستونزې سره مخ شو، بل کس حتی غیر مسلمان او یا هم کتابونو ته مراجعه کولی شي چې د واقعیت په کره توګه وپېژني. نو له پورتنیو علومو سره اشنایي لرل د مجتهد کېدو په معنی نه ده. له پورتنیو علومو او پېژندنې سره دا اشنایي تر دې کچې لازمه ده چې دی له تشریعي متونو څخه د احکامو د استنباط جوګه کړي. په دې ترتیب واضح کېږي چې د شرعي احکامو استنباط د هغه له شناخت او اخذ څخه سخت کار دی او له اخذ نه لوړو شرایطو ته اړتیا لري. خو دا شرایط باید د اجتهاد تر پولې ونه رسول شي. که چېرې یو چا له متونو څخه د شرعي احکامو د استنباط وړتیا تر لاسه کړه، په دې ترتیب د اجتهاد په لور مسیر هم اسانه کېږي. نو د استنباط او اجتهاد دروازه د ټولو مسلمانانو پر مخ پرانیستې ده او هر څوک کولی شي چې په استنباط او اجتهاد - د هغه د شرایطو د بشپړېدا په صورت کې- لاس پورې کړي. په ځانګړې توګه په نني وخت کې چې ژبنۍ او شرعي پوهنه په حجیمو کتابونو کې را ټوله شوې او لاسرسی تر پخوا ورته اسانه دی. په دې توګه له وګړو سره د استنباط او اجتهاد په برخه کې مرسته کولی شي. نو پر دې اساس نن ورځ د شرعي احکامو اخذ او استنباط ټولو وګړو ته میسر دی او په دې برخه کې هېڅ مانع نشته. په دې توپیر چې د استنباط شرایط تر اخذ سخت دي.

زموږ پخوانیو د احکامو په پېژندنه او د اخذ په ټینګار د استنباط او اجتهاد مسیر دومره باریک او تنګ کړی چې خپل ځانونه او راتلونکي نسلونه یې مطلق مقلد کړل. دا چاره د دې لامل شوه چې هغه پېښې او بدلونونه چې په مادي ژوند کې رامنځته کېږي، له حکم پرته پاتې شي او ژوند په ډېرو ډګرونو کې د شرعي احکامو د تعطیل لامل شو او په پای کې په مادي ژوند کې د دوی د ډوبېدو لامل شوه. دا چاره پر موږ لازموي چې له هغو سرچینو نه ګټه اخیستنې چې نن زموږ په لاس کې دي، د تقلید له کچې استنباط

ته ارتقا وکړو او وتوانېږو چې د ټولنې او ژوند ټولې ستونزې یوازې او یوازې د شرعي احکامو پر اساس حل کړو. دا چاره په لومړیو کې یوازې د استنباط لپاره پوهه غواړي. که څه هم سمه ده چې د شرعي احکامو اخذ او پېژندنه یوه وګړیزه چاره او په هر مسلمان فرض عین ده؛ مګر استنباط یې فرض کفایي دی. خو له هغه ځایه چې د مادي ژوند د پېښو او حادثو څرنګوالی تل په بدلون کې وي او حرامه ده چې موږ له هغو سره له شرعي احکامو پرته تعامل وکړو. هرو مرو باید د دې امت زیات شمېر وګړي د شرعي احکامو استنباط او اجتهاد ته مخه کړي چې د مطلق تقلید فضا له منځه لاړه شي.

که څه هم چې په تشریعي متونو کې تفکیر تر ټولو سخت تفکیر ګنل کېږي، خو په ورته وخت کې امت باید هرو مرو دا ډول تفکیر وکړي؛ برابره ده چې د شرعي احکامو د اخذ او پېژندنې لپاره وي که د استنباط لپاره. خو د شرعي احکامو استنباط باید دومره سخت ونه نیول شي چې د اجتهاد کچې ته ورسېږي او دومره هم باید له یاده ونه ایستل شي چې هېڅ پاملرنه ورته ونشي. بلکې لازمه ده چې د شرعي احکامو استنباط په پوره پاملرنه او دقت وشي او تل باید په پام کې ولرو چې د شرعي احکامو استنباط لازموي چې په درېیو مشخصو ډګرونو کې مخکنې معلومات موجود وي: عربي ژبه، اسلامي افکار او مفاهیم او د واقعیت کره پېژندنه. چې پر واقعیت د استنباط شوي حکم د پلي کېدو امکان میسر شي او ستونزه په عملي توګه حل شي، د دې په پام کې نیولو سره چې پر واقعیت د شرعي حکم تطبیق، داسې څه نه دي چې هرو مرو باید د مخکنیو معلوماتو په توګه موجود وي، بلکې داسې څیز دی چې په پورتنیو درېیو ډګرونو کې د مخکنیو معلوماتو د سمون د پایلې په توګه څرګندېږي.

دا و تشریعي تفکیر چې د مخکنیو معلوماتو او محسوس واقعیت ترمنځ د تړاو څخه عبارت دی چې د شرعي حکم پېژندنه، اخذ او استنباط تر لاسه کړو. خو زموږ دښمنانانو موږ ته داسې دوکه راکړه چې په ګبینو د مچیو د فاضله موادو ګومان وکړو او له هغه څخه لرېوالی انتخاب کړو. یعني لامل شول چې موږ له فقې، د شرعي احکامو له استنباط او اجتهاد څخه مخ واړوو او د خپلو ستونزو له حل څخه عاجز

شو. خو اوس وخت را رسېدلی دی چې د دښمن له دې دوکې پرده پورته شي او زموږ ورځنۍ ستونزې او ژوند د شرعي احکامو پر بنسټ معالجه شي. دا په داسې حال کې ده چې له اسلام پرته د هر ډول تشریع او تقنین اخذ لکه مدني قوانین او نور حرام او نامشروع ګرځول شوي دي.

پایله دا چې د تشریعي متونو د تفکیر کیفیت له نورو متونو سره په بشپړه توګه توپیر لري؛ ځکه په ادبي متونو کې تفکیر زیات په الفاظو او عبارتونو تمرکز لري، چې د ادبي متونو له مطالعې د انسان په ذهن کې ځانګړې خوند ایجاد شي. همدارنګه په فکري متونو کې تفکیر زیات په افکارو او معناوو تمرکز لري او مطلوبو افکارو سره د مخکنیو معلوماتو په یوه کچه کې کېدل حتمي کوي. همدا راز په سیاسي متونو کې تفکیر زیات په پېښو او د هغوی په چاپېریال تمرکز لري. خو په تشریعي متونو کې تفکیر په پورتنیو ټولو مواردو تمرکز لري یعنې په ژبنیو او شرعي الفاظو او اصطلاحاتو، شرعي افکارو او مفاهیمو، د واقعیت او پېښو کره پېژندنه چې په هغه مرتبې دي او شرعي حکم چې پر هغه پلی کېږي. نو پر دې اساس بې ځایه نه ده چې په تشریعي متونو کې تفکیر د اسلامي امت لپاره د خورا سخت او حتمي تفکیر په توګه ونومول شي.

## سیاسي تفکیر

په سیاسي متونو کې تفکیر که څه هم په تشریعي متونو کې د تفکیر یو ډول ګڼل کېږي، خو بیا هم په نورو متونو کې له تفکیر سره په بشپړه توګه توپیر لري. ځکه په تشریعي متونو کې تفکیر د خلکو د ستونزو په حل تمرکز لري، حال دا چې په سیاسي متونو کې تفکیر د خلکو د چارو په تنظیم تمرکز لري. په سیاسي متونو کې د تفکیر کیفیت په ادبي متونو کې د تفکیر له کیفیت سره هم په بشپړه توګه یو د بل پر وړاندې دی. ځکه ادبي متون په الفاظو او عبارتونو تمرکز لري، اساسي او لومړنۍ موخه یې د لوستونکي او اورېدونکي پارونه ده چې په راتلونکي ګام کې د ځینو معناوو او مفاهیمو په وسیله هغه هم د خوځنده لیکنو په اډانه کې یعنې جذابو الفاظو او عبارتونو ته پاملرنه کوي. خو په سیاسي متونو کې د تفکیر توپیر له فکري متونو سره تر یوه ځایه تفصیل ته اړتیا لري. که سیاسي متون داسې وي چې ګڼ سیاسي علوم او مضامین پکې شامل شي، په دې

صورت کې سياسي او عقلي تفکير دواړه يو بل ته نږدې دي او د دوی ترمنځ به توپير نه وي. خو په فکري متونو کې مخکني معلومات بايد له افکارو سره په يوه سطحه کې مطالعه شي که څه هم ياد معلومات له يو ډول فکر څخه تر مطالعه لاندې نه وي، خو لږ تر لږه تړاو بايد ولري. خو په سياسي متونو او تفکير کې مخکني معلومات بايد يو ډول فکر او يا يو ډول سياسي مضمون ولري. يعنې په سياسي تفکير کافي نه ده چې مخکني معلومات له متن سره يو ډول تړاو ولري. نو تر ډېره په سياسي او فکري متونو کې تفکير ورته او يو بل ته نږدې دی.

خو که سياسي متون؛ د خبرونو او پېښو په اړه تفکير وي او هم د پېښو ترمنځ پوهاوی مختلف وي؛ په دې صورت کې دا ډول تفکير د تفکير له نورو ډولونو سره مختلف دی. دا ډول تفکير حتی له هېڅ ځانګړي فکري قانون او اډانې پرته دوام مومي. له همدې امله دی چې سياسي تفکير، د تفکير د خورا لوړو ډولونو په توګه پېژندل کېږي. ځکه هغه په واقعيت د پېښو په اړه تفکير دی چې د تفکير نور ډولونه پکې شاملېږي. که څه هم سمه ده چې فکري اساس چې نور افکار پرې پيلېږي، ټوليزه قاعده ده چې د ستونزو حل له هغه څخه سرچينه اخلي او خورا غوره تفکير دی؛ خو بيا هم دا ډول تفکير په خپل ذات کې يو د سياسي تفکير يو ډول ګڼل کېږي. که ياده فکري قاعده سياسي نه وي، د ستونزو د حل وړتيا نه لري او له اره د قاعدې توب وړتيا له لاسه ورکوي. له همدې امله کله چې ويل کېږي چې سياسي تفکير د تفکير خورا عالي ډول دی، په دې مساله کې اساس او فکري قاعده هم شاملېږي چې په خپل نفس کې سياسي دي. خو دا چې سياسي تفکير د تفکير له خورا سختو ډولونو څخه دی، دليل يې دا دی چې مفکر په دې ډګر کې د ځانګړو قوانينو او قواعدو له موجوديت پرته تفکير کوي او پايلې لاس ته راوړي. په همدې دليل دی چې سياسي مفکر په ځانګړې توګه په لومړيو کې له اندېښنو او پريشانۍ سره مخ کېږي او د پېښو ناسم تحليل کوي. يا هم ځينې په خپلو تصوراتو او منطق تکيه کوي. دا مسير تر هغه وخته ادامه کوي چې مفکر پوره سياسي تجربه تر لاسه کړي او ټولې چارې او پېښې په ورځنۍ توګه وڅاري. نو پر دې اساس سياسي تفکير په ځانګړې توګه د ټولنې د روانو پېښو او

خبرونو په هکله د تفکير له ټولو ډولونو سره توپير لري او په وګړي پورې تړلی دی.
په سياسي متونو کې په تفکير کې دوې ناحيې شاملېږي: لومړی په سياسي فکري متونو يعنې په سياسي علومو او مضامينو کې تفکير. دويمه، د ټولنې په روانو پېښو او خبرونو کې تفکير. خو واقعي سياسي تفکير په خبرونو او پېښو کې دی. نو هغه څوک چې د خبرونو متن ليکي، په واقعيت کې له واقعي سياسي متن سره سروکار لري. که څوک غواړي چې سياسي تفکير وکړي، نو بايد د خبرونو او پېښو په اړه تفکير وکړي، په ځانګړې توګه له کلمو نه ګټه اخيستنه او هغه څه چې تر شا يې دي، په ښه توګه پرې وپوهېږي. ځکه چې د سياسي مضمونونو او علومو په اړه تفکير يوازې د انسان معلومات زياتوي چې ممکن په واقعي سياسي تفکير يعنې په خبرونو او پېښو کې ګټور او مرستندوی واقع شي. حتی ممکه ده چې سياسي مضامين او علوم مفکر شخص عميق او مستنير کړي، خو له دې سره سره بيا هم نوموړی د يو سياستوال په توګه نه پېژندل کېږي؛ بلکې د سياسي علومو عالم دی. سياستوال هغه څوک دی چې د ټولنې روان پېښې او خبرونه څنګه چې دي هسې درک کوي او داسې معلومات تر لاسه کوي چې د هغه پر بنسټ په مشخصو عملونو اقدام کوي. د دغه وګړي لپاره مهمه نه ده چې تر کومې کچې له سياسي علومو او مضامينو سره اشنايي لري. سياسي علوم او مضامين يوازې د معلومات د تراو پر مهال ګټور واقع کېداى شي، چې هغه هم تر ډېره د معلوماتو په ډول پورې اړه لري. نو سياسي علوم او مضامين د سياسي تفکير لپاره د يو اساسي شرط په توګه نه منل کېږي.
له بده مرغه وروسته تر دې چې غرب (اروپا او امريکا) د منځني حل او له دولته (ژونده) د دين د جدايي مفکوره منځته راوړه، د سياسي علومو او مضامينو په اړه يې کتابونه او نورې خپرونې پيل کړې او له ژوند او دولت څخه د دين د جدايي ټوليز ليدلوري د دوی په وسيله دوام وکړ. تر هغه وروسته کله چې کمونيزم په کار پيل وکړ او تزاري روسيې هغه په اوږو واخيست، هيله کېده چې دوی سياسي علوم او مضامين د مشخصو او ثابتو افکارو په توګه او له ژونده د دين د جدايي له اساس پرته اخذ کړي. خو ورو ورو ښکاره شوه چې روسيه هم په دې مسير کې له غرب سره تړلې پاتې شوه.

ځکه په سیاسي علومو او مضامینو د غرب په څېر پابنده پاتې شوه، خو یوازې په ښکاره یې په جوړښت او بڼه کې توپیرونه رامنځته کړل چې په بنسټ کې یې د غرب له مسیر سره هېڅ توپیر نه درلود. نو په ډاډ او پوره وضاحت ویلی شو چې سیاسي علوم او مضامین د دوی د ظهور له وخته تر اوسه، د فکري تعقل پر اساس منځته نه دي راغلي او د هغوی په مطالعه کې هېڅ ډاډ نشته. دا علوم د تصور، خیال او فرضیو پر بنسټ ولاړ دي او په ټوله کې یې د منځني حل او یا جوړجاړي پر اساس بنسټ اېښودل شوی. له همدې امله د سیاسي تفکير په جریان کې په هغو متونو کې چې سیاسي علوم او مضامین لري، باید په هوښیارانه توګه د هغه افکارو ته پاملرنه وشي چې له تېروتنو سره مخ نشو. ځکه زیات شمېر افکار یې له واقعیت سره جوړښت نه لري او ناسم افکار تشریح کوي. نو زموږ توصیه دا ده چې له سیاسي علومو او مضامینو سره -چې اوسمهال په نړۍ کې موجود دي- داسې تعامل وشي چې له تشریعي متونو سره کېږي. یعنې نه مطالعه شي او نه اهمیت ورکړل شي. ځکه ځینې داسې موضوعات پکې دي چې په مستقیمه توګه له تشریع او تقنین سره تړاو لري؛ مثلاً حکومتوالي. ځینې سیاسي متون شته چې له فکري متونو سره ورته او یو ډول دي او مطالعه یې زیان نه لري، خو باید مطالعه یې په پوره هوښیارۍ او پاملرنه وشي چې په لیدلوري کې د هر ډول تېروتنې او غلطۍ د څرګندېدو مخه ونیسي.

دلته بېلګې راوړو چې څرګنده شي چې غرب کوم څیزونه د سیاسي علومو او مضامینو په توګه منلي دي. په لودیځ کې مشري ډله ییزه ده او د وزیرانو د شورا په وسیله تمثیل کېږي. ختیځ هم ورته مفکوره اخیستې او ډله ییزه مشري یې منلې ده. ډله ییزه مشري له واقعیت سره په بشپړه توګه مخالفه ده او له جوړجاړي او انعطاف پرته بل څه نه دي. په لودیځ کې اروپایي پاچاهانو بې ساري ظلم او استبداد ته مخه کړه او د دوی دا کړنلاره د دوی پر وړاندې د خلکو د تاوتریخوالي لامل شوه. خلکو د ظلم پر وړاندې د پاڅون لامل هغه بې ساري ظلم وباله چې پاچا د یو وګړي په توګه تر سره کاوه. نو خلکو د وګړو د مشرۍ مساله د فردي مشرۍ په ځای مطرح کړه. د دې لپاره یې د وزیرانو شورا (د دولت کابینه) تاسیس کړه. دا په واقعیت کې یو جوړجاړی او انعطاف دی. ځکه

چې د وزيرانو شورا نه د خلکو استازي دي او نه هم د خلکو اراده تمثيلوي. پر دې سربېره لومړی وزير هغه څوک دی چې د وزيرانو شورا د مشرۍ مسوليت په غاړه لري او په دې ترتيب مشري بيا هم وګړيزه کېږي. په دې ترتيب مشري نه وګړيزه ده او نه په خلکو پورې تړاو لري؛ بلکې واقعي مشري د وزيرانو شورا او لومړي وزير په لاس کې ده. نو پر دې اساس ياد سيستم يو واقعي سيستم نه دی، بلکې د دواړو لورو ترمنځ جوړجاړی او انعطاف دی. ځکه د مشرۍ مساله نه ده حل شوې او يوازې د شخړې دوو لورو ته يې تر يوه ځايه قناعت ورکړی. اصلي مساله چې فردي مشري وه، بيا هم فردي پاتې شوه. فردي مشري داسې څه دي چې په ټولو ديموکراتيکو نظامونو کې شته. مشري يا ولسمشر پر غاړه اخلي او يا يې هم لومړی وزير په عملي توګه تمثيلوي. نو پر دې اساس مشري يوازې او يوازې فردي (وګړيزه) ده او په هېڅ صورت ممکنه چې ډله ييزه وي. که څه هم چې په هره ډله ييزه بڼه عنوان شي، بيا هم وګړيزه ده. ځکه د حکومتوالۍ او مشرۍ مسير، ټولنه په طبيعي بڼه د وګړو په لاس کې ساتي او هېڅکله ډله ييزه نشي کېدای.

لويديځ حاکميت خلکو ته ورکړ، خلکو په تقنين (قانون جوړونه) لاس پورې کړ او حکومت يې مخ ته وړه. خلک خپله اراده او واک د دولت له لارې تمثيلوي. دا مفکوره په بشپړه توګه له واقعيت سره مخالفت لري او له جوړجاړي او انعطاف پرته زيات څه نه دي. په اروپا کې دا پاچاهان وو چې د مطلق واک څښتنانان وو او د تصميم نيونې حق يې درلوده. هغوی قوانين پلي کول او خپله تر قانون لوړ وو. د اروپا خلکو د دوی پر وړاندې پاڅون وکړ او پاچا يې د داسې وګړي په توګه وباله چې په تصميم نيونه او د قانون په پلي کولو کې مطلق حق نه لري. خلکو د پاچا په بدل کې وويل چې حاکميت د خلکو دی او خلک د حکومتوالۍ او قانون جوړونې حق لري. دوی په دې ډګر کې داسې وکړل چې د قانون جوړونې مسوليت يې شورا ته وسپاره خلک يې انتخابوي او د هغه اجرايي مسوليت يې حکومت، لومړي وزير او د دولت رييس ته وسپاره. دا طرحه په واقعيت کې جوړجاړی او منځنی حل دی. ځکه که څه هم خلک د پارلمان غړي انتخابوي، خو پارلمان تقنين نه کوي، بلکې حاکم هغه څوک دی چې قوانين

مطرح کوي او حکومتوالي کابینه او لومړی وزیر مخ ته وړي. که څه هم چې د دولت رییس خلک انتخابوي، خو دا انتخاب په دې معنی نه دی چې خلک حکومتوالي کوي، بلکې حکومتوالي د کابینې او لومړي وزیر دنده ده او د خلکو مساله دلته یوازې او یوازې د حاکم ټاکنه ده. له بل لوري دوی داسې ادعا وکړه چې حاکمیت د قانون دی او ښه حکومتوالي یې داسې عنوان کړه چې په هغه کې د قانون حاکمیت وي. په دې ترتیب حاکمیت له خلکو سلب شو او قانون ته وسپارل شو. نو په بشپړه توګه په ډاګه ګېږي چې خلک یوازې د دولت رییس او د پارلمان غړي انتخابوي او بس. په دیموکراتیکو نظامونو کې نه خلک په حکومتوالۍ اقدام کوي او نه هم حاکمیت د خلکو دی. پورتنۍ مفکورې په واقعیت کې له انعطاف او جوړجاړي پرته زیات څه نه دي.

لویدیځ د حکومتوالۍ مساله د مذهب او په ځانګړې توګه د اخلاقي او احساساتي چارو له مسالې جلا کړه. د لودیځوالو د لیدلوري پر اساس د کلیسا واک او صلاحیت د دولت له واک او صلاحیت سره توپیر لري. په همدې بڼه احساساتي چارې لکه خیریه چارې، د بېوزلو وګړو ساتنه، له ټپیانو، فقیرانو او بېوزلو سره مرسته د دولتدارۍ له چارو سره توپیر لري او دولت په یادو چارو پورې هېڅ تړاو نه لري. دا لیدلوری د کایناتو، ژوند او انسان په اړه د لودیځ د ټولیز لیدلوري یعنې له دولت (ژوند) څخه د جدایۍ پر اساس منځته راغلی.

دلیل یې دا دی چې اروپایي ظالمو او مستبدو پاچایانو د کلیسا واک په لاس کې درلود او بېوزلو، غریبو، ناروغو، ټپیانو او کمزوریو خلکو ته یې هېڅ پاملرنه نه درلوده. دا مساله د خلکو له لوري د غبرګون لامل شوه او د دواړو لورو ترمنځ د جوړجاړي او انعطاف د ایجاد لامل شوه. پایله یې دا وه چې کلیسا له دولته جلا شوه. تر دې جدایۍ وروسته خیریه او د دولتدارۍ چارې هم یو له بله جلا شوې. په دې توګه د کلیسا کاري ډګر د دولت له کاري ډګره بېل شو. همدا راز پورتنۍ تجربه د ځینو سازمانونو لکه سره میاشت او نورو د ایجاد لامل شوه چې خیریه چارې یې په لاس کې واخیستې. خو له هغه ځایه چې د حکومتوالۍ واقعیت د خلکو د چارو تنظیم دی او خیریه چارې د

ديني چارو يوه برخه تشکيلوي دولت په زور کليسا ارزيابي کوي او څاري، خو په پټه. په دې ترتيب ياده طرحه له جوړجاړي او انعطاف پرته زيات څه نه دي چې د واقعيت خلاف دي.

پورتنۍ درې مفکورې د بېلګې په توګه بيان شوې چې د غرب په سياسي افکارو، علومو او مضامينو کې تېروتنه واضح شي. دا سياسي علوم د نظامونو او د هغوی له جوړښت سره په تړاو په ډاګه شول. ورته مساله د پېښنو او حادثو په سياسي مطالعاتو هم د پلي کېدو وړ ده. که څه هم دا ډول سياسي مطالعات داسې حقايق بيانوي چې فريب نه دی، خو ځينې واقعيتونه او څرګندونې پکې ليدل کېږي چې چې له فريب او دوکې ډکې دي. د بېلګې په توګه بريتانيا پاليسي په درېيو اساسي اصلونو ولاړه ده: د بريتانيا او امريکا ترمنځ اړيکې، د اروپا او بريتانيا ترمنځ اړيکې او د بريتانيا او مخکنيو مستعمرو ترمنځ چې او اوس ازادې دي اړيکې.دا مساله سمه ده، ځکه هغه په واقعيت کې د حقې وينا تفصيل دی. خو هر وخت چې دوی د دوستۍ او يا يووالي د جلب او يا د دښمنۍ د څرګندولو او يا د خلکو په اړه ليدلوري لپاره د ځينو پېښنو په جريان کې د بريتانيا تګلاره بيانوي؛ نه يوازې دا چې دوکه وي، بلکې له تېروتنو ډکه وي. په دې مساله کې د نړۍ د ټولو هېوادونو د لوديځ او ختيځ په اړه د دوی څرګندونې شاملېږي. برابره ده چې په تاريخي مسايلو کې وي او يا هم په روانو. بې له شکه دوی د حقايقو په جعلي کارۍ او دوکه کې لازم مهارتونه لري او حتی لامل کېږي چې د دوی اصلي تګلاره د ځينو باخبرو او پوهو کسانو له سترګو پټه پاتې شي. نو پر دې اساس په سياسي علومو او مضامينو کې هر ډول مطالعه په هره بڼه چې کېږي اغېزمنه نه ده تر هغې چې په پوره هوښيارۍ او مراقبت ونشي.

خو په روانو پېښنو کې سياسي تفکير، داسې څه دی چې سياسي ارزښت لري او لازموي چې په ټوله پاملرنه د هغه په اړه تفکير وشي او همدا ډول تفکير سياسي تفکير دی چې انسان په واقعي توګه سياستوال کوي. دا ډول تفکير په ترکيبي بڼه لاندې پنځه توکونه غواړي:

لومړی: د نړۍ روانو پېښنو څارنه يعنې د خبرونو تعقيب. ځکه خبري رپوټونه د دوی

د اهمیت پر اساس ډېر توپیر لري او ډول ډول دي او په خبرونو کې ځینې څیزونه په شعوري بڼه او ځینې هم په تصادفي بڼه څرګندېږي. حتی ممکنه ده چې د معلوماتو په اندازه او دقت کې هم توپیر لري. خو د وخت په تېرېدو او د خبرونو د تعقیب په زیات تمرین انسان دا مهارت په طبیعي بڼه لاس ته راوړلی شي چې لازم خبرونه وڅاري نه ټول.

دویم: د خبر یا پېښې په اړه د معلوماتو شتوالی. که څه هم دا معلومات لنډ هم وي، کېدای شي دا معلومات جغرافیایي، تاریخي، فکري او یا هم سیاسي وي. له دې معلوماتو څخه موخه د پېښې په ماهیت او طبیعت پوهېدنه ده.

درېیم: پېښې باید د دوی له سیاق څخه جلا مطالعه نشي. په ورته وخت کې خبري پېښو ته عمومیت ور کړل شي. په دې معنی چې هر خبر باید د هغه حالاتو او شرایطو په اړانه کې چې پېښ شوی، مطالعه شي. بې له شکه چې له سیاق نه د خبر جلا کول، په ورته پېښو د هغه شمولي قیاس، هغه ته عمومیت ورکول او له اساسي تېروتنو نه هغه ته کلیت (ټولیز والی) ورکول د خبري پېښو پوهاوی ګنګل کېږي. تر دې ور هاخوا خبري پېښې په هغه ځای کې چې پېښې شوې، باید همهلته محدودې شي او باید داسې ونشي چې د هغه د پېښېدو له ځای بهر مطالعه شي او د نورو ورته ټکو د پرتلې په پایله کې شمولي قیاس وشي. یاده پېښه باید د یوې بېلې پېښې په توګه او په خپله وګړي پورې منحصره او د ټاکلو شرایطو او سیاق په درلودلو اخذ شي او پر هغه قضاوت وشي.

څلورم: خبري پېښه باید په بشپړه توګه تر تدقیق، مراقبت او ارزونې لاندې ونیول شي. نو لازمه ده چې سیاستوال د یوې خبري پېښې د سرچینې، وخت، ځای او د پېښېدو د حالت په اړه کره معلومات تر لاسه کړي. سربېره پر دې لازمه ده چې د پېښې د پېښدو قصد او د هغه تر شا نغښتې موخه په خبر کې د دقت په وسیله څرګنده شي. دا چاره تر هغې ممکنه نه ده ترڅو چې خبر تر تدقیق لاندې ونه نیول شي او صحت او بطلان یې معلوم نشي. په ورته وخت کې دا تدقیق او ارزونه باید ژوره او جامع وي چې د خبري پېښو اورېدونکی یا تعقیبوونکی له تېروتنې سره مخ نه کړي. نو پر دې اساس د خبري

پېښنو ارزونه او تدقیق یو حتمي او لازمي توک دی.
پنځم: خبري پېښې باید له ځینو نورو معلوماتو سره وتړل شي، په ځانګړې توګه له نورو خبري پېښنو سره. همدا تړاو دی چې لامل کېږي چې په سمې پایلې ته ورسېږي. خو که خبر د نړیوال سیاست په اړه وي، اما له محلي سیاست سره یې اړیکه تامین شي، یا خبر د اقتصاد په اړه وي، خو له ټولنیزو مسایلو سره تړاو پیدا کړي، یا خبر د المان په اړه وي، خو د امریکا په اړه له خبر سره وصل شي؛ دا سم نه دي. ځکه که د خبري پېښنو ترمنځ تړاو دا ډول تامین شي، له شک پرته چې په تحلیل کې د تېروتنې سره مخ کېږي. نو لازمه ده چې خبر په سمه او دقیقه طریقه له نورو خبرونو سره تړاو پیدا کړي او د دې ارتباط موخه یوازې د پوهې تر لاسه کول نه دي، بلکې د فهم او عمل پر بنسټ کېږي.
د دې پنځه ګونو چارو ته لاره هوارول د سیاسي تفکیر لپاره حتمي دي. ونه ویل شي چې یادې چارې ګڼې او ستونزمنې دي او لاره هوارول ورته ډېر سخت دي. ځکه د دې چارو شتوالی ستونزمن نه دی، له شتوالي نه موخه یوازې له پورتنیو چارو سره اشنایي ده، نه ټولیزه او جامع پېژندنه. دا هغه څه دي چې د وخت په تېرېدو تر لاسه کېږي، نه یو په یو او د تعقیب له لارې تر لاسه کېږي نه د څېړنې او علمي بحثونو له لارې. دا سمه ده چې څېړنه او علمي بحثونه د وړتیا په ایجاد کې زیاته مرسته کوي، خو هغه په سیاسي تفکیر او د سیاسي توب لپاره حتمي او لازمي نه دي. نو هغه بشپړوونکې او دویمي چارې دي. په هر حال څارنه او پلټنه تر ټولو مهم اصل دی چې که تر لاسه شي، څلور نور څیزونه په طبیعي ډول ایجادېږي. نو په سیاسي تفکیر کې اصل هماغه څارنه ده او که هغه پیدا شوه سیاسي تفکیر په طبیعي ډول منځته راځي.
نو پر دې د اساس د سیاسي تفکیر - د ستونزمن توب او عالیتوب سره سره- تر لاسه کول د هر انسان لپاره شونی دي. د یو چا فکري ځواک هر څومره چې وي او پوهه یې په هره کچه چې وي، سیاسي تفکیر کولی شي. یعنې عادي شخص او نابغه او ممتاز شخص هر یو سیاسي تفکیر کولی شي او هر یو سیاسي کېدلی شي. ځکه سیاسي تفکیر د عقل او معرفت ټاکلې درجه نه غواړي، د روانو پېښنو او خبرونو څارنه او پلټنه غواړي او که چېرې دا څارنه منځته راشي، سیاسي تفکیر پیدا کېږي. خو سمه نه ده

چې دا څارنه جلا جلا وي، بلکه اړینه ده چې پیوسته وشي. رواني پېښې یو له بل سره تړلې زنځیر جوړوي، که یوه حلقه ترې ورکه شي زنځیر ټوټې کېږي. په دې حال کې د وګړي له توانه بهر کېږي چې خبرونو ته یو له بل سره تړاو ورکړي او پرې پوه شي. نو پر دې اساس په سیاسي تفکیر کې زنځیر د زنځیر په توګه پاتې کېدل یوه اړینه چاره ده، یعنې په سیاسي تفکیر کې پیوسته او تړلې پلټنه او څارنه یو اساسي شرط ګڼل کېږي.
سیاسي تفکیر په وګړو پورې ځانګړی نه دی، بلکې هماغه ډول چې په وګړو کې موجود دی، په ډلو او ملتونو کې هم شته دی. نو هغه د ادبي یا تشریعي تفکیر په څېر نه دی چې یوازې د وګړو له لوري وشي. ځکه ادبي او تشریعي تفکیرونه دواړه وګړیز دي، خو سیاسي تفکیر هم وګړیز تفکیر دی هم ډله ییز. یعنې په همغه بڼه چې سیاسي تفکیر په وګړو لکه حکامو او سیاستوالو کې شته دی؛ په ډلو، ټبرونو او ملتونو کې هم شته دی. د سیاسي تفکیر شته والی یوازې په وګړو کې بسنه کې نه کوي او واجبه ده چې په ټبرونو او ملتونو کې هم منځته راشي. په ټبرونو او ملتونو کې د تفکیر له شته والي پرته صالح حکومت منځته نه راځي او نهضت او ویښتیا ممکنه نه ده. د نړۍ ټبرونه او ملتونه به له سیاسي تفکیر پرته په دې دنیا کې خپل ماموریت تر سره نشي کړای او خپل پیغام به نور بشریت ته ونشي رسولی. له دې ځایه دی چې په امت کې د سیاسي تفکیر شتوالی له حیاتي اهمیته برخمن کېږي، ځکه حکومت د خلکو دی، واک د امت دی. هېڅ ځواک هغه نشي سلبولی، مګر کله یې چې خلک او ملت ور وبښي. خو که واک او دولت له امته په زور او ځواک غصب شي، په دې صورت کې به واک د لږ مهال لپاره دوام ومومي او امت یا په واک کې قید کېږي او غاړه ایږدي او یا دا چې د هغه پر وړاندې تاوتریخوالي یا پاڅون ته مخه کوي. نو که واک د امت وي، دې امت ته اړینه ده چې سیاسي تفکیر ورسره وي. نو پر دې اساس سیاسي تفکیر تر حکامو وړاندې د امت لپاره اړین دی او زیات د حکومت د اصلاح لپاره لازم دی د هغه تر تاسیسه. نو ډېر اړین دی چې امت په سیاسي ثقافت تثقیف شي او سیاسي تفکیر پیدا کړي. یعنې اړینه ده چې امت سیاسي معلومات او خبرونه ولري او د سیاسي خبرونو د اورېدو فرصت ورته برابر شي. خو د امت لپاره د سیاسي تفکیر د ایجاد هڅه

باید په طبیعي بڼه وي نه په تصنعي او په سم سیاسي ثقافت ورکولو او رښتیا خبرونو وي چې د سیاسي لار ورکې لامل نشي. نو پر دې اساس سیاست او سیاسي تفکیر د امت د خوځښت او ژوند لامل کېږي. په دې معنی چې امت د سیاسي تفکیر په وسیله د خپل ژوند چارې په دقیقه بڼه مخ ته وړي او له هغه پرته به داسې جسد وي چې نه حرکت کوي او نه هم ژوند. خو د سیاست په پوهاوي کې غلطي او لارورکي یوازې له هغه لوري څرګندېږي چې په سیاسي متونو کې د فکري، تشریعي او یا هم ادبي متونو مطابق تفکیر وشي. د بېلګې په توګه، د ادبي متونو د اغېزې په پایله کې،ممکنه ده چې وګړی په سیاسي تفکیر کې یوازې په الفاظو او عبارتونو کې ولوېږي او یا د تشریعي متونو د اغېزې په پایله کې، ممکنه ده چې وګړی په سیاسي تفکیر کې یوازې په مدلولاتو کې ولوېږي او یا هم د فکري متونو د اغېزې په پایله کې ممکنه ده چې وګړی په سیاسي تفکیر کې یوازې په معناوو، افکارو او مفاهیمو کې ولوېږي. په داسې حال کې چې په سیاسي متونو کې په تفکیر کې پورتني ټول موارد شاملېږي. دا ټول په سیاسي تفکیر کې د غلطۍ د څرګندېدو اساسي لاملونه دي؛ ځکه په سیاسي متونو کې تفکیر په بل هر متن کې له تفکیر سره په شدت توپیر لري. په سیاسي تفکیر کې خطر د سیاسي او نورو متونو له نه توپیر نه منځته راځي. نو که د سیاسي متن موخه درک نشي، هغه څه چې د متن متضمن وي او یا له هغه بهر وي هېڅ ډول د متن له احوالو نه ګڼل کېږي. هغه وخت ده چې د سیاسي متن په تفکیر کې تېروتنه پېښېږي.

له شک پرته په سیاسي تفکیر کې یوه خورا خطرناکه چاره تجرید، تعمیم او په هغه کې له شمولي قیاس ګټه اخیستنه ده. ځکه سیاسي متن په هېڅ حالت کې له خپلو ظروفو او اوضاع نه جلا کېږي، هغه یې د سیاق او حالاتو جز دی. په هېڅ وجه سم نه دی چې تعمیم وشي او یا په سیاسي تفکیر له شمولي قیاس نه ګټه واخیستل شي او حتی حقیقي قیاس هم روا نه دی. سربېره پر دې چې د خبري پېښې د پېښېدو حالات او شرایط د سیاسي متن یوه برخه ګڼل کېږي، خپله متن هم مشخصې پېښې ته اشاره کوي. نو یوازې د همغه پېښې لپاره اخیستل کېږي او په بله پېښه کې نه شاملېږي او په ورته نورو پېښو له اره نه قیاس کېږي، که حقیقي وي که شمولي.نو تجرید، تعمیم او

قیاس په سیاسي تفکیر کې په مطلق ډول د غلطۍ او لارورکۍ خطر منځته راوړي. ځکه په سیاسي تفکیر کې د تجرید، تعمیم او قیاس نه د ګټې اخیستنې په صورت کې، ممکنه ده چې د یوه چارواکي دوې څرګندونې، ورته څیز فهم شي، حال دا چې دواړې څرګندونې په جلا بڼه دوه بېلې موخې ولري، که څه هم چې دا څرګندونې ورته هم وي. همدا راز شونې ده چې د یوه چاراواکي څرګندونې حقیقي پیغام ولري، خو څرګندونې یې د مجازي پیغام په توګه واخیستل شي. همدا راز ممکنه ده چې د یوه چارواکي څرګندونې د واقعیت خلاف او د لارورکۍ لپاره په ډاګه شي چې واقعیت پټ شي، خو د ده څرګندونې د حقیقي پیغام په توګه واخیستل شي. همدارنګه ممکنه ده چې یو چاروکی د خپلو څرګندونو مطابق عمل وکړي او ځینې وخت ممکنه ده چې د هغه خلاف عمل وکړي. نو پر دې اساس حالات، شرایط او د خبري پېښې د پېښېدو سیاق دی چې پر توضیح او تصریح روښنایي اچوي او د پېښې په پوهاوي کې مرسته کوي. په دې ترتیب د سیاسي تفکیر حق او صواب ته نژدې کېدل د هغه د سیاق په پام کې نیولو پرته او ترڅو چې پېښه د مجردې پېښې په توګه د پېښېدو د حالاتو له قیاس او تجرید پرته مطالعه نشي، ممکن نه دي.
اسلامي امت د نامناسب تفکیر له امله د شدیدو ضربو او ټکانونو شاهد دی. د بېلګې په توګه په نولسمه پېړۍ کې چې کله اروپا په عثماني خلافت برید وکړ، اروپا زیات په سیاسي جنبه تمرکز درلود، خو عثمانیانو په نظامي جنبه زیات تمرکز درلود. حال دا چې نظامي جنبه د سیاسي دریځ د ملاتړ لپاره کارول کېږي. اروپا که غوره ووایو غرب په هغه مهال کې د بالکان په نوم ستونزه منځته راوړه. دا داسې ستونزه وه چې لودیځو دولتونو د خپلو بیانونو او تبلیغاتو په وسیله رامنځته کړه او په دې خاور کې د ازادۍ او نشنلېزم شعارونه پورته شول؛ خو د دوی اساسي موخه له عثماني دولت نه د دې خاورې بېلول وو. د بالکان د قضیې موخه په لومړي قدم کې په عثماني قلمرو کې د پرېشانۍ او ناارامۍ جوړول وو. د بالکان د خاورې اوسېدونکو د نشنلېستي او خپلواکۍ غوښتنې مفکورو نه په ګټې اخیستنې د عثماني دولت پر وړاندې تاوتریخوالی او پاڅون وکړ. عثماني دولت یې په مقابل کې نظامي عملیات پیل کړل

او په ورته وخت کې يې د نورو دولتونو حالت هم په پام نيولی و او د هغوی د راضي کولو لپاره يې هڅه کوله. حال دا چې همدا دولتونه وو چې په اسلامي خاورو کې يې د تاوتريخوالو او پاڅونونو ملاتړ کاوه او همدوی وو چې عثمانيانو ته يې دوکه ورکړه او د پاڅونونو پر وړاندې يې په مبارزه بوخت کړل. که څه هم دا يوه سياسي دوکه وه او لازمه وه چې عثمانيانو يې پر وړاندې په سياسي اقداماتو مبارزه کړې وای؛ خو د ناسم سياسي تفکير په پايله کې يې پر بې وخته نظامي اقدام لاس پورې کړ. په دې ترتيب د عثماني دولت د غلطۍ او په سياسي تفکير کې د لارورکۍ په پايله کې بالکان له لاسه ووت. تر بالکان ورهاخوا، هغه مفکورې چې له عثماني دولته د يادو خارو د جدايۍ لامل شوې، ورسته يې په عثمانيانو کې دومره رېښې وغځولې چې په پايله کې د عثماني دولت د بشپړ نړېدو لامل شو.

د عثماني دولت دا دريځ د شوروي اتحاد له دريځ سره بشپړ توپير لري. کله چې شوروي اتحاد د اروپا په ختيځ کې د پنځوسمې زېږديزې لسيزې په اوږدو کې له عثمانيانو سره د ورته ستونزې سره مخ شو. کله چې امريکا له کمونېزم څخه د اروپا د ختيځو خاورو د ازادۍ شعار ورکړ، امريکا د دې موخې دتر لاسه کولو لپاره د دوی پټ او ښکاره ملاتړ پيل کړ. خو شوروي اتحاد عثمانيانو ته ورته دريځ ونه نيو، بلکې شوروي پوهېده چې خپلواکۍ غوښتنې مفکورې ته لمن وهل يې گټې گواښي، نو امريکا د دښمن په توگه ونيوه او په سياسي جنبه يې تکيه وکړه او له نظامي ځواک نه يې د خپل سياسي دريځ د ملاتړ لپاره گټه واخيسته. لکه څنگه چې يو وخت په پولنډ کې انقلاب وشو، شوروي هغه په نطفه کې خنثی کړ. کله چې په بلغاريا کې انقلاب پيل شو، له ذرې رحم پرته وځپل شو. همدارنگه د خپل نفوذ لومړۍ کرښه يې په ختيځه اروپا کې پياوړې کړه. دا چاره د امريکا د نفوذ د ساتنې او د ختيځې اروپا هېوادنو د خپلواکۍ د هڅونې په برخه کې د ناکامۍ سبب شوه. امريکا په پايله کې اړ شوه چې د کمونېزم پر وړاندې د مستقيمې جگړې مفکوره پرېږدي او د همکارۍ په تړونونو کې له شوروي سره معامله وکړي. يعنې دا چې شوروي وتوانېد چې له مناسب سياسي تفکير نه په گټې اخيستنې امريکا له مخامخ جگړې نه سوله ييز ژوند ته اړ کړي.

بله بېلګه امریکا ده، کله چې امریکا احساس کړه چې اسراییل یې ورو ورو له لاسه وځي او بریتانیا هڅه کوي چې خپل نفوذ او واک په بشپړه بڼه په اسراییلو کې وساتي؛ امریکا دا موضوع د شپېتمې لسیزې په وروستیو کې احساس کړه او د فلسطین ستونزه یې د منځني ختیځ سیمې د ستونزې په توګه ونومولو. امریکا په سیاسي کړنو لاس پورې کړ چې خپله په تنهایۍ پر ستونزه غالبه شي او هڅه یې وکړه چې د سولې له کلمې نه په ګټې اخیستنې د فلسطین قضیه نوره هم پېچلې کړي. دې دوکې ته یې دومره دوام ورکړ چې دواړو ډلې یعنې یهود او عرب د امریکا غوښتنې ته غاړه کېښوده او راضي شول. امریکا په دې مسیر کې له داسې اسلوبونو کار واخیست چې د یهودو او عربو انرژي یې په بشپړه توګه استهلاک کړه او هغوی یې بې کچې ستړي او خسته کړل. امریکا د دې بریو په لاس ته راوړلو قضیه حل نه کړه. خو قضیه یې امریکا ته د مزاحمت له حالته (هغه څه چې امریکا یې د جګړې حالت بولي) د ارامۍ او د امریکا د ګټو او نفوذ مطابق حالت ته (هغه څه چې امریکا یې د سولې حالت ګڼي) بدله کړه. امریکا په دې ترتیب وتوانېده چې په تنهایۍ د اسراییلو دولت د ملاتړ په وسیله خپل نفوذ په سیمه کې وساتي او د بریتانیا پښې په بشپړ ډول بهر کړي. په دې ترتیب د منځني ختیځ قضیه د ماهیت او طبیعت له نظره په بشپړ ډول د بالکان له قضیې سره مشابه ده. یعنې هماغه ډول چې عثمانیان د لودیځ د دوکې په جال کې ولوېدل، عرب او یهود هم د دوی د فرېب په جال کې ولوېدل. په ورته ترتیب که اسلامي امت نن د باخبره سیاسي تفکیر په وسیله د فلسطین قضیه حل نه کړي (لکه روسیې چې د ختیځې اروپا قضیه درک کړه)، برخلیک به یې د بالکان د خاورو په څېر وي.

نو دا غلط سیاسي تفکیر دی چې تېرونه او ملتونه له منځه وړي او دولتونه نړوي او یا یې کمزوري کوي او کمزوری سیاسي تفکیر چې د ملتونو او د استعمار له قیده د دوی د ازادۍ ترمنځ د خنډ په توګه واقع کېږي او د دې ملتونو د پرمختګ پر وړاندې د لوی مانع په توګه څرګندېږي. نو پر دې اساس په سیاسي متونو کې تفکیر حیاتي اهمیت لري او پایلې یې ډېرې نازکې (خطرناکې او تبا کوونکې) او یا هم ډېرې عالي کېدی شي. له دې ځایه ده چې باید سیاسي تفکیر ته جدي پاملرنه وشي، داسې پاملرنه چې

هر تفکير ته تر اړينې پاملرنې لوړه وي. ځکه هغه ملتونو ته د ژوند په اندازه اړينه وي. سياسي تفکير که څه هم خورا سخت او عالی تفکير دی، خو کافي نه ده چې يوازې د تفکير خاوندان سياسي وي. ځکه وګړي په يوازېتوب هر څومره چې شي او تفکير يې چې په هره لوړه کچه سالم او ځواکمن وي، بيا به هم ارزښت ونه لري. ځکه که يو ځل په امت کې د سياسي تفکير په اړه لاروړکي بنستي شوه، نور د هغه پر وړاندې د وګړو هيڅ ځواک او عبقريت ګټه نه لري او هغه وخت سياسي تفکير کې عبقريان هر څومره چې وي او هر څومره يې چې د تفکير ځواک لوړ وي؛ بيا به هم رول ونه لري. دليل يې دا دی چې د سياسي تفکير تباهي يو سېلاب را ولاړوي چې هر څه له منځ وړي او امت د خپلو دښمنانو د فرېب په دام کې بندېږي او دا وګړي د دې زيانونو نه د ژغورلو لپاره هيڅ کار نشي کولی. د شلمې زېږديزې پېړۍ په لومړيو کې د اسلامي دولت په نړېدو او د خلافت په له منځه وړو کې د مصطفی کمال برې او د جمال عبدالناصر برې د اوسنۍ پېړۍ په پنځوسمه او شپېتمه لسيزه کې د عربو د ازادۍ پر وړاندې د خنډ کېدو ژوندۍ بېلګې دي. که غلط سياسي تفکير پر ملتونو او ټبرونو حاکم شو او هغوی ته يې لوری ورکړ، په دې صورت کې د وګړو پوهه او عبقريت -چې د سالم او سم سياسي تفکير خاوندان دي- هيڅ ګټه به ونه لري، تر هغه چې د وګړو په توګه پاتې شي، ولو که د دوی شمېر زرګونو ته هم ورسېږي.

بې ځايه نه ده چې وويل شي که له وګړو سره سياسي تفکير ايجاد شو او په مستقيمه لاره مخ ته ولاړل، دا امکان ورته ميسر کېږي چې سياسي تفکير ايجاد کړي او د دښمنانانو پر وړاندې ودرېږي او فرېب يې افشا کړي. خو دا چاره يوازې هغه مهال د لاسرسي وړ ده چې سياسي تفکير له وګړو نه امت انتقال ومومي او که امت د سياسي تفکير خاوند شو، په دې صورت کې وګړي په طبيعي بڼه د دا ډول تفکير خاوندان کېږي. نو لازمه ده چې غوره توب د امت سياسي والي ته ورکړل شي نه د وګړو؛ ځکه په دې حالت کې به وګړي د امت د اساسي اجزاوو په توګه راڅرګند شي نه د خالصو وګړو په توګه. که امت د سياسي تفکير خاوند شو، په دې صورت کې امت متفکر امت دی او سياسي تفکير له انفرادي حالت نه جمعي حالت ته بدلېږي. خو که دا کار ونشي

یعنې سیاسي تفکیر امت ته انتقال ونه مومي او همداسې د وګړیز بهیر په توګه پاتې شي، په دې صورت کې د دې خطر شته چې د سیاسي تفکیر زیات خاوندان به وي خو ذره ارزښت به نه لري. ځکه وګړي په هره اندازه چې پیاوړي وي، بیا هم په تنهایۍ د امت له ملاتړ پرته د خپلو دښمنانو او د هغوی د دسیسو او فریب پر وړاندې مقاومت نشي کولی او دا یوازې امت دی چې په ډله ییزه بڼه د سیاسي تفکیر خاوند کېږي او او له هغه څخه په ګټې اخیستنې د خپلو دښمنانو پر وړاندې درېدلی او مقاومت ښودلی شي.

نوښتګر او پوه وګړي د عادي خلکو په څېر دي او د نورو خلکو په څېر ورته کتل کېږي او په انسانیت کې یې له عادي انسان سره هېڅ توپیر نه کېږي. یعنې د خلکو له لوري هېڅ امتیاز نه ورکول کېږي، برابره ده چې پوهه او نوښت یې په سترګو لیدل کېږي که نه. یا لمس او احساس کېږي که نه. نو دا ډول وګړي کله یې چې پوهه، عبقریت او نوښت په حرکت راشي افکار تولیدوي، ممکنه ده چې په لومړیو کې دوی ته هېڅ امتیاز ورنه کړل شي او په لاسته راوړنو کې یې هېڅ لوړوالي او عبقریت درک نشي. ممکنه ده د دوی په څېر زیات وګړي نور هم وي. که د ذکاوت پر اساس وي ممکنه ده چې ډېر نور ذکي کسان هم وي. یا ممکنه ده چې هغه وګړي ځانګړې پاملرنه ورته وکړي چې غواړي د دوی درجه تر لاسه کړي. یاد وګړي له خپل نوښت، عبقریت او پوهې نه د شخصي موخو د پوره کولو لپاره کار اخلي. که دا وګړي په خپل همدې وګړیز حالت کې پاتې شي او خپل سیاسي تفکیر ډلو، ټبرونو او امت ته انتقال نه کړي؛ که میلیونونه وګړي هم وي، بیا به هم هېڅ ارزښت ونه لري. نو پر دې اساس د دې لپاره چې سیاسي تفکیر مناسبه پایله او ګټه ولري، لازمه ده چې له وګړو نه امت او ډلو ته انتقال شي. ځکه امت او ډلې په سیاسي تفکیر د خپلو دښمنانو پر وړاندې مقاومت کولی شي او د انحطاط له حالته د ویښتیا او نهضت حالت ته لوړېدای شي. یعنې سیاسي تفکیر باید له وګړیز حالته ډله ییز حالت ته انتقال وکړي او له وګړیز حمل نه په ډله ییز حمل بدل شي او له وګړپالنې، وګړ محورۍ او انزوا نه په (ټولپالنې)، جمع محورۍ او ډله ییز حرکت وکړي. په دې ترتیب به د نهضت او ویښتیا زړي وکرل شي

چې د یوې پیاوړې ونې د ودې لامل کېږي.
دا دی گټور سیاسي تفکیر. بې له شکه هغه هغه ډله ییز سیاسي تفکیر دی نه وگړیز. یعنې هغه د خلکو او ملت تفکیر دی، نه د وگړو تفکیر. نو واجبه ده چې امت په سیاسي ثقافت تثقیف شي او واجبه ده چې امت ته په سیاسي تفکیر زده کړه او تمرین ورکړل شي چې سیاسي تفکیر د ملت تفکیر وي نه د وگړو.
دا دی سیاسي تفکیر او دا په سیاسي علومو او بحثونو تفکیر دی او په سیاسي پېښو تفکیر دی. خو د افکارو له پېژندنې پرته په سیاسي علومو او مضامینو تفکیر ارزښت نه لري او گټه نه رسوي. مگر سیاسي واقعي تفکیر هغه دی چې له انسان سره د عمل په ډگر کې مرسته وکړي او په ژوند کې اساسي اغېزه او گټه ولري. نو که په سیاسي علومو، بحثونو او مضامینو کې سیاسي تفکیر جایز وي او په هغه کې نسبي گټه د وگړو لپاره یعنې د سیاستپوهانو لپاره شته وي، نو له شک پرته چې په روانو پېښو کې تفکیر پر امت فرض کفایي دی او لازمه ده چې په امت کې یې د ایجاد لپاره کار وشي، په ځانگړې توگه پر هغه کسانو چې دا ډول تفکیر لري، که لوستي او یا هم نا لوستي.

# وروستۍ وینا

دا و د هغه څه نچوړ چې د تفکير په اړه اسلامي امت ته وړاندې شول چې امت يو ځل بيا تفکير ته مخه کړي. ځکه نږدې لس پېړۍ کېږي چې اسلامي امت له تفکيره واټن نيولی دی. که څه هم په ځلونو يې د تفکير هڅه کړې ده. نو پر دې اساس دا کتاب به ان شاء الله له امت سره مرسته وکړي چې له تفکير نه په مناسبې ګټې اخيستنې دويم ځل د بشر لپاره د ځمکې پر مخ د غوره امت په توګه څرګند شي او د نړۍ مشري به په لاس کې واخلي.
اسلامي امت په څلورمه هجري پېړۍ کې د ځينو علماوو په لاس د تفکير د دربېدو ضربې وزغملې. ځکه دې علماوو تفکير او اجتهاد د اسلام او مسلمانانو لپاره لوی خطر وباله او د هغه د بندېدو غوښتنه يې وکړه. له دې علماوو نه يو مشهور يې القفال نومېده. دوی د اجتهاد او تفکير د بندېدو لپاره هڅه کوله او پای کې وتوانېدل چې د اجتهاد دروازه بنده کړي. له بل لوري په دې وخت کې د مسلمانانو عامه افکار د اسلامي خاورو په مختلفو برخو کې داسې وو چې له اجتهاده يې نفرت کاوه او له تقليد سره يې مينه درلوده. په دې ترتيب وروسته هېڅ د اجتهاد او تفکير جرات نه درلود. دې حالت خلک په خالص تقليد عادت کړل او هغوی يې له تفکير، استنباط او اجتهاد نه منع کړل او له هغه ځايه چې انسان فطرتاً تنبل دی او راحت طلب دی، د اجتهاد د دروازې بندېدلو ته يې ډېرو هرکلی ووايه. په دې بنه نږدې لس پېړۍ کېږي چې اسلامي امت د تفکير او اجتهاد دروازه د خپلو زامنو پر مخ تړلې ده او هغه امت په بدن کې د تفکير د روح ګرځېدل چې لس پېړۍ له هغه نه لرې دی، ساده کار نه دی. ډېره سخته ده چې امت يو ځل بيا د فکر او مفکرينو ارزښت او د ويښتيا او نهضت په بهير کې د هغوی اهميت درک کړي. په همدې دليل دی چې که څه هم د دې کتاب په څېر زرګونه کتابونه شته دي، خو هېڅکله نه دي توانېدلي چې امت په ټول ځواک نهضت او ويښتيا ته چمتو کړي. خو هغه ترخې پېښې چې په معاصرو ورځو کې په

امت راغلې، اسلامي امت ته يې شديدې ضربې او ټکانونه ورکړل. دې ترخو او ټکان ورکونکو پېښو چې د امت پر بدن يې ژور ټپونه جوړ کړل، سبب شول چې امت نسبتاً ويښ کړي او له فکر سره د علاقمندۍ هيله په امت کې پيدا کړي.له بل لوري د ډېرو د ډلو او وګړو موجوديت د دې ډلو په اډانه کې چې له تفکير سره علاقه لري، خپل ژوند د فکر پر اساس مخ ته وړي او له تفکير او په تفکير کې له ډوبېدو پرته هېڅ ارمان نه لري، د هيلو يوه بله کړکۍ ده چې ان شاء الله لامل کېږي چې دا وګړي چې په تفکير مجهز شوي، له امت سره په تعامل کې شي چې په پايله کې د وخت د پېښو له اغېزمنتيانه د تفکير په لور تمايل پيدا کړي دی. په دې صورت کې په امت کې تفکير له انفرادي حالت نه په ډله ييز حالت بدلېږي. امت يوازې په دې صورت کې يو ځل بيا د يو مفکر او له انحطاطه د راوتي امت په توګه د ځمکې پر مخ د غوره امت په توګه راښکاره کېدای شي.

**پای**

که ستاسې په لاس کې رساله کومه تېروتنه لري او یا هم غواړئ چې د رسالې د ښه والي لپاره خپل نظر له موږ سره شریک کړئ، هیله ده په لاندې ایمېلونو یې له موږ سره شریک کړئ.

www.hizb-afghanistan.org editorial@hizb-afghanistan.com


د امت فېروني

کابل افغانستان